د افغانستان بانک




# کلنی راپور سالانه ۱۳۹۵

د افغانستان بانک




# کلنی
# راپور
# سالانه
# ۱۳۹۵

**د افغانستان بانک کلنی راپور**

د اسناد او اړیکو آمریت

د خپرونو او اړیکو معاونیت

د خپرونو مدیریت

ژباړه: عین الله عیان

ایدیټ: ایمل هاشور

ډیزاین: خالد احمد فیضي

عکس: زیرک ملیا

د سمون چارې: حمیدالله فیضي

پته: د افغانستان بانک، ابن سینا واټ، کابل – افغانستان

info@dab.gov.af
0093 0202104761
Da Afghanistan Bank-Youtube
Da Afghanistan Bank-Google+
www.facebook.com/AFGCentralbank
twitter.com/AFGCentralbank

Web: www.dab.gov.af

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی



خلیل صدیق

د افغانستان بانک لوی رئیس



واحد الله نوشیر

د افغانستان بانک لومړی مرستیال



محمد قسیم رحیمي

د افغانستان بانک دویم مرستیال

## د مطالبو لړلیک


**د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام ........ الف**

**۱- نړیوال اقتصادي وضعیت........ ۱**

- پرمختللې اقتصادونه........ ۱
- راغوړېدلي او د پرمختګ په حال کې اقتصادونه........ ۲
- لږ عاید لرونکي هېوادونه........ ۴

**۲- د هېواد اقتصادي وضعیت او د پولي سیاست کړنې........ ۹**

- د حقیقي سکتور بدلونونه........ ۹
- اقتصادي وده........ ۹
- پولي انفلاسیون........ ۹
- بهرني سکتور........ ۱۰
- د پولي سکتور بدلونونه........ ۱۱
- نقدینګي........ ۱۱
- د افغانۍ د مبادلې نرخ او د خالصه اسعاري زېرمو کچه........ ۱۲
- د اسعارو او د پانګه ایزو پاڼو لیلام........ ۱۲

**۳- د بانکي نظام د وضعیت او کړنو څرنګوالی........ ۱۷**

- ټولیزه شتمنی........ ۱۸
- ټولیزه پورونه........ ۲۰
- ټولیزه امانتونه........ ۲۴
- ټولیزه پانګه........ ۲۵
- ګټه........ ۲۵
- سیالیت........ ۲۶
- د اسعارو پرانیستی وضعیت........ ۲۷

**۴- د اداینو سیستم........ ۳۱**

- عملیاتي برخه........ ۳۱
- د څېړنې او پراختیا برخه........ ۳۲

**۵- د بازار عملیات........ ۳۷**

- ریزرف شتمنی........ ۳۷
- لیټراف کریډټونه........ ۳۷
- د بیه لرونکو پاڼو لیلام........ ۳۸
- د شپې د امانتونو اسانتیاوې........ ۳۸
- د اسعارو لیلام........ ۳۹

**۶- د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت........ ۴۳**

- د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت مدیریت........ ۴۳
- د عامه اعتبارونو د ثبت مدیریت (Public Credit Registry)........ ۴۵

**۷- د افغان امانتونو د بیمې اداره** ۴۹
- د افغان امانتونو د بیمې د ادارې غړي سوداګریز بانکونه ۴۹
- د افغان امانتونو د بیمې ادارې پولي سرچینې ۴۹
- له غړو بانکونو څخه د حق البیمې د وضع کولو طریقه ۵۰
- د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د راټولې شوې حق البیمې کچه ۵۰

**۸- د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز** ۵۵
- د راپور ورکوونکو ادارو د لویو نغدي معاملو راپور ۵۵
- د الکترونیکي پیسو د اداره د لویو نغدي معاملو راپور ۵۶
- د پولي خدمتونو (حوالې) وړاندې کوونکي ۵۶
- د پیسو، اسعارو او د معاملې وړ بی نومه سندونو د لېږدونو کنټرول او راپور ورکونه ۵۷
- د غوښتنې پر بنسټ خپرونې ۵۷
- په اتومات ډول خپرونې ۵۸
- نړیواله همکاری ۶۰
- د تایوان د مالي استخباراتو له ادارې سره د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک کول ۶۰
- د قوانینو د رعایتولو او پیروۍ په موخه تنفیذي اقدامات ۶۰
- د فعالیت د جواز فسخ کول ۶۱
- د نغدي جریمو وضع کول ۶۱
- د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د بندیزونو تطبیقول ۶۲

**۹- بودجه او مالي صورت حساب** ۶۷
- عایداتي شقوق ۶۷
- لګښتي شقوق ۶۸
- د نورو عوایدو صورت حساب ۷۰
- د ګټې او زیان صورت حساب ۷۱
- د پانګې د بدلون صورت حساب ۷۲
- دنقدي جریانونو صورت حساب ۷۳
- د مالي وضعیت صورت حساب ۷۵

**۱۰- د بانکي عملیاتو لوی آمریت** ۷۹
- عملیاتي او خزانه داري ۷۹

**۱۱- اداره او پراختیا** ۸۳
- د ټولو ناظر اداره ۸۳
- د اسنادو او اړیکو آمریت ۸۳
- د حقوقي مشاوریت دفتر ۸۵
- د بشري منابع لوی آمریت ۸۶
- د مالي نظام د ټینګښت پروژې ۸۷
- د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت ۹۱
- د مالي خطرونو د ادارې لوی آمریت ۹۳

**د ګرافونو لړلیک**


۱ ګراف: په ۱۳۹۵ مالي کال کې د نړۍ د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ........................... ۱
۲ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د پرمختللو اقتصادونو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ............ ۱
۳ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د راغوړیدلو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ .......... ۳
۴ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په ترڅ کې د لږ عاید لرونکو هېوادونو وده.......................................... ۴
۵ ګراف: د (۲۰۰۳-۲۰۱۶) کلونه د کورنی ناخالصه تولیداتو وده............................................ ۹
۶ ګراف: د پولي انفلاسیون کلنی نرخ د ۱۳۹۳ کب – ۱۳۹۵ کب..................................................... ۱۰
۷ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې د سوداګرۍ بیلانس............................ ۱۱
۸ ګراف: د پولي خدمتونو وړاندې کونکي او صرافي............................................................. ۱۸
۹ ګراف: له ۱۳۸۶ څخه د ۱۳۹۵ کال تر لیندۍ پورې د بانکي نظام د ټولنیزه شتمنیو د پوراینو او پانګې بهیر............ ۱۹
۱۰ ګراف: د ۱۳۸۶-۱۳۹۵ کاله پورې د بانکي نظام په ټولنیزه شتنمیو کې د بانکي ګروپونو ونډه ............ ۱۹
۱۱ ګراف: د بانکي نظام د ټولنیزه شتمنیو وده......................................................................... ۲۰
۱۲ ګراف: د بانکي نظام د ټولنیزه پورونو وده.......................................................................... ۲۰
۱۳ ګراف: د ناخالصه صعب الحصول پورونو او د حصول وړ پورونو پرتله ..................................... ۲۲
۱۴ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه امانتونو بهیر.......................................................................... ۲۴
۱۵ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو وده ....................................................................... ۲۵
۱۶ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه پانګه.................................................................................... ۲۵
۱۷ ګراف: د بانکي نظام د ګروپونو ټولیزه ګټه او زیان ............................................................ ۲۶
۱۸ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د وارده او صادره معاملو شمېر..................................... ۳۱
۱۹ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د بانکونو تر منځ د اداینې د سیستم له لارې د افغانی او اسعاري معاملو شمېر ............ ۳۲
۲۰ ګراف: په ۱۳۹۵ مالي کال کې د نماینده ګیو ترمنځ د اداینې د سیستم له لارې د افغانی او اسعاري معاملو شمیر ............ ۳۲
۲۱ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په ترڅ کې د چکونو د تسویې او تصفیې د معاملو شمېر.......................... ۳۲
۲۲ ګراف: په ۱۳۹۵ مالي کال کې د بیه لرونکو پاڼو لیلام (ارقام په میلیون افغانی) .......................... ۳۸
۲۳ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال ټولیزه وړ کړل شوې ټکټانه ............................................................ ۳۸
۲۴ ګراف: په ۱۳۹۵ مالي کال کې د بیه لرونکو پاڼو د ټکټاڼې نرخ بهیر.......................................... ۳۸

۲۵ ګراف: د هغه منقولو اموالو ارزښت چې په مقابل کې یې بانکونو پور ورکړی دی ........................ ۴۴
۲۶ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په ترڅ کې د غړو بانکونو له حسابونو څخه ټولیزه وضع شوې حق البیمه ................ ۵۱
۲۷ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په ترڅ کې راټوله شوې حق البیمه ........................................ ۵۱
۲۸ ګراف: د هغه لویو نغدي معاملې راپور چې د ۱۳۹۵ کال په اوږدو کې د الترونیکي پیسو د ادارو لخوا وړاندې شوي دي ........... ۵۶
۲۹ ګراف: د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو لخوا د لویو نغدي معاملو د راپورونو د شمېر میاشتنی تفکیک ........... ۵۷
۳۰ ګراف: د افغانستان په نړیوالو هوایي ډګرونو کې د اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو کنټرول ................ ۵۷
۳۱ ګراف: د لویې څارنوالی او د قانون د پلي کوونکو ادارو څخه تر لاسه شوې غوښتنې ........................ ۵۸
۳۲ ګراف: د خطر د شاخصونو پر بنسټ د څېړنیزو راپورونو څېړول ........................................ ۵۸
۳۳ ګراف: په اتومات ډول د شکمنو معاملو د راپور څېړول ........................................ ۶۰
۳۴ ګراف: د افغانستان پر بانکي مؤسسو وضع شوي جریمې ........................................ ۶۱
۳۵ ګراف: په افغانۍ ټولیزه وضع شوې جریمې ........................................ ۶۲
۳۶ ګراف: د پولي خدمتونو پر وړاندې کوونکو باندې په افغانۍ وضع شوي جریمې ........................ ۶۲
۳۷ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د تصویب شوي او حقیقي بودجې سلنه ................ ۶۷
۳۸ ګراف: د عوایدو شقوق ........................................ ۶۸
۳۹ ګراف: په ۱۳۹۵ مالي کال کې د بودجې لګښتي شقوق ........................................ ۶۸
۴۰ ګراف: د اثاثیې، تجهیزاتو او تعمیراتي پراختیایي لګښتونه ........................................ ۶۹

**د جدولونو لړلیک**

۱ جدول: د مالي او پانګه ایزو حسابونو بیلانس........۱۱
۲ جدول: د جاري حساب بیلانس........۱۱
۳ جدول: د افغانی د مبادلې نرخ او د خالصه اسعارو زیرمو کچه........۱۲
۴ جدول: د اسعارو او پانګه ایزو پاڼو لیلام........۱۲
۵ جدول: پانګه ایزې پاڼې........۱۳
۶ جدول: په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او د بانکي نظام نورې شته اسانتیاوې........۱۸
۷ جدول: د بانکې شتمنیو ټولیزه د سلنې له مخې........۱۹
۸ جدول: د بانکي نظام د ټولیزه پورونو ډله بندي........۲۱
۹ جدول: د ۱۳۹۵ کال په ترڅ کې کوچني پورونه د یو بانک او متوسط پورونه د پنځو بانکونو لخوا ورکړل شوي دي........۲۲
۱۰ جدول: د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ له مخې د بانکي نظام د ناخالصه پورونو تفکیک........۲۲
۱۱جدول: په ولایتونو کې (له جغرافیایی پلوه) د پورونو وېش........۲۲
۱۲ جدول: د ۱۳۹۵ کال لیندۍ میاشت کې د سکتوري پورونو وېش........۲۳
۱۳ جدول: د مسفا د شریکانو عمومي جزئیات........۲۴
۱۴ جدول: د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ میاشتې په پای کې د ټولیزه امانتونو ترکیب........۲۵
۱۵ جدول: د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ میاشتې له مخې د کارکوونکو پوروړو، امانت اېښودونکو د شمېر احصائیه........۲۷
۱۶ جدول: د خبرتیاوو شمېر، ارزښت او پلټنې........۴۳
۱۷ جدول: د هر سکتور د ارزښت جزئیات........۴۴
۱۸ جدول: د منقولو اموالو د تضميناتو د ثبت په سیستم کې د پلټنو او د ثبت شویو خبرتیاوو د شمېر جزئیات........۴۴
۱۹ جدول: د سکتور پر بنسټ فعالې او تړلې ثبت شوې خبرتیاوې........۴۵
۲۰ جدول: د بانکونو، اشخاصو او شرکتونو ثبت شوي قراردادونه........۴۵
۲۱ جدول: د پور ورکولو د کوچني مالي مؤسسو، اشخاص او شرکتونو ثبت شوي قراردادونه........۴۶
۲۲جدول: د بانکونو د فیس او جریمو عواید........۴۶
۲۳ جدول: د کوچنیو مالي مؤسسو د فیس او جریمو عواید........۴۶
۲۴ جدول: د افغان امانانتونو د بیمې د اداري غړي سوداګریز بانکونه........۴۹

۲۵ جدول: د افغان امانتونو د بیمې اداري پولي سرچینې......۵۰
۲۶ جدول: په ۱۳۹۴ مالي کال کې له غړو بانکونو څخه د حق البیمې د راټولولو لړۍ......۵۰
۲۷ جدول: د غړو بانکونو له حسابونو څخه د سلنې پر بنسټ د حق البیمې وضع کول......۵۰
۲۸ جدول: د ۱۳۹۵ مالي کال په ترځ کې د غړو بانکونو له حسابونو څخه ټولیزه وضع شوې حق البیمه......۵۱
۲۹ جدول: د لویو نغدي معاملو راپورونه چې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د بانکي مؤسسو لخوا وړاندې شوي دي......۵۵
۳۰ جدول: د پیسو، اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو د لیږدونو کنټرول او راپور ورکونه......۵۷
۳۱ جدول: قانون پلي کوونکو ادارو داخلی غوښتنلیکونه......۵۸
۳۲ جدول: لویې څارنوالۍ او عدلی او قضایی ادارو ته سپارل شوې قضیه......۵۹
۳۳ جدول: د مالي استخباراتو د ادارې نوم......۶۰
۳۴ جدول: د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو او بانکي مؤسسو ته د خبر دارۍ صادرول......۶۱
۳۵ جدول: د فعالیت د جواز فسخ کول......۶۱
۳۶ جدول: د نغدي جریمو وضع کول......۶۱
۳۷ جدول: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې انتقالي معاملې......۷۹
۳۸ جدول: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې نغدي معاملې......۸۰

# د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام

د افغانستان بانک د عالي شورا او عامل پلاوي په استازیتوب خوښ یم چې د دې بانک د ۱۳۹۵ مالي کال د کړنو او لاسته راوړنو لنډ راپور چې د پولي سیاست، بانکي نظام، بازار عملیات، ادائینز سیستم او د بانک نورې کړنې رانغاړي، وړاندې کوم.

د پولي سیاست په برخه کې، د ۱۳۹۵ مالي کال په څلورمه ربعه کې د پولي پړسوب نرخ لوړېدونکی بهیر درلوده چې په منځنۍ ډول ۵.۶۵ سلنه ثبت شوی دی. د پړسوب نرخ د زیاتیدو لاملونه ډېر دي، خو تر ټولو مهم لامل یې د ایران او پاکستان له هېوادونو څخه د کډوالو راستنیدل ګڼل کیږي.

د پولي زیرمو(Reserve money) وده د ۱۳۹۵ مالي کال لپاره ۱۰ سلنه ټاکل شوې وه. د افغانستان بانک توانیدلی دی چې ټاکل شوی هدف په لږ نوسان سره په بریالي توګه ترلاسه کړي. د پولي زېرمو حقیقي کچه د ۱۳۹۵ مالي کال د څلورمې ربعې په پای کې ۲۵۲.۰۷۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. همدا ډول په ګردښت کې پیسې د څلورمې ربعې په پای کې ۲۲۳.۸۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټاکل شوې کچې په پرتله ۱.۴۵ میلیارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۵ مالي کال د څلورمې ربعې په پای کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ ۶۶.۸۴ افغانۍ ته رسیدلی، چې شاوخوا ۱.۸۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۵ مالي کال د څلورمې ربعې په پای کې د هېواد د خالصه اسعاري زېرمو کچه ۶،۸۲۴.۶۹ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې ده چې د تیرې ورته دورې په پرتله شاوخوا ۶.۲۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د افغانستان بانکي نظام د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ښې لاسته راوړنې درلودلي دي. د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ د ۱۳۹۵ مالي کال په لینډۍ میاشت کې ۲۹۸.۹۷ میلیارده افغانۍ ثبت شوې ده چې د تېر مالي کال (۱۳۹۴ لینډۍ) د ۲۷۰.۶۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۰.۴۵ سلنه وده ښکاره کوي. امانتونه چې په بانکونو کې د تمویل بنسټیزه سرچینه ګڼل کیږي، د ۱۳۹۵ مالي کال په لینډۍ میاشت کې ۲۵۴.۹۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۷.۵۷ سنله وده په ګوته کوي. د هېواد بانکي نظام د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۴.۲۹ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه کړې ده چې په تیره ورته دوره (۲۰۱۵– ۱۳۹۴) کې یې ۵۲۲ میلیون افغانۍ خالصه ګټه کړې وه؛ او په پایله کې له شتمنیو د ترلاسه شوې ګټې نسبت د ۱۳۹۴ مالي کال د لینډۍ د ۰.۲۰ سلنې په پرتله په دې دوره (۱۳۹۵ لینډۍ) کې ۱.۵۵ سلنې ته زیاتوالی موندلی دی. د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د افغان امانتونو د بیمې، د عامه اعتبارونو د ثبت، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز، د ټولو ناظر، خپرونو او اړیکو، حقوقي مشاوریت، اداري، قانون او مقررو، د ظرفیتونو د لوړولو او داسې نورو برخو کې ښې لاسته راوړنې تجربه کړې چې د چارو د ښه والي په برخه کې د افغانستان بانک د کارکوونکو هڅې او کوښښونه د ستایلو وړ دي او د افغانستان بانک موخو ته د رسېدو په برخه کې او په ورسپارل شویو دندو کې د دوی د لا بریالیتوبونو هیله کوم.

**خلیل صدیق**


**د افغانستان بانک لوی رئیس**

# نړيوال اقتصادي وضعيت

# نړیوال اقتصادي وضعیت

د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ، په ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) کې د نړۍ کلنۍ اقتصادي وده راکمه شوې او په اټکلیزه توګه ۲.۳ سلنې ته رسیدلې ده چې له نړیوال مالي کړکیچ وروسته د فعالیت تر ټولو ټیټه کچه ښکاره کوي. حال دا چې په ۱۳۹۴ مالي کال (۲۰۱۵) کې د نړۍ کلنۍ اقتصادي وده ۲.۷ سلنه ثبت شوې وه. تمه کیږي چې په راتلونکي کال کې د نړۍ اقتصادي وده ۲.۷ سلنې ته ورسیږي. د پانګونو د کچې ټیټوالی، په نړیواله سوداګرۍ کې رکود او د پالیسیو په برخه کې د نا ډاډمنتیا زیاتوالی هغه مهم لاملونه دي چې په نړیوال اقتصاد باندې یې منفي اغېزې پرېښودلي دي.

**۱ ګراف: په ۱۳۹۵ مالي کال کې د نړۍ د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ**





سرچینه: نړیوال بانک

**۱. پرمختللي اقتصادونه**

د نړۍ پرمختللو اقتصادونو د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) په اوږدو کې کمزوره وده او ټیټ انفلاسیون تجربه کړی دی چې اصلي لاملونه یې پر پالیسیو د نا ډاډمنتیا زیاتوالی، د پانګونو متوسطه کچه او د تولیدي بهیر د ودې کمزورتیا ګڼل کیږي. له همدې امله د پرمختللو اقتصادونو کلنۍ وده د ۱۳۹۴ مالي کال له ۲.۱ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې په اټکلیزه توګه ۱.۶ سلنې ته راټیټه شوې ده، خو تمه کیږي چې اقتصادي کړنې په راتلونکي مالي کال کې زیاتې شي. همدا ډول د امریکې د متحده ایالاتو د نوي دولت پر پالیسیو باندې نا ډاډمنتیا او له اروپایي ټولنې (بریکسټ) څخه د بریتانیې د جلا کیدو پریکړه د دې هېوادونو پر اقتصادي ودې باندې د پام وړ اغیزې پرېښودلای شي.

**۲ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) په اوږدو کې د پرمختللو اقتصادونو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ**




**سرچینه: نړیوال بانک**

د امریکې د متحده ایالاتو د اقتصادي ودې نرخ د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) په اوږدو کې د پام وړ کموالی درلوده او د ۱۳۹۴ مالي کال له ۲.۶ سلنې څخه په اټکلیزه توګه ۱.۶ سلنې ته کموالی ښکاره کوي چې د دې کموالي عمده لاملونه د صادراتو د کچې کمښت، د ګدامونو په زېرمو کې دوامداره کموالی او د خصوصي پانګه اچونو کمښت په ګوته شوي دي. د ۲۰۱۶ زیږدیز کال په نوامبر میاشت کې د امریکې د متحده ایالاتو له ټولټاکنو مخکې، د دې هېواد اقتصادي کړنې بیرته

زیاتې شوي او د کاري ځواک د ګمارنې کچې ښه والی موندلی چې له امله یې لږ څه اجورې زیاتې شوي دي. دا کار د دې لامل شو، څو د تصرف وړ حقیقي عاید لوړ شي او په پایله کې د بې وزلۍ د کچې په کمولو کې ګټور واقع شي.

د اروپایي ټولنې د ودې نرخ د ۱۳۹۴ مالي کال له ۲ سلنې څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱.۶ سلنې ته راټیټ شوی دی چې عمده لامل یې د کورنۍ تقاضا او د صادراتو کموالی په ګوته شوی دی. د ۲۰۱۶ زیږدیز کال د جون په میاشت کې د اروپایي ټولنې د لرې کېدو لپاره د بریتانیې له رایې وروسته، په اروپایي ټولنې (سیمې) باندې د خلکو باور بې ثباته دی، تمه کېږي چې په راتلونکي کال کې له اروپایي ټولنې څخه د بریتانیې د وتلو د رایې له امله رامنځ ته شوې ناډاډمنتیا، د بریتانیې اقتصادي کړنې او تر یوه بریده د اروپایي ټولنې اقتصادي کړنې راکمې کړي. د نفتي موادو بیې چې د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړیو کې راکمې شوې وې، بیرته زیاتې شوي او د ۱۳۹۳-۱۳۹۴ مالي کلونو په پرتله یې حقیقي عاید او د لګښتونو وده راکمه کړې ده. په ۱۳۹۵ مالي کال کې په اروپایي ټولنه کې د پور ورکړې شرایط او د کار بازار ښه شوی او د کار موندنې کچه له کړکیچ څخه مخکې کچې ته رسیدلې ده. د بیکارۍ نرخ په دې سیمه کې کموالی موندلی، خو د اروپایي سیمې په هېوادونو کې د بیکارۍ نرخ توپیر لري. د اروپا د مرکزي بانک لخوا د ټکټانې نرخ د منفي پالیسی په مرسته په پراخه کچه د شتمنیو د پیرلو له امله د پور اخیستنې لګښتونو د پام وړ کموالی موندلی دی او په ټولیزه توګه یې د پور ورکړې پر بهیر باندې مثبته اغېزه کړې ده.

د جاپان اقتصاد په ۲۰۱۶ کال کې د ملي حسابونو له نوي کېدو او د شمېرو د خپرولو وروسته په اټکلیزه توګه ۱ سلنه وده موندلې ده. د دې هېواد د پانګونې او صادراتو کچه په ټولیزه توګه کمزوره ده، حال دا چې د تېرو دوو کلونو په اوږدو کې په خصوصي لګښت کې له انقباض وروسته په هغه کې د ښه والي نښې تر سترګو شوي دي. په همدې کال کې د معاشونو په وده کې لږ څه زیاتوالی شتون درلوده چې لامل یې په کاري ځواک کې کموالی په ګوته شوی دی. له هغه ځایه چې د جاپان صادرات ډېری د هغو هېوادونو په اسعارو چې ورته صادرات کوي، ترسره کیږي، خو دا کار په ۲۰۱۶ زیږدیز کال کې د ګټې او پانګونې د کموالي لامل شوی دی. ویل کیږي چې د ۲۰۱۶ کال په پای کې به د جاپان ین په چټکه توګه خپل ارزښت له لاسه ورکړي.


**۲. راغوړېدلي او د پرمختګ په حال کې اقتصادونه**

راغوړېدلي او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې په اټکلیزه توګه ۳.۴ سلنه وده کړې ده. د دې هېوادونو وضعیت د راتلونکي کال لپاره ښه اټکل شوی او تمه کیږي چې د دې هېوادونو اقتصادي وده ۴.۲ سلنې ته ورسیږي. په ۱۳۹۵ مالي کال کې دې اقتصادونو په کورنۍ تقاضا کې لږه وده تجربه کړې چې د نړیوالې سوداګرۍ د کموالي منفي اغیزې یې خنثی کړي دي. په ټولیزه توګه د تمویل شرایط د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ښه شوي ؤ، خو د همدې کال په پای کې یې انقباضي حالت غوره کړ چې په پایله کې یې د امریکایي ډالرو ارزښت زیات او له نړیواله بیه لرونکو پاڼو څخه د ترلاسه شوې ګټې د زیاتیدو لامل شوی دی.

د چین اقتصادي وده په ۲۰۱۶ زیږدیز کال کې ۶.۷ سلنه اټکل شوې ده خو تر لاسه شوې وده په ټولیزه توګه د خدمتونو په سکتور پورې اړه لري، حال دا چې تولیدي سکتور په معتدله توګه پاتې دی. همدا ډول د کورني لګښت وده پیاوړې او د پانګونې وده په معتدله کچه کې واقع ده. د پانګونې د ودې کموالی په ټولیزه توګه خصوصي سکتور پورې اړه لري، خو په ۱۳۹۵ مالي کال کې په غیر خصوصي سکتور کې پانګونې زیاتوالی ښکاره کوي.

د وړاندې وینو پر بنسټ، د چین اقتصادي وده به په ۱۳۹۶ مالي کال کې متعدله شي او نرخ به یې ۶.۵ سلنې ته ورسیږي.

**۳ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د راغوړېدلو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ**




سرچینه: نړیوال بانک

د نړیوالې سوداګرۍ او د توکو د بیو کموالي، د راغوړېدلو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو د صادروونکو لپاره ننګوونکي شرایط رامنځ ته کړي دي. د دې هېوادونو اقتصادي وده په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۰.۳ سلنه اټکل شوې ده. د دې هېوادونو اقتصادي وده په ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) کې په کورنۍ تقاضا کې د نسبي ثبات له امله ښه شوې، حال دا چې د دې هېوادونو اقتصادي ودې په ۱۳۹۴ مالي کال کې کموالی تجربه کړی دی. په دې دوره کې برازیل او روسیې په خصوصي لګښت کې کموالی تجربه کړی دی. د پانګې اچونې کچه په ځانګړې توګه په برازیل، کلمبیا او روسیې کې راښکته شوې، حال دا چې د پانګونې کچه په ختیځې آسیا او ارام اقیانوس، ختیځې اروپا، مرکزي آسیا، لاتینې امریکې او کرابین کې د توکو په نورو صادروونکو هېوادونو کې زیاتوالی موندلی دی. سره له دې چې د برازیل او روسیې تولیدات د راغوړېدلو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو د اړوندو توکو د صادروونکو هېوادونو د تولیداتو دوه پر پنځمه برخه جوړوي، دې دوو هېوادونو د وروستیو دوو مالي کلونو په اوږدو کې (۱۳۹۳ او ۱۳۹۴) اقتصادي کړکیچ تجربه کړی دی.

د تیلو ځینې صادروونکي هېوادونه لکه آذربایجان، انګولا، قزاقستان او نایجریا چې د سخت مدیریت شوي مبادلې نرخ درلودونکي دي، د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ کلونو په اوږدو کې په خپلو زیرمو کې له پام وړ کموالي وروسته یې زمینه برابره کړه، څو په دې هېوادونو کې د مبادلې نرخ زیاتوالي ومومي. د اقتصادي کړنو له مناسبې کچې سره سره، اذربایجان، انګولا، نایجریا، موزمبیک او منګولیا خپلې پالیسۍ انقباضي کړې چې عمده لاملونه یې د اداینو بیلانس لخوا رامنځ ته شوي فشارونه، د ملي پیسو د ارزښت کموالی او د انفلاسیون لوړ نرخونه په ګوته شوي دي.

د ۱۳۹۵ مالي کال لپاره د راغوړېدلو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو د توکو د واردوونکو هېوادونو اقتصادي وده ۵.۶ سلنه اټکل شوې ده. له چین پرته د توکو د واردوونکو هېوادونو اقتصادي وده چې د راغوړېدلو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو د تولیداتو دریمه برخه تولیدوي، په ۱۳۹۵ مالي کال کې په اټکلیزه توګه ۴.۳ سلنه راښکته شوې ده چې د دې هېوادونو د اقتصادي ودې د کموالي اصلي لامل د هند د اقتصادي ودې د چټکتیا کموالی په ګوته شوی دی.

د راغوړیدلو او پرمختګ په حال کې اقتصادونو د توکو واردوونکي هېوادونه له سوداګریز وضعیت او د لوی اقتصاد اغېزناکې پالیسۍ څخه ګټې اخیستنې ته دوام ورکوي. کرویشیا، تایلنډ، تونس او فلیپین د انفلاسیون د نرخ او د انرژۍ د لګښتونو د کموالي د شرایطو په کارونې سره وکړای شول چې د لوی اقتصاد انبساطي پالیسۍ ته دوام ورکړي. تایلنډ د اعتماد له ښه

والي، فلیپین په عامه پروژو کې د پانګونې د تطبیق له زیاتوالي او پاکستان او بنګله دیش له پولي بهر په اقتصادي بیخبنسټونو کې له پراخې پانګونې څخه ګټه ترلاسه کړې ده.

د راغوړېدلو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو د توکو په وارداوونکو هېوادونو کې د کورنۍ تقاضا کچه لوړه شوې ده. په ډېرو دې هېوادونو په تېره بیا په ختیځې اروپا او سویلي آسیا کې خصوصي لګښت زیاتوالی ښکاره کوي، حال دا چې په پورته ډېرو هېوادونو کې په ځانګړي توګه په ختیځې اروپا (کرویشیا، رومانیا او سربیا)، ختیځې آسیا هېوادونه او ارام اقیانوس (کمبودیا او فلیپین) او سویلي آسیا (پاکستان) کې پانګونو د بیا لپاره وده موندلې ده. په سترو بازارونو کې د تقاضا د کموالي له امله، د ډېرو هغو هېوادونو صادرات چې د راغوړېدلو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو څخه توکي واردوي، راکم شوي دي چې په دې ډله کې د جرمني سوداګریز شریکان چې غوره اقتصادي کړنې یې درلودلې، شامل نه دي. کمبودیا، هندوستان او د خدمتونو عمده صادروونکي هېوادونه لکه کرویشیا، لبنان، فلیپین، سریلانکا او تایلنډ چې ښه رقابتي بازارونه په واک کې لري، د همدې هېوادونو له ډلې څخه ګڼل کیږي.

**۳. لږ عاید لرونکي هېوادونه**

د لږ عاید لرونکو هېوادونو اقتصادي وده کمزوره ده او په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۴.۷ سلنه اټکل شوې ده. د دې هېوادونو د تولید د کموالي ستر لاملونه د توکو د بیو ټیټوالی، د اوبو او هوا نامناسب وضعیت او سیاسي ستونزې او نا امنۍ په ګوته شوي دي. د لږ عاید لرونکو هېوادونو د توکو صادروونکو هېوادونو اقتصادي وده د تېرو کلونو په پرتله راټیټه شوې، حال دا چې د توکو د وارداوونکو هېوادونو په اقتصادي وده کې کوم بدلون راغلی نه دی. د لږ عاید لرونکو هېوادونو د ودې په لاره کې تر ټولو مهم خنډونه د اوبو او هوا نامناسبه شرایط په تېره بیا د وچکالۍ زیاتیدل او همدا ډول د سیاسي او امنیتي شرایطو خرابیدل په ګوته شوي دي.

**۴ ګراف: په ۱۳۹۵ مالي کال کې د لږ عاید لرونکو هېوادونو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ**




سرچینه: نړیوال بانک

د یادولو وړ ده چې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د لږ عاید لرونکو هېوادونو د انفلاسیون کچه ثابته پاتې ده، حال دا چې د توکو په وارداوونکو هېوادونو کې د انفلاسیون نرخ لږ څه کموالی درلودلی دی. د لږ عاید لرونکو هېوادونو اړوند د فلزونو په صادروونکو هېوادونو کې د انفلاسیون نرخ د وچکالۍ او د دې هېوادونو د پیسو د ارزښت د راکمېدو له امله د خوراکي توکو د بیو د لوړېدو په پایله کې زیاتوالی موندلی دی. په ورته وخت کې، د لږ عاید لرونکو هېوادونو اړوند د نفتو په صادروونکو هېوادونو کې د انفلاسیون نرخ په ټیټه کچه کې پاتې دی چې په کورنۍ تقاضا کې د کموالي ښکارندوي کوي.

د لږ عاید لرونکو هېوادونو د بهرني جاري حساب د بیلانس کسر د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې راکم شوی، په داسې حال کې چې مخکې دا کسر زیات ؤ. په بهرني جاري بیلانس کې د کسر کموالی په ټولیزه توګه د لږ عاید لرونکو هېوادونو په وارداتو کې د کموالي ښکارندوي کوي او برعکس د لږ عاید لرونکو

هېوادونو اړوند د تیلو په صادرووونکو هېوادونو کې کسر زیاتوالی موندلی دی. د لږ عاید لرونکو هېوادونو اړوند د توکو په واردوونکو هېوادونو کې د جاري حساب کسر لږ څه راکم شوی دی. په ۱۳۹۵ (۲۰۱۶) مالي کال کې، د جاري حساب د کسر کموالي چې اصلي لامل یې د لږ عاید لرونکو هېوادونو ترمنځ د پانګې د جریان کموالی دی، په دې هېوادونو کې د توکو له صادرونکو هېواونو پرته د مبادلې په نرخ او نړیوالو زیرمو باندې فشار وارد کړی دی. د دې ډلې هېوادونو د پیسو ارزښت د امریکایي ډالرو پر وړاندې راکم شوی چې دا کموالی د تیر مالي کال په پرتله لږ دی.

د امریکایي ډالرو پر وړاندې د موزمبیک او کانګو د ملي پیسو ارزښت د پام وړ راکم شوی، حال دا چې د لږ عاید لرونکو هېوادونو اړوند د توکو د واردوونکو هېوادونو لکه؛ روانډا او اوګاندا لږ څه کموالی ښکاره کوي، له همدې امله د تیلو ټیټې بیې په جاري حساب باندې مثبتې اغیزې درلودلې دي. د هغو میاشتو په اوږدو کې چې په کې توکي او خدمتونه واردیدل، د کوموروس، بوروندي او موزمبیک نړیواله زېرمو تر ۳۰ سلنه پورې کموالی موندلی دی.

اخځلیک:

د نړیوال بانک ډلې د Flagship راپور، "نړیوالې اقتصادي هیلې"، د ۲۰۱۷ کال جنوري.

# د هېواد اقتصادي وضعیت او د پولي سیاست کړنې

# د هېواد اقتصادي وضعیت او د پولي سیاست کړنې

## د حقیقي سکتور بدلونونه

**اقتصادي وده:**

د افغانستان اقتصاد له یوې کمزوره دورې وروسته لېږ څه ښه والی موندلی او د هېواد اقتصادي وده په ۱۳۹۵ مالي کال کې۳.۶ سلنې ته رسیدلې ده. په تیر مالي کال کې د افغانستان د اقتصادي کړنو ښه والی ډېری د کرنې او خدمتونو په سکتورونو پورې اړه لري، حال دا چې د صنعت د سکتور وده په دې دوره کې د تیر کال په پرتله کمه ده. د افغانستان دولت په ۱۳۹۵ مالي کال کې د خصوصي برخې لپاره د اعتماد فضاء د برابرولو په موخه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې بې دربغه هلې ځلې کړې دي، خو دا هلې ځلې په ټولیزه توګه د امنیتي شرایط تر اغیزې لاندې راغلي دي. د کرنې په برخه کې، مناسبې اوبه او هوا او په کافي اندازه بارانونه د ارزونې لاندې موده کې د دې سکتور د ودې بنسټیز لاملونه ګڼل کیږي. په بېلابېلو برخو کې د دولت د بنسټیزو پروګرامونو په پام کې نیولو سره، تمه کیږي چې د هېواد اقتصادي وده په روان مالي کال کې قناعت لرونکې وي.


که څه هم په ۱۳۹۵ مالي کال کې د افغانستان د اقتصادي ودې اصلي لامل د نشه یي توکو د تولیداتو زیاتوالی دی، خو بیا هم کورني ناخالصه تولیدات له نشه یي توکو پرته له ۳.۶ سلنې ۲.۱ سلنې ته راکم شوي دي.

د کرنیز سکتور وده څرنګه چې تمه کېده، له منفي ۱۶.۹ سلنې څخه یې ۱۲.۴ سلنې ته د پام وړ زیاتوالی موندلی دی او د نشه یي توکو رول په دې دوره کې د کرنیز سکتور د ودې په لوړولو کې مهم دی. د راپورونو پر بنسټ، د نشه یي توکو د ټولیزه تولیداتو کچه چې په تیر کال کې منفي ۴۸ سلنه انقباض ښکاره کاوه، د ارزونې لاندې دوره کې یې نرخ ۴۵ سلنې ته زیات شوی دی. همدا ډول، دې سکتور د نشه یي توکو د ونډې پرته له منفي ۵.۷ سلنې څخه ۶ سلنې ته وده موندلې ده.

په ۱۳۹۵مالي کال کې د صنایع سکتور منفي۱.۹ سلنه وده ښکاره کوي چې عمده لامل یې په هېواد کې د ودانیزو کړنو کموالی دی. حال دا چې دې برخې په تیر کال کې د نورو برخو په پرتله ښې کړنې درلودلې دي.

د خدمتونو د سکتور وده په دې کال کې د مالي خدمتونو د کړنو، بیمې، سوداګرۍ او د جایدادونو د معاملو د زیاتوالي له امله ښه شوې چې د ۱۳۹۴ مالی کال د ۱.۴ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې دوره کې ۲.۴ سلنې ته زیاتوالی ښکاره کوي. سربېره پر دې، فردي او ټولنیزه خدمتونو، دولتي خدمتونو او داسې نورو خدمتونو هم د خدمتونو د سکتور د کړنو په ښه والي کې رول درلودلی دی. دې وضعیت د دې سکتور د ودې لپاره هیلې زیاتې کړې او تمه کیږي چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې د دې برخې کړنې له دې هم ښې شي.

۵ ګراف: د (۲۰۰۳–۲۰۱۶) کلونه د کورنۍ ناخالصه تولیداتو وده





**پولي انفلاسیون:**

په افغانستان کې د پولي انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې لوړیدونکی بهیر درلودلی دی. د احصائیې د مرکزي

اداري د شمېرو په پام کې نیولو سره د پولي انفلاسیون نرخ د کلني معیار پر بنسټ په منځني ډول په همدې کال کې ۵.۶۵ سلنه ثبت شوی دی. په دې کال کې تر ټولو ډېر انفلاسیوني فشار د خوراکي توکو په برخې پورې تړاو لري، څرنګه چې د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ ۶.۸۸ سلنه زیاتوالی تجربه کړی دی. د ناخوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د ارزونې لاندې کال کې شاوخوا ۳.۲۸ سلنه ثبت شوی دی. په دې دوره کې د انفلاسیون د نرخ زیاتیدل ډېر لاملونه لري، خو په افغانستان کې د انفلاسیون یو تر ټولو مهم لامل د ایران او پاکستان له هېوادونو څخه د کډوالو راستنیدل دی. هېواد ته د کډوالو د راستنیدو له امله خوراکي توکو، استوګن ځایونو، عامه خدمتونو او داسې نورو توکو ته تقاضا زیاته شوې او په پایله کې د انفلاسیون په لوړولو کې یې د پام وړ رول درلودلی دی. سربېره پر دې، په نړیوالو بازارونو کې د توکو د بیو لوړوالي هم د هېواد په کورني انفلاسیون باندې اغېزې پرې ایښې دي. همدا ډول پولي انفلاسیون د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولې په سر ستونزو له پلوه هم اغېزمن شوی دی. دې شخړو او ستونزو په وروستیو کې د دوو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ په وړاندې ډېرې خنډونه رامنځ ته کړي چې له امله یې د کورني بیو عمومي کچه لوړه شوې ده.

۶ ګراف: د پولي انفلاسیون کلنی نرخ د ۱۳۹۳ کب – ۱۳۹۵ کب




**بهرني سکتور**

**الف. د مالي او پانګه ایزو حسابونو بیلانس**

د ادراینو د بیلانس پانګه ایز حساب د ۱۳۹۴ مالي کال له ۱۸۳.۷۵ میلیونه ډالرو څخه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱،۵۹۸.۳۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته زیاتوالی موندلی چې اصلي لامل یې د پانګه ایزو لیږدونو زیاتوالی په ګوته شوی دی. حال دا چې د بهرنی مستقیمې پانګونې کچه له ۱۶۳.۰۶ میلیونه ډالرو څخه ۹۹.۶۱ میلیونه ډالرو (۳۹ سلنه) راکمه شوې ده. په ورته وخت کې غیر مستقیمې پانګونې له ۸۱.۵۱ میلیونه ډالرو څخه ۹۰.۸۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته پورته شوې چې ۱۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

**ب. بهرنی سوداګري**


د وروستیو شمېرو پر بنسټ، په ۱۳۹۵ مالي کال کې د هېواد صادراتي عواید د تېر کال د ورته ربعې په پرتله ۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. د هېواد صادرات په ۱۳۹۵ مالي کال کې شاوخوا ۱،۱۳۵.۲۳ میلیونه ډالرو ته رسیږي، په داسې حال کې چې دا شمېره په تېر کال کې شاوخوا ۲،۳۵۰.۹۴ میلیونه ډالره ثبت شوې وه.

له بلې خوا، د هېواد واردات د ۱۳۹۴ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۳ سلنه کموالی ښکاره کوي چې عمده لامل یې د تقاضا کموالی ګڼل کیږي. په ۱۳۹۵ مالي کال کې د توکو او خدمتونو ټولیزه واردات شاوخوا ۷،۴۷۰.۸۳ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوي چې د تېر کال د ۸،۶۳۳.۹۷ میلیونه ډالرو په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. له همدې کبله په ۱۳۹۵ مالي کال کې د سوداګرۍ د بیلانس کسر شاوخوا ۶،۳۳۵.۶۰ میلیونه ډالرو ته رسیږي. د تېر کال د وارداتو په پرتله په روان کال کې د وارداتو کچه ۱،۱۶۳.۱۴ میلیونه ډالره راکمه شوې او د د توکو او خدمتونو د صادراتو په کچه کې ۱،۲۱۵.۷۱ میلیونه ډالره کموالی راغلی دی.

۱ جدول: د مالي او پانګه ایزو حسابونو بیلانس

| توضیحات | ۱۳۹۲ مالي کال | ۱۳۹۳ مالي کال | ۱۳۹۴ مالي کال | ۱۳۹۵ مالي کال |
|---|---|---|---|---|
| خالصه سوداګري (په میلیون ډالر) | -۸،۸۴۵.۰۲۴۶ | -۶،۴۵۴.۳۳۷۲ | -۶،۲۸۳.۰۳۲۰ | -۶،۳۳۵.۶۰۲۹ |
| صادرات (په میلیون ډالر) | ۱،۳۸۶.۳۷۰۵ | ۱،۹۷۸.۶۴۹۳ | ۲،۳۵۰.۹۳۶۰ | ۱،۱۳۵.۲۲۹۱ |
| واردات (په میلیون ډالر) | ۱۰،۲۳۱.۳۹۵۱ | ۸،۴۳۲.۹۸۶۶ | ۸،۶۳۳.۹۶۸۰ | ۷،۴۷۰.۸۳۲۱ |

۷ ګراف: د **۱۳۹۴** مالي کال په پرتله په **۱۳۹۵** مالي کال کې د سوداګرۍ بیلانس (ارقام په میلیون دالر)




سرچینه: د افغانستان بانک

**د جاري حساب بیلانس:**

د سوداګرۍ بیلانس چې د هېواد د ادراینو د بیلانس د جاري حساب له مهمو برخو څخه شمېرل کېږي، په ۱۳۹۵ مالي کال کې **۶،۳۳۵.۶۰** میلیونه امریکایي ډالره کسر ښکاره کوي چې د تیر کال په پرتله شاوخوا **۱،۱۶۳.۱۴** میلیونه ډالره زیاتوالی په وارداتو (توکو او خدمتونو) کې او شاوخوا **۱،۲۱۵.۷۱** میلیونه امریکایي ډالره کموالی په صادراتو (توکو او خدمتونو) کې ښکاره کوي. د هېواد د تولیزه وارداتو ارزښت د تیر کال د ورته دورې په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۵۲ سلنه کموالی ښکاره کوي، څرنګه چې د هېواد د وارداتو تولیزه ارزښت په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۷،۴۷۰.۸۳ میلیونه ډالره ثبت شوی، په داسې حال کې چې دا شمېره په تېر کال کې ۸،۶۳۳.۹۷ میلیونه ډالرو ته رسیدلې. همدا ډول د نفتي او ودانیزو موادو له کمښت، اوسپنه ایزه توکو او لګښتي توکو واردات د همدې مودې په اوږدو کې کموالی موندلی دی. له بلې خوا، د تېر کال په پرتله په دې موده کې د هېواد د صادراتو تولیز ارزښت ۵۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د هېواد د تولیزه صادراتو کچه ۱۱۳۵.۲۳ میلیونه ډالرو ته رسیږي چې په تولیزه توګه د غالیو او قالینچو، زعفرانو، خرمنو، درملو او طبي بذرونو په صادراتو کې د کموالي له پلوه رامنځ ته شوی دی.

۲ جدول: د جاري حساب بیلانس

| توضیحات (په میلیون ډالر) | ۱۳۹۲ مالي کال | ۱۳۹۳ مالي کال | ۱۳۹۴ مالي کال | ۱۳۹۵ مالي کال |
|---|---|---|---|---|
| جاري حساب(خالصه) | -۵،۶۳۲.۵۴۱۸ | -۳،۹۸۷.۳۶۲۵ | -۳،۷۸۴.۲۴۷۷ | -۳،۷۰۹.۳۱۷۳ |
| سوداګري ( خالصه) | -۸،۸۴۵.۰۲۴۶ | -۶،۴۵۴.۳۳۷۲ | -۶،۲۸۳.۰۳۲۰ | -۶،۳۳۵.۶۰۲۹ |
| صادرات | ۱،۳۸۶.۳۷۰۵ | ۱،۹۷۸.۶۴۹۳ | ۲،۳۵۰.۹۳۶۰ | ۱،۱۳۵.۲۲۹۱ |
| واردات | ۱۰،۲۳۱.۳۹۵۱ | ۸،۴۳۲.۹۸۶۶ | ۸،۶۳۳.۹۶۸۰ | ۷،۴۷۰.۸۳۲۱ |
| مستقیمه پانګونه | ۴۷.۲۲۶۱ | ۳۶.۶۹۴۹ | ۱۶۳.۰۶۲۶ | ۹۹.۶۰۶۵ |
| د کارګرانو لیږدیدونکي پیسې | ۸.۸۸۰۴ | ۱۱.۴۲۲۰ | ۵۶.۹۴۸۵ | ۲۲۲.۴۲۲۲ |

**د پولي سکتور بدلونونه**

**نقدینګي:**

د پولي زیرمو (Reserve money) وده د ۱۳۹۵ مالي کال لپاره ۱۰ سلنه ټاکل شوې ده. د افغانستان بانک توانیدلی دی چې په لږ څه نوساناتو سره ټاکل شوی هدف په بریالیتوب سره ترلاسه کړي. د ۱۳۹۵ مالي کال د څلورمې ربعې په پای کې د پولي زیرمو حقیقي کچه ۲۵۲.۰۷۵ میلیارده افغانی ته رسیږي. همدا ډول په ګردښت کې پیسې چې د افغانستان بانک د مرکزي دفتر او

نمایندګیو په خزانه کې له شته پیسو پرته تولې خپرې شوې پیسې رانغاړي، د څلورمې ربعې په پای کې ۲۲۳.۸۳ میلیارده افغانۍ ته رسیدې چې د ټاکل شوې کچې په پرتله ۱.۴۵ میلیارده افغانۍ کموالی ښکاره کوی.

**د افغانۍ د مبادلې نرخ او د خالصه اسعاري زیرمو کچه:**

د ۱۳۹۵ مالي کال د څلورمې ربعې په پای کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ شاوخوا ۱.۸۱ سلنه زیات شوی دی. د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ اسمي ارزښت د همدې دورې په پای کې ۶۶.۸۴ افغانۍ ثبت شوی دی. د هېواد د خالصه اسعاري زېرمو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال د څلورمې ربعې په پای کې ۶،۸۲۴.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې په پرتله شاوخوا ۶.۲۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

۳ جدول: د افغانۍ د مبادلې نرخ او د خالصه اسعارو زیرمو کچه

| امریکایي ډالر/افغانۍ | خالصه نړیواله زیرمې (په میلیون ډالرو) | حقیقي پولي زیرمې (په میلیون افغانۍ) | په ګردښت کې حقیقي پیسې (په میلیون افغانۍ) | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵۷.۷۹ | ۶،۸۰۰.۹۱ | ۲۰۷،۶۱۳.۱۹ | ۱۸۲،۸۱۶.۰۱ | ۱۵-مارچ-۲۲ | لومړی ربعه | ۱۳۹۴ |
| ۶۰.۷۲ | ۶،۸۳۱.۳۳ | ۲۰۹،۶۲۷.۸۸ | ۱۸۸،۳۵۴.۵۰ | ۱۵-جون-۲۱ | دویمه ربعه | |
| ۶۳.۸۵ | ۶،۶۰۱.۵۱ | ۲۱۹،۰۰۹.۵۴ | ۱۹۵،۵۴۰.۲۳ | ۱۵-سپټمبر-۲۲ | دریمه ربعه | |
| ۶۸.۰۵ | ۶،۴۲۳.۶۲ | ۲۳۲،۱۶۰.۱۴ | ۲۰۲،۱۶۹.۳۳ | ۱۵-ډیسمبر-۲۱ | څلورمه ربعه | |
| ۶۸.۳۶ | ۶،۵۴۶.۸۳ | ۲۱۲،۵۴۸.۰۲ | ۱۸۹،۶۱۷.۶۰ | ۱۶-مارچ-۱۹ | لومړی ربعه | ۱۳۹۵ |
| ۶۹.۱۹ | ۶،۸۱۲.۵۷ | ۲۲۳،۱۵۱.۲۲ | ۱۹۹،۲۵۷.۱۹ | ۱۶-جون-۲۰ | دویمه ربعه | |
| ۶۶.۵۴ | ۶،۸۶۸.۶۵ | ۲۳۹،۷۲۷.۳۴ | ۲۱۵،۰۲۲.۸۵ | ۱۶-سپټمبر-۲۱ | دریمه ربعه | |
| ۶۶.۸۴ | ۶،۸۲۴.۶۹ | ۲۵۲،۰۷۵.۷۶ | ۲۲۳،۸۳۹.۱۷ | ۱۶-ډیسمبر-۲۰ | څلورمه ربعه | |

**د اسعارو او د پانګه ایزو پاڼو لیلام:**

د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د پلور ټولیزه ارزښت ۱.۹۲ میلیارده ډالرو ته رسیږي چې دا شمېره په دې پروسه کې د اسعارو د تقاضا شاوخوا ۷۲.۱۷ سلنه جوړوي. لاندې جدول د ۱۳۹۴ مالي کال د څلورمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په څلورمه ربعه کې د اسعارو د لیلام شمېرې ښکاره کوي.

۴ جدول: د اسعارو او پانګه ایزو پاڼو لیلام

| د اسعارو لیلام (په میلیون ډالر) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ټولیزه تقاضا | ورکړل شوی مبلغ | اعلان شوی مبلغ | | | |
| ۱۰۰۷.۱۰ | ۷۵۰.۲۰ | ۷۹۰.۰۰ | ۱۵-مارچ-۲۲ | لومړی ربعه | ۱۳۹۴ |
| ۹۶۰.۲۵ | ۶۸۱.۹۰ | ۶۸۷.۰۰ | ۱۵-جون-۲۱ | دویمه ربعه | |
| ۱۰۵۱.۶۸ | ۷۰۸.۵۰ | ۶۹۶.۰۰ | ۱۵-سپټمبر-۲۲ | دریمه ربعه | |
| ۹۰۵.۰۹ | ۶۵۳.۰۱ | ۶۶۹.۰۰ | ۱۵-ډیسمبر-۲۱ | څلورمه ربعه | |
| ۶۴۷.۷۲ | ۴۷۹.۲۴ | ۵۰۰.۰۰ | ۱۶-مارچ-۱۹ | لومړی ربعه | ۱۳۹۵ |
| ۶۵۳.۴۵ | ۴۶۴.۲۰ | ۵۰۳.۰۰ | ۱۶-جون-۲۰ | دویمه ربعه | |
| ۶۰۸.۹۹ | ۴۱۸.۰۴ | ۴۹۹.۰۰ | ۱۶-سپټمبر-۲۱ | دریمه ربعه | |
| ۷۵۹.۳۱ | ۵۶۴.۷۸ | ۵۹۸.۰۰ | ۱۶-ډیسمبر-۲۰ | څلورمه ربعه | |

همدا ډول د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه د ۱۰۰.۵ میلیارده افغانی په ارزښت پانګه ایزې پاڼې پلورل شوي دي. لاندې جدول د ۱۳۹۴ مالي کال د څلورمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې د پانګه ایزو پاڼو د پلور شمېرې ښکاره کوي.

۵ جدول: پانګه ایزې پاڼې

| پانګه ایزې پاڼې (په میلیون افغانی) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ټولیزه ناتصفیه شوی مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | د داوطلبی ټولیز مبلغ | | | |
| ۳۷،۴۶۱.۷۱ | ۱۹۱،۹۲.۹۴ | ۲۶،۶۶۷.۰۸ | ۱۵-مارچ-۲۲ | لومړی ربعه | ۱۳۹۴ |
| ۳۸،۳۴۲.۹۹ | ۲۸،۶۵۳.۳۹ | ۳۵،۷۳۲.۸۹ | ۱۵-جون-۲۱ | دویمه ربعه | |
| ۳۶،۳۳۲.۱۹ | ۱۸،۷۴۸.۱۳ | ۱۹،۵۲۸.۰۲ | ۱۵-سپټمبر-۲۲ | درېمه ربعه | |
| ۳۲،۶۷۸.۴۷ | ۱۱،۳۸۹.۱۵ | ۱۴،۶۶۳.۳۰ | ۱۵-ډیسمبر-۲۱ | څلورمه ربعه | |
| ۳۲،۱۱۷.۸۶ | ۱۲،۶۲۶.۵۶ | ۱۵،۵۴۳.۴۵ | ۱۶-مارچ-۱۹ | لومړی ربعه | ۱۳۹۵ |
| ۳۲،۲۶۱.۱۰ | ۲۲،۴۶۰.۸۰ | ۲۳،۲۶۰.۸۰ | ۱۶-جون-۲۰ | دویمه ربعه | |
| ۳۱،۱۰۷.۷۷ | ۲۵،۱۵۱.۶۰ | ۲۵،۳۵۱.۶۰ | ۱۶-سپټمبر-۲۱ | درېمه ربعه | |
| ۴۳،۶۱۹.۲۶ | ۴۰،۲۹۵.۰۰ | ۴۰،۲۹۵.۰۰ | ۱۶-ډیسمبر-۲۰ | څلورمه ربعه | |

# د بانکي نظام د وضعیت او کړنو څرګنوالی

# د بانکي نظام د وضعیت او کړنو څرنګوالی

د هېواد بانکي نظام د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د پام وړ وده درلودلې ده. دا وده د شتمنیو د زیاتیدو له امله رامنځ ته شوې او د امانتونو د زیاتوالي لخوا تأمین شوې ده. په دې کال کې مالي پانګه له ښه وضعیت څخه برخمنه وه او د پانګې په تزریق او ګټه کې د زیاتوالي له امله ترلاسه شوې ده. بانکي نظام د سیالیت له پلوه هم په مناسبه کچه کې قرار لري، خو د شتمنیو کیفیت اوس هم نیمګړتیاوې لري چې د څارونکو د پام وړ ګرځېدلی دی.

د بانکي نظام ټولیزه شتمنی د تیر کال (۱۳۹۴ لینډۍ) د ۲۷۰.۶۸ ميلیارده افغانۍ په پرتله ۱۰.۴۵ سلنه وده ښکاره کوي او د ۱۳۹۵ مالي کال د لینډۍ میاشت کې ۲۹۸.۹۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. د بانکي نظام شتمنۍ د تیرې میاشتې (۱۳۹۵ لړم) په پرتله عمدتاً په خزانه کې د نغدو پیسو او د افغانستان بانک بانډې د طلباتو او پانګه اچونو د زیاتیدو له امله ۴.۳۱ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

د بانکي نظام ټولیزه ناخالصه پورونه د تیر کال (۱۳۹۴ لینډۍ) په پرتله ۹.۱۴ سلنه کموالي په درلودلو سره د ۱۳۹۵ مالي کال د لینډۍ په میاشت کې ۴۱.۲۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. په ټولیزه پورونو کې د کموالي ستر لاملونه د پورونو تصفیه، د بانکونو لخوا د پورونو د جایدادونو د تضمین پیرل، د خسارې پورونو (Charge off) حذفول او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه ګڼل کیږي. که څه هم ټولیزه پورونه د مخکې میاشتې (۱۳۹۵ لړم) په پرتله د پورته لاملونو پر بنسټ ۰.۲۵ سلنه راکم شوي دي.

امانتونه چې په بانکونو کې د تمویل بنسټیزه سرچینه ګڼل کیږي، د ۱۳۹۵ کال د لینډۍ میاشت کې ۲۵۴.۹۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۷.۵۷ سلنه وده په ګوته کوي. په بانکونو کې د تمویل دا بنسټیزه سرچینه د تیرې میاشتې راهیسې ۳.۲۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی د ټولیزه (جاري او سپما) امانتونو د زیاتیدو له امله چې په ترتیب سره د ټولیزه امانتونو ۷۴.۷۹ سلنه او ۱۹.۸۲ سلنه جوړوي، رامنځه ته شوی دی. په ورته وخت کې مودیزه امانتونه د ۱۳۹۵ کال لینډۍ میاشت کې ۱.۱۳ سلنه ټیټوالی موندلی دی.

بانکي نظام کافي مالي پانګه لري او د تیرې دورې( ۱۳۹۴ لینډۍ) په پرتله ۳۷.۴۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې عمده لامل یې د کال په اوږدو کې د پانګې او ګټې تزریق ګڼل کیږي.

د افغانستان بانکي نظام د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۴.۲۹ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه کړې ده چې په تیره ورته دوره (۲۰۱۵-۱۳۹۴) کې یې ۵۲۲ میلیونه افغانۍ خالصه ګټه کړې وه، او په پایله کې شتمنیو ته د بیرته ګرځیدو نسبت د ۱۳۹۴ کال د لینډۍ د ۰.۲۰ سلنې په پرتله په دې دوره ( ۱۳۹۵ لینډۍ) کې ۱.۵۵ سلنې ته لوړ شوی دی.

ټول بانکونه د سیالیت لپاره د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد سره په مطابقت کې قرار لري، خو د اسعارو د پرانیستي وضعیت له پلوه ټول بانکونه (پرته له اوو بانکونو چې د افغانستان بانک له ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد څخه اسعارو لپاره±۴۰ سلنه او انفرادي اسعارو لپاره±۲۰ سلنې څخه سرغړونه کړې ده) نور بانکونه د افغانستان بانک د حد اقل ټاکل شویو حدودو په مطابقت کې واقع دي.

د ۱۳۹۵ مالی کال په اوږدو کې د دریو بانکونو مالي پانګه له ټاکل شوي حدودو څخه ټیټه وه؛ خو د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت له یو بانک پرته د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر

ټولو ټیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوي شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. د بانکي نظام د مقرراتي پانګې نسبت شاوخوا ۲۷.۶۸ سلنه دی چې د تیر کال (۱۳۹۴ لینډۍ) د ۱۹.۹۴ سلنې په پرتله ۸.۷۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د افغانستان په بانکي نظام کې ۱۵ جواز لرونکي بانکونه فعالیت کوي چې له دې ډلې ۳ دولتي بانکونه، ۹ خصوصي بانکونه او پاتې ۳ د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ دي.


(۶) جدول په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او د بانکي نظام نورې شته اسانتیاوې وړاندې کوي

| اسانتیاوې | شمېر |
|---|---|
| له بشپړ خدمتونو سره نمایندګۍ | ۲۰۲ |
| له محدودو خدمتونو سره نمایندګۍ | ۲۱۴ |
| د صرافۍ اتومات ماشینونه ( ۲۲ ډوله) | ۲۰۹ |
| *نورې اسانتیاوې(۲۱،۲۴،۲۵ ډوله) | ۸۹ |
| د پلور ځایونه (۲۳ ډوله) ** | ۳۲۰ |
| مجموع | ۱،۰۳۴ |
| | |
| | |
| د پوراینې کارت (دبټ کارت) | ۲۳۲،۵۶۸ |
| د اعتبار کارت (کریډټ کارت) | ۱،۱۱۶ |
| ای ټی ایم کارت ( ATM ) | ۱۶۹،۶۸۷ |
| ویب سرفر کارت | ۷،۲۷۳ |
| د مخکې ورکړې کارت | ۱،۹۴۳ |
| **مجموع** | **۴۱۲،۵۸۷** |

پورته اسانتیاوې د کابل ښار په ګډون د هېواد په ۳۳ ولایتونو کې د لاسرسي وړ دي، حال دا چې د ATM کارت اسانتیاوې د هېواد په ۸ ولایتونو، ډبټ کارت په ۳۰ ولایتونو او کریډټ کارت په ۶ ولایتونو کې د لاسرسي وړ دي.

د دې ترڅنګ، تر اوسه پورې په ټولیزه توګه ۸۸۰ جوازونه د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو او ۲،۱۹۲ جوازونه صرافانو ته ورکړل شوي دي. د پولي خدمتونو له ۸۸۰ وړاندې کوونکو څخه د پولي خدمتونو ۲۴۴ وړاندې کوونکي په کابل او ۴۲۵ وړاندې کوونکي د هېواد په نورو ولایتونو کې په فعالیت بوخت دي. سربېره پر دې، د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د مرکزي دفتر ۳۴۸ نمایندګۍ په کابل ښار او نورو ولایتونو کې په فعالیت لګیا دي. له ۲،۱۹۲ جواز لرونکو صرافیو څخه، ۴۱۶ صرافۍ په کابل او ۱،۵۲۶ صرافۍ په نورو ولایتونو کې فعالیت کوي.

۸ ګراف: د پولي خدمتونو وړاندې کونکي او صرافۍ




## ۱.۱ ټولیزه شتمنۍ

د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ د ۱۳۹۵ مالي کال په لینډۍ میاشت کې ۲۹۸.۹۷ میلیارده افغانۍ( ۴.۴۸ ملیارده ډالرو) ته رسیږي چې د تیر کال (۱۳۹۴ لینډۍ) د ۲۷۰.۶۸ میلیارده افغانۍ (۴.۰۱ میلیارده ډالرو) په پرتله ۱۰.۴۵ سلنه وده ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د زیاتیدو اصلي لامل د امانتونو او پانګې د تزریق زیاتوالی په ګوته شوی دی. د ټولیزه شتمنیو له څېړنې په ډاګه کیږي چې ډېری زیاتوالی په نغدو پیسو او د افغانستان

* **د ۲۱ ډول اسانتیا:** هغه واحد یا دفتر چې د پور د لومړنیو پړاوونو د اجراء کولو واک لري، خو د پور د ورکولو واک نه لري.

**د ۲۴ ډول اسانتیا:** هغه واحد چې یوازې د نغدو پیسو د تادیې واک لري، لکه دولتي او غیر دولتي کارکوونکو ته د معاشونو ورکړه او یا د بانک پیرودونکو ته داسې نور نغدي تادیات رانغاړي.

**د ۲۵ ډول اسانتیا:** دا واحد یوازې د مختلفو حکمي او حقیقي اشخاصو (معمولاً د سفارتونو، هوټلونو او داسې نورو ) په حسابونو کې د امانتونو په توګه له عامه خلکو څخه د نغدو پیسو د ترلاسه کولو په موخه د رسید د صادرولو واک لري.

** **د ۲۳ ډول اسانتیا:** په پلورنځایونو کې خدماتي شبکې(یوازې لګښتونه وضع کوي خو د سپما واک نه لري).

بانک باندي طلباتو، پانګه اچونو (investments) او نورو شتمنیو کې تر سترګو کیږي.

د شتمنیو تر ټولو ډېره وده دولتي بانکونه درلوده چې د تیرې دورې (۱۳۹۴ لیندۍ) په پرتله ۲۶.۹۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، د بهرنیو بانکونو نمایندګی د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ۸.۷۹ سلنه وده درلوده او خصوصي بانکونو د دې دورې په اوږدو کې ۴.۸۲ سلنه کموالی موندلی دی. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د سلنې له مخې، خصوصي بانکونه د ۶۳.۱۱ سلنې ونډې په لرلو سره په لومړۍ درجه، دولتي بانکونه د ۲۷.۱۶ سلنې ونډې سره په دویمه درجه او وریسې د بهرنیو بانکونو نمایندګی د ۹.۷۲ سلنې ونډې په درلودلو سره په وروستی درجه کې راځي.

۷ جدول: د بانکي شتمنیو ټولیزه د سلنې له مخې


۹ ګراف: له ۱۳۸۶ کال څخه د ۱۳۹۵ کال تر لیندۍ پورې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د ودې بهیر ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو، پوراینو او پانګې بهیر (په میلیون ډالر)




۱۰ ګراف: د ۱۳۸۶ ـ ۱۳۹۵ کاله پورې د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه

په څو وروستیو کلونو کې د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه
( ارقام په میلیون ډالر)





| د ۱۳۹۵ کال له لیندۍ میاشتې (۲۰۱۶ ډیسمبر) څخه د بانکي نظام د شتمنیو نزولي ترتیب | | | |
|---|---|---|---|
| شمیره | د بانک نوم | شتمنی (په میلیون افغانۍ) | د سلنې له مخې د بانکي نظام ټولیزه شتمنی |
| ۱ | د افغانستان بانک نړیوال بانک | ۵۸،۳۲۹.۹۶ | ۱۹.۵۱ |
| ۲ | افغان ملي بانک | ۳۷،۷۶۹.۸۲ | ۱۲.۶۳ |
| ۳ | عزیزي بانک | ۳۲،۹۹۵.۳۵ | ۱۱.۰۴ |
| ۴ | میوند بانک | ۲۵،۴۱۴.۸۵ | ۸.۵۰ |
| ۵ | نوی کابل بانک | ۲۴،۶۲۲.۹۶ | ۸.۲۴ |
| ۶ | افغان یونایتد بانک | ۲۰،۹۶۹.۹۴ | ۷.۰۲ |
| ۷ | پښتني بانک | ۱۸،۸۱۲.۸۲ | ۶.۲۹ |
| ۸ | باختر بانک | ۱۷،۶۹۱.۹۷ | ۵.۹۲ |
| ۹ | الفلاح لمیټد بانک | ۱۵،۸۹۹.۵۰ | ۵.۳۲ |
| ۱۰ | فرست مایکروفاینینس بانک | ۱۰،۵۶۲.۰۱ | ۳.۵۳ |
| ۱۱ | آرین بانک | ۱۰،۳۵۱.۶۷ | ۳.۴۶ |
| ۱۲ | حبیب لمیټد بانک | ۹،۴۲۵.۴۰ | ۳.۱۵ |
| ۱۳ | غضنفر بانک | ۹،۳۲۹.۷۸ | ۳.۱۲ |
| ۱۴ | نشنل بانک پاکستان | ۳،۷۴۶.۳۸ | ۱.۲۵ |
| ۱۵ | د افغانستان سوداګریز بانک | ۳،۰۵۶.۱۳ | ۱.۰۲ |
| مجموع | | **۲۹۸،۹۷۸.۵۴** | **۱۰۰.۰۰** |

### ۱.۱.۱ د ټولیزه شتمنیو وده

د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې نوساني بهیر درلوده او په اوسنۍ میاشت (۱۳۹۵ لیندۍ) کې ۴.۳۱ سلنې ته زیاتوالی موندلی دی چې اصلي لامل یې په خزانه کې د نغدو پیسو، د افغانستان بانک باندې د طلباتو او پانګه اچوونو زیاتوالی ښودل شوی دی.

۱۱ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو وده




### ۱.۲ ټولیزه پورونه


د بانکي نظام له ټولیزه شتمنیو څخه د بانکي نظام ناخالص پورونه د ۱۳۹۵ کال په لیندۍ ( ۲۰۱۶ ډیسمبر) کې ۴۱.۲۵ میلیارده افغانۍ(۶۱۹ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۳.۸۰ سلنه جوړوي او د تېرې دورې ( ۱۳۹۴ لیندۍ) د ۴۵.۴۱ ملیارده افغانۍ(۶۷۳ میلیونه ډالرو) په پرتله چې د ټولیزه شتمنیو ۱۶.۷۸ سلنه یې جوړوله او ۵.۰۳ سلنه وده یې درلوده، په اوسنی دوره (۱۳۹۵ لیندۍ) کې ۹.۱۴ سلنه کموالی موندلی دی. په ټولیزه پورونو کې د کموالي ستر لاملونه د پورونو تصفیه، د بانکونو لخوا د پورونو د جایدادونو د تضمین پېرل، د خسارې پورونو (Charge off) حذفول او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه ګڼل کیږي.

له ټولیزه ناخالصه پورونو څخه په بانکي نظام کې په افغانیو د پورونو کچه ۱۲.۶۹ میلیارده افغانۍ (۱۹۱ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۳۰.۷۸ او یا د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴.۲۴ سلنه جوړوي چې دا شمېره د تیرې دورې ( ۱۳۹۴ لیندۍ) په پرتله ۹.۸۸ سلنه کمه شوې ده. د بانکي نظام ډالري پورونه ۲۸.۵۰ میلیارده افغانۍ(۴۲۸ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه پورونو ۶۸.۰۸ سلنه او د ټولیزه شتمنیو ۹.۵۳ سلنه جوړوي او د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ میاشتې په پرتله ۸.۸۹ سلنه کموالی ښکاره کوي. خصوصي بانکونه په هېواد کې د پور ورکولو په برخه کې د ټولیزه پورونو ۹۱.۵۶ سلنه ونډې په لرلو سره مخکښه دي، دولتي بانکونه ۷.۴۱ سلنې ونډې په درلودلو سره په دویمه درجه او په پای کې د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د ۱.۰۳ سلنې ونډې په لرلو سره په دریمه درجه کې راځي.

### ۱.۲.۱ د ټولیزه پورونو د ودې میاشتنۍ پرتله

د بانکي نظام پورونو د ۱۳۹۴ کال په اوږدو کې نوساني بهیر درلوده. همدا ډول د بانکي نظام ټولیزه پورونه په روانه میاشت (۱۳۹۵ لیندۍ) کې ۰.۲۵ سلنه کموالی موندلی چې د دې کموالي اصلي لاملونه د پورونو تصفیه، د خسارې پورونو حذفول او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه دي.

۱۲ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه پورونو وده



۸ جدول: د بانکي نظام د ټولنیزه پورونو ډله بندي

| توکي | د ۲۰۱۵ ډیسمبر د ۱۳۹۳ لیندۍ | د ۲۰۱۶ سپتمبر د ۱۳۹۴ وږی | د ۲۰۱۶ ډیسمبر د ۱۳۹۴ لیندۍ | د ټولیزه ناخالصه پورونو سلنه | د هر دریو میاشتو د ودې سلنه | د کلنی ودې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| صعب الحصول پورونه[۱] | ۵،۶۰۵ | ۵،۶۷۱ | ۵،۲۲۶ | ۱۲.۶۷ | −۷.۸۴ | −۶.۷۶ |
| معکوس ډله بندي شوي پورونه[۲] | ۸،۶۹۹ | ۸،۱۴۵ | ۱۱،۱۰۴ | ۲۶.۹۱ | ۳۶.۳۲ | ۲۷.۶۴ |
| تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه[۳] | ۴،۸۵۴ | ۲،۷۰۲ | ۳،۸۹۸ | ۹.۴۵ | ۴۴.۲۶ | −۱۹.۶۹ |
| په خساره کټګورۍ کې پورونه[۴] | ۳۴۶ | ۷۱۱ | ۵۵۶ | ۱.۳۵ | ۲۱.۸۰ | ۶۰.۶۹ |

دا چې د پورونو د ډله بندۍ راپور په ربعواره توګه د بانکونو لخوا وړاندې کیږي، له همدې امله د وروستۍ ربعې یعنې د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ میاشتې ارقام د هغه له مخکنۍ دورې (۱۳۹۴ لیندۍ) سره پرتله کوو.

په ټولیزه توګه د بانکي نظام د شتمنیو کیفیت د ۱۳۹۵ مالي کال په روانه ربعه کې ډېر خراب شوی دی، څرنګه چې په پورته جدول کې تر سترګو کیږي، په معکوس ډله بندي شوي پورونو او تر نظر لاندې پورونو کې زیاتوالی راغلی دی، حال دا چې د صعب الحصول پورونو نسبت د ټولیزه پورونو د سلنې او د ودې د سلنې له مخې کموالی ښکاره کوي. خو د صعب الحصول پورونو په نسبت او مبلغ کې د کموالي اصلي لاملونه د خسارې پورونو حذفول (Charge off) او د تصرف شویو شتمنیو ( هغه پورونه چې تضمین یې د بانك په وجه کې پلورل شوی وي) چې له امله یې ټولیزه پورونه او صعب الحصول پورونه راکم شوي وي، ګڼل کیږي. د بانکي نظام صعب الحصول پورونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۲.۶۷ سلنه جوړوي چې د تیر کال په پرتله یې ۰.۳۳ سلنه زیاتوالی موندلی دی. د صعب الحصول پورونو د ۱۲.۶۷ سلنې له ډلې څخه ۱۰.۸۰ سلنه یې په دریو خصوصي بانکونو پورې اړه لري چې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۴۳.۳۶ سلنه جوړوي او د بانکي نظام د ۱۸.۸۳ سلنې مقرراتي پانګې معادل کیږي.

د مالي چارو د څارنې لوی آمریت د بانکي نظام د شتمنیو د کیفیت د ښه والي په موخه له مالي مؤسسو سره په نږدې اړیکه کې دی او د لازمو اصلاحي ګامونو په پورته کولو سره یې دوي اړ کړي دي، څو د دې ستونزو د حل لپاره، ځانګړي پلانونه طرح کړي او له هغه سره سم عمل وکړي.

۱ صعب الحصول پورونه: هغه صعب الحصول پورونه او مخکې ورکړې چې د هغه د ټکتاني اصلي مبلغ د ۳۶۰- ۹۱ ورځو لپاره وصول شوي نه وي او (مشکوک) پاتې شي

۲ معکوس ډله بندي شوي پورونه: هغه شتمنی چې د شتمنی اصلي مبلغ یا یې ټکتانه د ۹۰- ۳۱ ورځو لپاره وضول نه شي او (تحت المعیار) پاتې شي، صعب الحصول پورونه او یا مخکې ورکړې چې د هغه د ټکتاني اصلي مبلغ د ۳۶۰- ۹۱ ورځو لپاره وصول شوي نه وي او (مشکوکې) پاتې وي

۳ په نظر وړ کټګورۍ کې پورونه: هغه شتمنی چې د شتمنی اصلي مبلغ یا ټکتانه یې د ۱- ۳۰ ورځو لپاره وصول شوي نه وي او (تحت نظر) پاتې وي

۴ په خساره کټګورۍ کې پورونه: هغه صعب الحصول پورونه او مخکې ورکړې چې اصلي مبلغ یا ټکتانه یې ۳۶۱ ورځو یا له دې زیاتو ورځو لپاره ورکړل شوي نه وي (خساره).


۹ جدول: کوچني پوروونه د یو بانک او متوسط پوروونه د پنځو بانکونو لخوا ورکړل شوي دي

| توکي | د ۲۰۱۵ ډیسمبر د ۱۳۹۴ لیندۍ | د ۲۰۱۶ سپټمبر د ۱۳۹۵ وږی | د ۲۰۱۶ ډیسمبر د ۱۳۹۵ لیندۍ | د ټولیزه ناخالصه پورونو سلنه | د هر دریو میاشتو د ودې سلنه | د کلنۍ ودې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کوچني پوروونه | ۲،۰۵۹ | ۲،۲۴۲ | ۲،۵۹۵ | ۶.۳۶ | ۱۵.۷۴ | ۲۶.۰۳ |
| منځني پوروونه | ۳،۳۷۰ | ۳،۷۴۲ | ۴،۰۷۹ | ۹.۹۹ | ۹.۰۳ | ۲۱.۰۳ |

۱۰جدول: د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ میاشتې له مخې د بانکي نظام د ناخالصه پورونو تفکیک ښکاره کوي

| د بانکونو کټګوري | ناخالص پوروونه (ارقام په میلیون افغانی) |
|---|---|
| دولتي بانکونه | ۳،۰۵۶.۴۴ |
| خصوصي بانکونه | ۳۷،۷۷۸.۱۱ |
| د بهرنیو بانکونو نمایندګی | ۴۲۳.۶۶ |
| **مجموع** | **۴۱،۲۵۸.۲۱** |

۱۳ ګراف: د ناخالصه صعب الحصول پورونو او د حصـول وړ پورونو نسبت ښکاره کوي




د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ میاشتې د احصائیې پر بنسټ، په بېلابېلـو سکتورونو کې د نورو سوداګریزو پورونو وېش ۳۰ سکتورونو ته وېشل شوي دي. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیایي او اداري وېش کې بدلون نه دی راغلی، خو تمه کیږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي.

۱۱ جدول: په ولایتونو کې ( له جغرافیایي پلوه) د پورونو وېش ښکاره کوي

| شمېره | ولایتونه | د پور مبلغ (په میلیون افغانی) | د ټولیزه پورونو سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۳۰،۵۳۵.۹۰ | ۷۴.۰۱ |
| ۲ | هرات | ۳،۵۸۷.۲۰ | ۸.۷۰ |
| ۳ | بلخ | ۱،۸۷۸.۱۱ | ۴.۵۵ |
| ۴ | ننګرهار | ۱،۰۸۴.۴۰ | ۲.۶۳ |
| ۵ | بادغیس | ۱،۰۴۹.۵۴ | ۲.۵۴ |
| ۶ | کندهار | ۹۴۷.۷۳ | ۲.۳۰ |
| ۷ | بغلان | ۴۲۰.۶۰ | ۱.۰۲ |
| ۸ | بدخشان | ۴۱۶.۹۵ | ۱.۰۱ |
| ۹ | جوزجان | ۲۹۰.۵۹ | ۰.۷۰ |
| ۱۰ | سرپل | ۲۰۷.۸۴ | ۰.۵۰ |
| ۱۱ | تخار | ۲۰۰.۸۶ | ۰.۴۹ |
| ۱۲ | بامیان | ۱۹۲.۵۹ | ۰.۴۷ |
| ۱۳ | پروان | ۱۲۹.۹۰ | ۰.۳۲ |
| ۱۴ | فاریاب | ۱۱۴.۷۳ | ۰.۲۸ |
| ۱۵ | سمنګان | ۱۱۳.۰۰ | ۰.۲۷ |
| ۱۶ | کندز | ۷۹.۳۴ | ۰.۱۹ |
| ۱۷ | غزني | ۸.۹۴ | ۰.۰۲ |
| ۱۸ | نور | ۰.۰۶ | ۰.۰۰ |
| | ټولیزه | ۴۱،۲۵۸.۲۸ | |

۵ د ۱۳۹۳/۰۶/۲۶ نېټې د ۰۱/۹۳ ګڼې د محاسبې او راپور ورکونې متحدالمال

۱۲جدول: د ۱۳۹۵ کال لینډۍ میاشت کې د سکتوري پورونو وېش ښکاره کوي

| سکتور | د سلنې له مخې تولیزه پورونه |
|---|---|
| رهني او ودانيز پورونه | ۲.۹۲ |
| نور سوداګريز پورونه | |
| کرنه | ۰.۱۲ |
| مالداري او فارمونه | ۰.۰۶ |
| د فلزونو، څرمنو، پلاستيکو، لرګيو او کاغذونو توليدات | ۳.۴۷ |
| ماشيني توليدات او صنايع | ۳.۷۴ |
| سمنټ، وسايل او ودانيز مواد | ۱.۲۷ |
| نساجي | ۰.۷۳ |
| انرژي | ۰.۳۸ |
| ساختماني او ودانيز توکي | ۸.۲۰ |
| خدمتونه | ۳.۳۲ |
| هوټل او رستوانټ | ۱.۳۳ |
| مخابرات | ۵.۹۶ |
| ځمکنی ټرانسپورټ | ۴.۸۶ |
| هوايي ټرانسپورټ | ۲.۳۵ |
| روغتيا | ۱.۴۲ |
| د مطبوعاتو خپرونې او چاپتونونه | ۰.۰۵ |
| نور خدمتونه | ۹.۹۰ |
| عمده سوداګري | ۴.۳۴ |
| ماشين الات | ۰.۱۳ |
| پطروليم او روغنيات | ۱۱.۰۸ |
| پرزې (پرزه جات) | ۰.۲۶ |
| برېښنايي وسايل | ۱.۹۱ |
| سمنټ او ودانيز مواد | ۲.۳۵ |
| خوارکي توکي | ۷.۸۰ |
| نور اقلام | ۴.۱۷ |
| پرچونه سوداګري | ۷.۳۱ |
| سرک او ريل پټلۍ | ۰.۶۴ |
| بندونه | ۰.۰۴ |
| کانونه | ۰.۵۲ |
| نورې بېخبنسټيزې پروژې | ۲.۴۴ |
| مالي او اعتباري مؤسسې | ۰.۰۰ |
| کرنيز پورونه | ۳.۰۸ |
| مصرفي پورونه | ۰.۶۵ |
| انفرادي اشخاصو ته استوګنيز پورونه | ۲.۷۸ |
| نور ټول پورونه | ۰.۴۳ |
| **مجموعه** | **۱۰۰.۰۰** |

(۱۳) جدول د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ میاشت کې په مرکز، ولایتونو او ناحیو کې د مؤسسو د شمېر له پلوه په هېواد کې د مسفا د شریکانو عمومي جزئیات او د دې ترڅنګ د پیرودونکو، پوروړو، د پور د مبلغونو، د ښځینه پیرودونکو د سلنې، ښځینه پوروړو او داسې نورو جزئیات وړاندې کوي.

| شاخصونه | شمېر |
|---|---|
| د مسفا د شریکانو شمېر | ۵ |
| ولایتونه | ۱۴ |
| ناحیې | ۸۱ |
| پیرودونکي | ۲۰۵،۰۲۳ |
| مقروضین (پوروړي) | ۱۲۴،۴۶۳ |
| د ورکړل شوي پورونو شمېر | ۱،۰۹۶،۳۳۹ |
| د ورکړل شوي پورونو مبلغ (په میلیارد افغانی) | ۶۸.۴۱ |
| د پاتې پورونو شمېر | ۱۲۴،۴۶۳ |
| د پاتې ناخالصه پورونو مجموعه (په میلیارد | ۷.۳۶ |
| د پیرودونکو پاتې سپما (په ملیون ډالر) | ۱.۶۷ |
| د ښځینه پیرودونکو سلنه | ۲۹.۴ |
| ښځینه پوروړي | ۳۹،۵۹۲ |
| په کلیو او بانډو کې پورونه ( په میلیارد افغانی) | ۱.۳۸ |
| په ښارونو کې پورونه ( په میلیارد افغانی) | ۵.۹۸ |
| سرچینه | www.misfa.org.af |


## ۱.۳ ټولیزه امانتونه

امانتونه د بانکي نظام د تمویل او پوراینو(بدیهیو) تر ټولو لویه برخه جوړوي او د ۱۳۹۵ کال لیندۍ میاشت کې ۲۵۴.۹۵ میلیارده افغانۍ (۳.۸۲ میلیارده ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه پوراینو ۹۶.۱۸ سلنه جوړوي او د تیرې دورې (۱۳۹۴ لیندۍ) د ۲۳۷.۰۰ میلیارده افغانۍ (۳.۵۱ میلیارده ډالرو) او ۸.۲۹ سلنه ودې په پرتله ۷.۵۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام په افغانۍ امانتونه ۷۸.۸۶ میلیارده افغانۍ (۱.۱۸ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۱۹.۹۳ سلنه جوړوي او د مخکنۍ دورې (۱۳۹۴ لیندۍ) په پرتله ۱۹.۴۲ سلنه زیات شوي دي. د بانکي نظام ډالري امانتونه ۱۶۱.۷۴ میلیارده افغانۍ (۲.۴۲ میلیارده ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۶۳.۴۴ سلنه جوړوي او د تیرې دورې (۱۳۹۴ لیندۍ) په پرتله ۰.۵۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

خصوصي بانکونه د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو تر ټولو ډېره یعنې ۶۴.۷۷ سلنه ونډه جوړوي او د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د دولتي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډې په ترتیب سره ۲۵.۷۹ سلنه او ۹.۴۳ سلنه جوړوي.


۱۴ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه پورونو او امانتونو بهیر ښکاره کوي




### ۱.۳.۱ د ټولیزه امانتونو د ودې میاشتنۍ پرتله

د بانکي نظام امانتونه د ۱۳۹۴ کال په اوږدو کې نوساني بهیر درلوده. د روان کال (۱۳۹۵ لیندۍ) په اوږدو کې د بانکي نظام امانتونو ۳.۲۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې په یو شمېر بانکونو پورې تړاو لري او عمده لامل یې په ټولیزه امانتونو کې زیاتوالی په ګوته شوی دی. دا زیاتوالی په جاري او سپما امانتونو کې چې په ترتیب سره د ټولیزه امانتونو ۷۴.۷۹ سلنه او ۱۹.۸۲ سلنه جوړوي، رامنځه ته شوی دی. په ورته وخت کې موده ایزه امانتونه د ۱۳۹۵ کال په لیندۍ کې ۱.۱۳ سلنه راکم شوي دي.

۱۵ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو وده ښکاره کوي




۱۴ جدول: د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ میاشتې په پای کې د ټولیزه امانتونو ترکیب ښکاره کوي

| د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ میاشتې په پای کې د ټولیزه اماناتو ترکیب (په میلیون افغانۍ) | |
|---|---|
| جاري | ۱۹۰،۶۹۰.۴۳ |
| موده ایزه (میعادي) | ۱۳،۷۳۰.۱۶ |
| سپما | ۵۰،۵۳۰.۹۲ |
| **مجموعه** | **۲۵۴،۹۵۱.۵۱** |


## ۱.۴ ټولیزه پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري. د بانکي نظام پانګه د ۱۳۹۵ کال لیندۍ میاشت کې ۳۳.۹۰ میلیارده افغانۍ (۵۰۹ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د تیرې دورې (۱۳۹۴ لیندۍ) د ۲۴.۶۷ میلیارده افغانۍ (۳۶۶ میلیونه ډالرو) په پرتله ۳۷.۴۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د پانګې په کچه د زیاتیدو عمده لامل د کال په اوږدو کې د پانګې او ګټې تزریق په ګوته شوی دی. د بانکي نظام د مقرراتي پانګې نسبت د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ په اوږدو کې ۲۸.۶۷ سلنه ثبت شوی دی چې د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ د ۱۹.۹۴ سلنې په پرتله ۸.۷۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۵ کال په لیندۍ کې د دریو بانکونو مالي پانګه د افغانستان بانک له ټاکل شوي حدودو څخه ټیټه ده، خو د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت له یو بانک پرته د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد (د خطر په اساس د عیار شوي شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی.

ګراف د ۱۳۸۶ کال له کب څخه د ۱۳۹۵ کال تر لیندۍ پورې د بانکي نظام ټولیزه پانګه ښکاره کوي

۱۶ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه پانګه




## ۱.۵ ګټه

### ۱.۵.۱ د بانکي نظام میاشتنی ګټه

بانکي نظام د روانې میاشتې (۱۳۹۵ لیندۍ- ۲۰۱۶ ډیسمبر) په اوږدو کې ۷۵۳ میلیونه افغانۍ ګټه کړې ده، حال دا چې تیره میاشت یې ۴۳۱ میلیونه افغانۍ زیان کړی ؤ.

د ۱۵ بانکونو له ډلې څخه څلورو بانکونو د ۱۳۹۵ کال لیندۍ کې ۳۶۴ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې په تیره میاشت (۱۳۹۵ لړم) کې هم دا شمېر څلورو بانکونو ته رسیده چې ۹۲۴ میلیونه افغانۍ زیان یې درلوده. د یادونې وړ ده چې ۶۲ سلنه (۷۵۳ میلیونه افغانۍ) یاده ګټه په یو دولتي بانک پورې اړه لري. د ۱۳۹۵ کال په لیندۍ میاشت کې د بانکي نظام د ګټې اصلي لامل له ټکټانې پرته د ګټې د پام وړ زیاتوالی چې زیاته برخه یې په یو دولتي بانک پورې اړه لري او د پورونو د تضمین د پلور له درکه تر لاسه شوي، په ګوته شوی دی. د بانکي نظام د ګټې نور لاملونه د پورونو د خسارې په جبران کې کموالی، د اسعارو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه د ګټې زیاتوالی او بیرته ګرځیدلې مالیې ګڼل کیږي. په ورته وخت کې د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ په

اوړدو کې د خالصه ټکټاني ګټې ټيټوالی او عملياتي لګښتونو زياتوالی مونډلی دی.


ميډيان يا منځنی ارزښت (Spread) يا د بانکي نظام د پورونو د ټکټاني او د نوي امانتونو د ټکټاني ترمنځ توپير ۹.۲۹ سلنه دی چې د مخکنۍ مياشتې ( ۱۳۹۵ لړم) د ۱۱.۵۶ سلنې په پرتله يې کموالی مونډلی دی. د ۱۳۹۵ کال لیندۍ مياشت کې د دريو بانکونو ميډيان يا منځنی ارزښت (Spread) د بانکي نظام له منځني ارزښت څخه ټيټ ؤ او د اوو بانکونو منځني ارزښت (Spread) د محاسبې وړ نه دی[۶]. د ۱۳۹۵ کال لیندۍ مياشت کې د بانکي نظام د اغيزناکۍ(Efficiency) منځنی حد ۱.۴۳ سلنې ته رسيږي چې د تيرې مياشتې په پرتله ۰.۳۷ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي. سربيره پر دې، اوه بانکونه په بانکي نظام کې د مثمريت له منځني حد څخه ټيټ واقع دي.

## ۱.۵.۲ په ټوليزه توګه د بانکي نظام ګټه ( د ۲۰۱۶ له جنوری تر ډيسمبره – د ۱۳۹۴ له مرغومي څخه د ۱۳۹۵ تر لیندۍ پورې):

د افغانستان بانکي نظام په ټوليزه توګه د ګټورتيا له پلوه د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) په اوږدو کې د ښه مقام په درلودلو سره ۴.۲۹ ميلیارده افغانۍ (۶۴.۴۳ ميليونه ډالره) خالصه ګټه ترلاسه کړې ده، حال دا چې په تيره دوره (۱۳۹۴ مالي کال) کې د بانکي نظام خالصه ګټه ۵۲۲ ميليونه افغانۍ ته رسيده چې د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي. په پايله کې شتمنيو ته د بيا ګرځيدنې نسبت د ۱۳۹۴ کال د ۰.۲۰ سلنې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په لیندۍ کې ۱.۵۵ سلنې ته زيات شوی دی. د يادونې وړ ده چې د بانکي نظام د ګټې عمده برخه د سوداګريزو شتمنيو د بيا ارزښت ټاکنې ګټه چې د اسلامي بانکدارۍ په څانګو کې په يو دولتي بانک پورې اړه لري، جوړوي.

په دې دوره کې د بانکي نظام د ګټې د زياتيدو عمده لامل له ټکټاني پرته د ګټې د پام وړ زياتوالی او د اعتباري تأميناتو ( د پورونو د خسارې د جبران) کموالی په ګوته شوی دی او همدا ډول د خالصې ټکټاني ګټه هم د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې زياته شوې ده. عملياتي او مالياتي لګښتونه د تير کال (۱۳۹۴ – ۲۰۱۵) په پرتله زيات شوي او بانکي نظام په ټوليزه توګه ۲۰ ميليونه افغانۍ د اسعارو د بيا ارزښت ټاکنې له درکه زيان کړی دی. په ټوليزه توګه دريو بانکونو ۱.۱۸ ميلیارده افغانۍ زيان کړی دی چې په تيره دوره (۱۳۹۴ لیندۍ) کې ټوليزه زيان څلورو بانکونو ته نسبت ورکول کيده چې ۱.۲۸ ميلیارده افغانۍ ته رسيده. بايد يادونه وکړو چې د اساسي عايد ( Core Income) پر بنسټ درې بانکونه په زيان کې دي چې په تيره دوره کې يې شمېر دوه بانکونو ته رسيده.

۱۷ ګراف: د بانکي نظام د ګروپونو ټوليزه ګټه او زيان وړاندې کوي




## ۱.۶ سياليت

د ټولو بانکونو د سياليت نسبت، د افغانستان بانک د سياليت لپاره د ټاکل شوي حد اقل ( د سياليت پراخه نسبت ۱۵ سلنه او د سياليت چټک نسبت ۲۰ سلنه) څخه لوړ دی. د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ مياشتې له مخې د بانکي نظام د چټک سياليت نسبت د منځني ارزښت له پلوه ۶۷.۷۴ سلنه دی چې د تيرې دورې (۱۳۹۴ لیندۍ) د ۶۸.۲۲ سلنې په پرتله ۰.۴۸ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ د مياشتې د شمېرو په بنسټ، په سترو امانتونو باندې (هغه امانتونه چې له ۵ ميليونو افغانۍ زيات وي) د بانکي نظام د امانتونو د ډېر تمرکز په هکله انديښنې شتون لري. دا ستر امانتونه د ټوليزه امانتونو شاوخوا ۵۷.۵۸ سلنه جوړوي او

[۶] منځنی ارزښت ( د بانکي نظام د پورونو د ټکټاني او د نوي امانتونو د ټکټاني ترمنځ توپير) په مياشتنی توګه محاسبه کيږي. له همدې امله که چېرې يو بانک د يو مياشت په ترڅ کې هيڅ پور يا نوي امانتونه او يا دواړه يې درلودلي نه وي، د هغه بانک يا بانکونو منځنی ارزښت (سپريد) د محاسبې وړ نه دی.

۵،۷۳۶ حسابونه رانغاړي چې د نقدینه ګی له پلوه ډېره مهمه او د تبنتیدونکې پوراینو (مفر بدیهیو) له اقلامو څخه شمېرل کیږي. سر بېره پردې د سترو امانتونو منځنی حد ۴۷۳ میلیونه افغانۍ دی چې د تېرې ربعې د ۲۸۷ میلیونه افغانۍ په پرتله یې زیاتوالی موندلی دی.

**۱.۷ د اسعارو پرانیستی وضعیت**

بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک د اسعارو عمومي پرانیستي وضعیت (۴۰± سلنه) او د اسعارو انفرادي پرانیستي وضعیت (۲۰± سلنې) لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې واقع دي، پرته له اوو بانکونو څخه چې د عمومي او انفرادي پرانیستي وضعیت (د ډالرو لنډ مهال او اوږد مهال وضعیت او د یورو اوږد مهال وضعیت) لپاره یې له ټاکلي حد څخه سرغړونه کړې ده.

۱۵ جدول: د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ میاشتې له مخې د کارکوونکو، پوروړو، امانت اېښودونکو او نورو پیریدونکو د شمېر احصائیه وړاندې کوي

| شاخصونه | شمېر |
|---|---|
| کورني کارکوونکي | ۸،۹۵۰ |
| بهرني کارکوونکي | ۹۱ |
| پوروړي | ۵۹،۳۷۹ |
| امانات ایښودونکي | ۳،۵۹۱،۵۷۹ |
| نور پیرودونکي[۷] | ۱۹،۱۱۸ |

[۷] نور پیرودونکي هغه پیرودونکي دي چې بانکي تضمینونه، لیتراف کریډټ او نور تضمینونه او ژمنې یې درلودلي وي.

# دادائیزم

## د ادواینو سیستم

د افغانستان بانک د قانون پر بنسټ، د دې بانک له بنسټیزو موخو او دندو څخه یو هم د ورکړې د خوندي، سالم او اغېزناکه ملي سیستم پیاوړتیا جوړوي. همدا ډول د افغانستان بانک د قانون د اووه اتیایمې مادې سره سم، دا بانک اړ دی چې د ادواینې سالمه او اغېزناکه سیستمونه جوړ کړي، ترې ساتنه وکړي او ورته پراختیا ورکړي. په همدې موخه د افغانستان بانک د هېواد د ادواینیزو (تادیاتي) سیستمونو او د هغه د مجریانو د ثبت، تنظیم او څارنې مسؤل دی.

د ادواینو لوی آمریت د افغانستان بانک له شعبو څخه دی چې د تادیاتو په برخه کې فعالیت کوي. د ورکړې د سالم، خوندي ملي سیستم طرحه، جوړول او پراخه کول، له احتمالي خطرونو څخه مخنیوی او کنټرول او دولت، مالي سکتور او له دې لارې خلکو لپاره په خپل وخت د اغېزناکه، اعتماد وړ او له نړیواله معیارونو سره برابر د کورنیو او بهرنیو ادواینیزو خدمتونو وړاندې کول د دې آمریت موخه ګڼل کیږي. د ادواینو لوی آمریت د یادو دندو ترڅنګ د تکنالوژیکي بدلونونو په پام کې نیولو سره د ورکړې د کورنې سیستمونو د پراختیا په موخه د عامه ګټو د ودې لپاره هم هڅې کوي.

د افغانستان بانک د ادواینو لوی آمریت په دوو برخو (عملیاتي او څېړنې او پراختیا) کې فعالیت کوي چې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې یې لاندې کړنې ترسره کړي دي:


**۱. عملیاتي برخه:**

د ادواینو د لوی آمریت عملیاتي برخې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د ادواینیزو سیستمونو له لارې نړیواله ادواینې، د بانکونو ترمنځ ادواینې، کورنۍ ادواینې او د چکونو تصفیه او تسویه ترسره کړې ده چې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

**نړیوالې ادواینې (سویفټ)**

په دې برخه کې ۱،۳۳۲ وارده معاملې د ۱.۵۳۱ میلیارده ډالرو په ارزښت، ۱۸۴ معاملې د ۳۴.۳۱۴ میلیونه یورو په ارزښت او همدا ډول ۱،۹۷۰ صادره معاملې د ۵.۵۰۹ میلیارده ډالرو په ارزښت او ۱۳۸ معاملې د ۹۷.۸۸۴ میلیونه یورو په ارزښت ترسره شوي دي. د یادونې وړ ده چې په دې برخه کې د وارده او صادره معاملو سربېره د IBRD او FX Deal مبادلوي معاملو اړوند ۶۱۷ معاملې د ۱.۵۲۶ میلیارده ډالرو په ارزښت د نړیوالې ادواینو د سیستم له لارې اجراء او طی مراحل شوي دي.


۱۸ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د وارده او صادره معاملو شمېر ښکاره کوي




**د بانکونو ترمنځ ادواینې**

د بانکونو ترمنځ د ادواینو برخه د بانکونو ترمنځ معاملې ترسره کوي. دې برخې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ۹۲،۹۳۱ معاملې د ۴۱۲.۹۴۳ میلیارده افغانۍ په ارزښت، ۴۸،۱۱۴ معاملې د ۶.۷۳۸ میلیارده امریکايي ډالرو په ارزښت او ۹۹۶ معاملې د ۱۰۶.۵۴۴ میلیونه یورو په ارزښت چې ټولېزه توګه ۱۴۲،۰۴۱ معاملې کیږي، د بانکونو ترمنځ د ادواینو سیستم له لارې طی مراحل او اجراء کړې دي.


۱۹ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د بانکونو ترمنځ د ادائينې د سيستم له لارې د افغانۍ او اسعاري معاملو شمېر ښکاره کوي




**د نمايندګيو ترمنځ ادائينې**

د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د نمايندګيو ترمنځ د ادائينې او تلګرام د سيستم له لارې په ټوليزه توګه ۷۳۲ افغانۍ معاملې د ۱۰.۴۱۶ ميلیارده افغانۍ په ارزښت او ۲۲ معاملې د ۲.۵۴۱ ميليونه ډالرو په ارزښت ترسره شوي دي. د يادولو وړ ده چې دا برخه د اسعارو د ليلام او د ګمرکونو معاملې هم رانغاړي.

۲۰ ګراف: په ۱۳۹۵ مالي کال کې د بانکونو ترمنځ د ادائينې د سيستم له لارې د افغانۍ او اسعاري معاملو شمېر ښکاره کوي




**د چکونو د تسويې او تصفيې برخه**

کليرنګ هاوس د ادائينو د آمريت يو له کاري برخو څخه ده چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې يې ۲،۴۲۰ قطعې چکونه د ۵۸۷.۶۴۱ ميليونه افغانۍ په ټوليزه ارزښت او ۱،۸۶۴ قطعې چکونه د ۱۴.۷۷۴ ميليونه ډالرو په ارزښت او ۶ قطعې چکونه د ۲۰۳.۱۰۰ زره يورو په ارزښت طی مراحل کړې دي.

۲۱ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په ترڅ کې د چکونو د تسويې او تصفيې د برخې د معاملو شمېر ښکاره کوي




**۱. د څېړنې او پراختيا برخه**

د څېړنې او پراختيا برخه د سيمې او نړۍ د هېوادونو له نړيوالو معيارونو سره سم د ادائينيزو سيستمونو او د کاري چاپېريال د پراختيا په برخه کې فعاليت کوي. په ۱۳۹۵ مالي کال کې د دې برخې اجراء شوې کړنې په لاندې ډول وړاندې کېږي.

- د بانکونو ترمنځ د ادائينې د سيستم له لارې د هوايي او ځمکني ګمرکونو د ګمرکي محصولاتو د عوايدو راټولول او د نورو ولايتونو د ګمرکي معاملو د راټولولو د بهير پراختيا؛
- د افغانستان بانک د هېواد د ادائينيزو سيستمونو د عصري کيدو د بهير په لړ کې چې د بانکونو ترمنځ د معاملو تصفيه، د بيه لرونکي پاڼو د معاملو اجراء او په بشپړ برېښنايي ډول د چکونو تصفيه رانغاړي، په ۱۳۹۵ مالي کال کې توانيدلی دی چې اړوند سندونه (FSD) بيا وګوري او د ډيزاين لپاره يې کمپنۍ ته ولېږي او بيا د افغانستان بانک اړونده کميټه هغه

ولولي او په اړه يې خپل نظرونه وړاندې کړي چې له هرې اړخيزې کتنې وروسته ياد سندونه نهايي او د دواړو برخو له لوري لاسليک کېږي چې د ۱۳۹۶ کال په وروستيو کې به فعاله او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

- د بانکونو ترمنځ د ادواينو د سيستم له لارې د سوداګريزو بانکونو تر عنوان لاندې د ماليې وزارت د (معاشونو) ۹۰ سلنه ورکړه.
- دا چې په افغانستان کې چکونه معياري نه دي، په همدې موخه د افغانستان بانک د ادواينو لوی آمريت د افغانستان د بانکونو د ټولنې او د سوداګريزو بانکونو په همکارۍ د چکونو په معياري کيدو باندې کار پيل کړی، دی څو چکونه په سمه توګه د ماشين لخوا وپېژندل شي او همدا ډول په افغانستان کې د چکونو د معياري کيدو (د افغانستان بانک او د ټولو سوداګريزو بانکونو د چکونو) لپاره د کړنلارې جوړول او ترتيبول نهايي پړاو ته رسېدلی او ياده کړنلاره بانکونو ته استول شوې ده چې د ۱۳۹۶ کال تر پايه پورې به ټول چکونه په ټاکلي معيار عيار شي. له ټاکلي پلان سره سم بانکونو ته وخت ورکړل شوی چې خپل ټول چکونه له اړوندې لارښوونې سره سم عيار کړي.
- د ستراتيژۍ د لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونو ترتيبول
- د خطر د مخنيوي لپاره له عمومي بانکدارۍ سيستم (CBS) سره د ادواينې د نړيوال سيستم (سويفټ) نښلول
- د افغانستان بانک له سيستم سره د افغانستان د ادواينيزو سيستمونو (APS) د نښلولو په برخه کې همکاري او د سويچ عملي کول يا د نويو ادواينيزو سيستمونو نښلول او اړوندو حسابونو ته د هغه اجراء کول.

# د بازار عملیات

## د بازار عملیات

د افغانستان بانک د قانون د پنځم څپرکي د دوم بند پر بنسټ، د افغانستان بانک د پولي دندو او کړنو څخه یو هم د آزاد بازار عملیات جوړوي. د دې ترڅنګ د افغانستان بانک د قانون د درې شپیتمې مادې پر بنسټ، دا بانک کولای شي د خپل پولي سیاست د پلي کولو لپاره د آزاد بازار له لارې د مبادلې وړ بهرنیو اسعارو او د خپاره شويي پور د بیه لرونکو سندونو، په قطعي پیرودنه او پلورنه (د فوري یا مخکنۍ پیرودنې) او د بیا پیرودنې د قرارداد په موجب اقدام وکړي. له همدې امله د بازار عملیات لوی آمریت د پولي سیاست د اجرائیوي بنسټ په توګه عمل کوي او د اسعارو او بیه لرونکو پاڼو لیلام په لاره اچوي او د پورتنیو دندو ترڅنګ، د هېواد د اسعاري زیرمو د پانګونې او اداري دنده هم پرغاړه لري.

دلته په لنډه توګه د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د ریزرف شتمنیو، د بیه لرونکو پاڼو د لیلام، د اسعارو د مبادلې او د اسعارو د لیلام په برخو کې د دې آمریت د کړنو له څرنګوالي څخه یادونه کېږي.

**ریزرف شتمنی**

د افغانستان بانک ریزرف شتمنۍ د ۱۳۹۴ مالي کال د مرغومې په لومړیو کې ۶.۸۱۲ میلیارده امریکایي ډالره وې چې د ۱۳۹۵ مالي کال د لیندۍ په ۳۰ نېټه ۷.۳۳۴ میلیارده امریکایي ډالره ثبت شوي دي. همدا رنګه د افغانستان بانک په پورتوفولیو کې ریزرف او اسعاري شتمنۍ د ارزونې لاندې موده کې ۵۲۲ میلیونه امریکایي ډالره زیاتوالی ښکاره کوي.

د دې ترڅنګ د بازار عملیات د لوی آمریت د ریزرف مدیریت د نړیوال بازار د وضعیت د شننې او کتنې او د پانګې اچونې د څرنګوالي په پام کې نیولو سره د ۱۳۹۵ مالي کال له پانګونو څخه تر لاسه شوې ګټه په اوسط ډول شاخوا ۳۲ (دوه دېرش) میلیونه امریکایي ډالره اټکل کړې ده چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې یې وکولای شو چې شاوخوا ۳۲.۸۲ (دوه دېرش اعشاریه دوه اتیا) میلیونه امریکایي ډالره ګټه د خپلو بهرنیو پانګونو له لارې ترلاسه کړي چې د تېر کال په پرتله یوه بې سارې لاسته راوړنه ګڼل کېږي. حال دا چې په دې موده کې؛ د نړیوال بازار د پانګونې وضعیت د تېرو کلونو په پرتله نه یوازې د پام وړ ښه والی مونډلی نه دی، بلکې د استرلینګ پاونډ او یورو لپاره د پانګونې نړیوال بازار د تېرو کلونو په پرتله خراب شوی هم دی. که څه هم د Brexit ټولپوښتنو چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې په بریتانیا کې په لاره اچول شوې وې، د اسعارو په نرخ او په استرلینګ پاونډ کې د پانګونې د ټکټانې په نرخ باندې منفي اغېزې وارد کړې وې چې تر اوسه پورې د هغه ښه وضعیت د وړاندې وینې وړ نه دی. همدا ډول یورو د تېرو کلونو په پرتله په خراب وضعیت کې قرار لري چې د پانګونې نرخ هم د ۱۳۹۶ مالي کال تر پایه پورې د منفي لاندې حد کې اټکل شوی دی.

د یادولو وړ ده چې د شته ننګونو سره سره د بازار عملیات لوی آمریت خپل د پانګونې فعالیتونه د نړیوال بازار د شرایطو او ستونزو په پام کې نیولو سره داسې تنظیم کړي چې له مخې یې د افغانستان بانک د عوایدو حساب ته لا زیاته ګټه وارد کړي.

**لیټراف کریډېټونه**

د وارداتي لیټراف کریډېټونو مدیریت د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د وزارتونو او نورو دولتي ارګانونو او ادارو د اړتیا وړ توکو (سامان آلاتو او تجهیزاتو) د واردولو په موخه یو شمېر وارداتي لیټراف کریډېټونه له عادي او پراختیایي بودجې څخه په لاندې

اسعارو پرانیستلي دي.

۱۹ لیلام کې د ډالرو پرانیستل شوي چې ټولیزه ارزښت یې ۱۴۴،۰۰۳،۴۵۹/۰۲ ته رسیږي


۲ لیلام کې د افغانۍ پرانیستل شوي چې ټولیز ارزښت یې ۲۷،۷۷۲،۶۹۲/۰۰ ته رسیږي

۴ ټولیزه لیلام کې د یورو پرانیستل شوي چې ټولیزه ارزښت یې ۶،۵۱۲،۳۵۸/۳۹ ته رسیږي


## د بیه لرونکو پاڼو لیلام

د پولي سیاست د نورو ابزارونو ترڅنګ پانګه ایزې پاڼې هم د پولي سیاست یو له مهمو ابزارونو څخه ګڼل کېږي چې د افغانستان بانک د شته مقرري له مخې یې هره اوونۍ بازار ته وړاندې کوي.

په دې برخه کې د ۱۳۹۵ مالي کال له پیل څخه تر پایه پورې په اوونۍ کې یوځل د پانګه ایزو پاڼو لیلام په لاره اچول شوی چې د پورته مودې په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۹۹،۵۳۲،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ افغانۍ لیلام شوي دي چې جزئیات یې په (۲۲) ګراف کې وړاندې کیږي.





د بازار عملیات لوی آمریت د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۱،۹۲۱،۶۱۹،۹۱۴.۹۱ افغانۍ د بیه لرونکو پاڼو د ټکټاني او د پانګه اچوونکو لپاره د شپې امانتونو له کبله ورکړي دي. د لا وضاحت لپاره د (۲۳) ګراف وګورئ.




## د شپې د امانتونو اسانتیاوې

دې اداري د شپې اسانتیاوې (Standing Facility) چې د شپې امانتونه او د شپې لنډمهاله پورونه رانغاړي، سوداګریزو بانکونو لپاره برابرې کړي چې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د شپې د امانتونو د اسانتیا (Overnight Deposit Facility) اوسط چې د سوداګریزو بانکونو لخوا د افغانستان بانک سره ایښودل شوي دي، شاوخوا ۳.۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي او له همدې لارې د بازار عملیات دفتر ۲۳،۶۹۶،۹۶۱.۱۷ افغانۍ ټکټانه امانت ایښودونکو ته ورکړې ده. د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک د عالي شورا د تصویب پر بنسټ الزامي زیرمو لپاره د ټکټانې ورکړه د ۲۰۱۵ کال د جون په ۲۸ نیټه ودرول شوې او د سوداګریزو بانکونو د الزامي زیرمو ټولیزه بیلانس د مالي کال په پای کې شاوخوا ۱۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د لنډ مهاله او اوږدمهاله بیه لرونکو پاڼو لپاره د ټکټانې د نرخ اوسط په ترتیب سره ۱.۸۰ سلنه او ۶.۶۶۵ سلنه دی چې پــه (۲۴) ګراف کې تشریح شوی دی.



**د اسعارو لیلام**

د افغانستان بانک د پولي سیاست د نورو ابزارونو ترخنګ د کورني بیو د ټیکاو په موخه د اسعارو له لیلام څخه هم کار اخلي. د اسعارو لیلام معمولاً د شنبې، دوشنبې او چهارشنبې په ورځو کې ترسره کیږي چې له ۱۳۹۴/۱۰/۱ نیټې څخه تر ۱۳۹۵/۹/۲۹ نیټې پورې یو میلیارد او نهه سوه او شپږ ویش میلیونه او دوه سوه او درې پنځوس زره (۱،۹۲۶،۲۵۳،۰۰۰) ډالره په ۱۰۹ ځلو کې لیلام شوي دي.

# د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت

## د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت

د افغانستان بانک د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د اعتباري او رهني معلوماتو د برابرونکي په توګه فعالیت کوي چې بنسټیزې برخې يې د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت او د عامه اعتبارونو د ثبت سیستمونه رانغاړي. د معلوماتي تکنالوژۍ مدیریت، د سوداګریزې پرمختیا مدیریت او اداري او مالي مدیریت د دې آمریت له نورو برخو څخه ګڼل کیږي.

د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د دوو سیستمونو ( د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت سیستم او د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم ) لرونکي دی. دلته په لنډه توګه د عامه اعتبارونو د ثبت د آمریت د ۱۳۹۵ مالي کال کړنې د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت او د عامه اعتبارونو د ثبت په برخو کې وړاندې کوو:

**۱. د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت مدیریت**

د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت مدیریت چې د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت د سیستم اړوندو چارو تنظیمونکی دی، په بانکي معاملو کې د منقولو اموالو د رهن د قانون او د منقولو اموالو د رهني حقونو د خبرتیاوو د ثبت د مقررې د حکمونو په رڼا کې له نړیوالو معیارونو سره سم جوړ شوی دی. د دې سیستم موخه؛ د رهني حقونو د تقدم تثبیت او د دریم شخص د پوهاوي په موخه د رهني خبرتیاوو خپرول رانغاړي.

**هغه کړنې چې دې برخه کې ترسره شوي دي، په لاندې ډول وړاندې کیږي:**

- **د خبرتیاوو ثبت:** د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ له ۱۹ نېټې څخه تر اوسه پورې ۶،۴۳۷ رهني خبرتیاوې په دې سیستم کې ثبت شوي دي چې د ۱۳۹۴ ( ۲۰۱۵ زیږدیز) کال په پرتله د رهني حقونو ۱،۳۹۹ خبرتیاوې متراکم زیاتوالی ښکاره کوي. دا خبرتیاوې لومړنۍ، تمدیدي، اصلاحي او فسخي خبرتیاوې رانغاړي چې د سوداګریزو بانکونو او کوچني مالي مؤسسو لخوا یې درج شوی ارزښت ۶۵.۵۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې تیر کال په پرتله ۱۱ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د عامه پلټنو شمېر ( د انټرنټ له لارې) ۱۲،۰۳۸ ته رسیده چې دا شمېر په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱۵،۳۷۰ ته ورسیده چې ۳،۳۳۲ پلټنې زیاتوالی ښکاره کوي.

۱۶ جدول: د خبرتیاوو شمېر، ارزښت او پلټنې ښکاره کوي.

| کال | د خبرتیاوو شمېر | د خبرتیاوو ارزښت | د خبرتیاوو پلټنه |
|---|---|---|---|
| ۲۰۱۶ | ۶،۴۳۷ | ۶۵.۵۷ | ۱۵،۳۷۰ |

- **په ثبت شویو خبرتیاوو کې د سکتورونو ونډه:**

د منقولو اموالو د ثبت شویو خبرتیاوو ټولیز ارزښت په ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) کې ۶۵،۵۷۵،۶۷۰،۶۷۷ ( پنځه شپېته میلیارده او پنځه سوه پنځه اویا میلیونه او شپږ سوه اویا زره او شپږ سوه اوه اویا) افغانۍ ته رسیږي چې له دې ډلې یې ۲۴،۷۸۳،۹۸۱،۰۷۱ ( څلورویشت میلیارده او اوه سوه دري اتیا میلیونه او نهه سوه یو اتیا زره او یو اویا) افغانۍ فعالې او ۴۰،۷۹۱،۶۸۹،۶۰۶ ( څلویښت میلیارده او اوه سوه یو نوي میلیونه او شپږ سوه نهه اتیا زره او شپږ سوه شپږ ) افغانۍ غیر فعالې ( موده یې پای ته رسولې) دي.

۱۷جدول: د هر سکتور د ارزښت جزئیات

| ارقام په افغانۍ | | |
|---|---|---|
| سکتور | فعال ثبت | سرته رسیدلی ثبت |
| کرنه | ۱۴۳،۱۰۰،۰۰۰ | ۱۲۸،۰۵۴،۰۰۰ |
| سوداګري | ۱۸،۰۸۵،۵۳۲،۷۷۰ | ۳۴،۰۴۶،۵۸۱،۱۰۶ |
| لګښت کوونکي | ۳۶۷،۹۳۰،۰۰۰ | ۲۲،۹۵۰،۰۰۰ |
| کان او پترولیم | ۱،۶۵۷،۵۹۹،۹۰۰ | ۳،۷۶۳،۰۴۴،۰۰۰ |
| نور سکتورنه | ۴،۵۲۱،۳۱۸،۴۰۱ | ۲،۸۳۲،۶۶۰،۵۰۰ |
| دولتي خدمتونه | ۶،۹۰۰،۰۰۰ | ---- |
| ټولیزه | ۲۴،۷۸۲،۳۸۱،۰۷۱ | ۴۰،۷۹۳،۲۸۹،۶۰۶ |

د پورته جدول په پام کې نیولو سره د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت په سیستم کې تر ټولو زیاتې ثبت شوې خبرتیاوې ۱۸،۰۸۵،۵۳۲،۷۷۰ ( اتلس میلیارده او پنځه اتیا میلیونه او پنځه سوه دوه دېرش زره او اوه سوه اویا) افغانۍ ته رسیږي چې د سوداګرۍ د سکتور اړوندې دي او تر ټولو لږې ثبت شوې خبرتیاوې ۶،۹۰۰،۰۰۰ (شپږ میلیونه او نهه سوه زره ) افغانۍ جوړوي چې د دولتي خدمتونو سکتور پورې اړه لري.


- **د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) په اوږدو کې د ثبت شویو خبرتیاوو ارزښت:** د ثبت شویو خبرتیاوو ټولیز ارزښت له لومړۍ میاشتې تر دولسمې پورې په هر میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي چې ارزښت یې د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړۍ میاشت کې ۵۴.۷۴ ( څلور پنځوس میلیارده او ۷۴ میلیونه) افغانۍ او د ۲۰۱۶ کال د دولسمې میاشتې په پای کې ۶۵.۵۷ (پنځه شپېته میلیارده او اوه پنځوس میلیونه) افغانۍ ثبت شوې چې د کال له پیل څخه تر پای پورې ۱۰.۸۳ (لس میلیارده او درې اتیا میلیونه ) افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.
- **د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) په اوږدو کې د ثبت شویو خبرتیاوو نوعیت:** د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت سیستم لاندې خبرتیاوې د هغه د نوعیت او شمېر( تائید شوې پلټنې، لومړنۍ، اصلاحي، تمدیدي او فسخي) خبرتیاوو له مخې ثبت کړې دي:

۱۸ جدول: د منقولو اموالو د تضميناتو د ثبت په سیستم کې د پلټنو او د ثبت شویو خبرتیاوو د شمېر جزئیات وړاندې کوي:

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په سایټ کې پلټنه | جنوري | فبروري | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | اګست | سپټمبر | اکتوبر | نومبر | ډیسمبر |
| | ۱۲،۳۲۵ | ۱۲،۶۴۸ | ۱۳،۰۳۹ | ۱۳،۲۸۳ | ۱۳،۶۲۲ | ۱۳،۹۷۵ | ۱۴،۱۴۵ | ۱۴،۴۸۷ | ۱۴،۶۰۹ | ۱۴،۹۰۷ | ۱۵،۱۸۱ | ۱۵،۳۷۰ |

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ثبت شویو خبرتیاوو شمېر | جنوري | فبروري | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | اګست | سپټمبر | اکتوبر | نومبر | ډیسمبر |
| | ۵،۱۳۵ | ۵،۳۰۵ | ۵،۴۷۴ | ۵،۵۳۹ | ۵،۷۲۷ | ۵،۸۲۸ | ۶،۰۱۸ | ۶،۱۲۰ | ۶،۲۰۷ | ۶،۳۲۰ | ۶،۳۴۸ | ۶،۴۳۷ |

- **د هغه منقولو اموالو ارزښت چې په مقابل کې یې بانکونو پور اجراء کړی دی:** د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) په اوږدو کې د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت په سیستم کې، د منقولو اموالو ارزښت چې په مقابل کې یې بانکونو پور اجراء کړی، ثبت کړی دی چې په دې برخه کې د لا وضاحت لپاره کولای (۲۵) ګراف ته مراجعه وکړئ.



- د سکتور پر بنسټ فعالې او تړلې ثبت شوې خبرتیاوې: د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت په سیستم کې د سکتور پر بنسټ فعالې او تړلې خبرتیاوې هم ثبت شوي دي. د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) په اوږدو کې د کانونو او پترولیم، دولت، لګښت کوونکي، سوداګرۍ او کرنې په برخو کې لاندې خبرتیاوې ثبت شوي دي.

۱۹ جدول: د سکتور پر بسټ فعالې او تړلې ثبت شوې خبرتیاوې وړاندې کوي

| | متفرقه | کان و پترولیم | دولت | لګښت کوونکي | سوداګري | کرنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جنوري | ۴،۴۳۱،۹۸۵،۷۲۱ | ۴،۸۳۸،۴۱۴،۹۰۰ | ۰ | ۱۲۱،۷۳۰،۰۰۰ | ۴۵،۰۸۰،۴۲۲،۰۶۶ | ۲۷۱،۱۵۴،۰۰۰ |
| فبروري | ۴،۴۵۷،۵۴۵،۷۲۱ | ۴،۸۳۳،۶۱۴،۹۰۰ | ۶،۹۰۰،۰۰۰ | ۱۴۵،۲۸۰،۰۰۰ | ۴۵،۷۷۹،۹۶۲،۰۶۶ | ۲۷۱،۱۵۴،۰۰۰ |
| مارچ | ۴،۵۹۲،۲۹۵،۷۲۱ | ۵،۲۰۳،۷۴۳،۹۰۰ | ۶،۹۰۰،۰۰۰ | ۱۸۴،۹۳۰،۰۰۰ | ۴۶،۰۴۹،۹۶۲،۰۶۶ | ۲۷۱،۱۵۴،۰۰۰ |
| اپریل | ۴،۶۳۶،۵۵۲،۲۰۱ | ۵،۲۰۴،۵۴۳،۹۰۰ | ۶،۹۰۰،۰۰۰ | ۱۸۴،۹۳۰،۰۰۰ | ۴۶،۵۳۸،۷۰۵،۱۷۳ | ۲۷۱،۱۵۴،۰۰۰ |
| می | ۴،۶۷۱،۰۱۷،۲۰۱ | ۵،۲۱۸،۶۹۳،۹۰۰ | ۶،۹۰۰،۰۰۰ | ۲۱۵،۲۸۰،۰۰۰ | ۴۷،۷۸۲،۱۰۶،۹۰۵ | ۲۷۱،۱۵۴،۰۰۰ |
| جون | ۵،۱۳۱،۰۶۷،۲۰۱ | ۵،۲۲۲،۲۹۳،۹۰۰ | ۶،۹۰۰،۰۰۰ | ۲۵۷،۵۸۰،۰۰۰ | ۴۸،۴۸۱،۶۱۲،۹۰۵ | ۲۷۱،۱۵۴،۰۰۰ |
| جولای | ۶،۶۵۵،۶۸۷،۲۰۱ | ۵،۳۷۲،۷۹۳،۹۰۰ | ۶،۹۰۰،۰۰۰ | ۲۹۶،۶۸۰،۰۰۰ | ۴۸،۸۲۹،۰۰۱،۹۰۵ | ۲۷۱،۱۵۴،۰۰۰ |
| اګست | ۶،۶۷۰،۴۸۷،۲۰۱ | ۵،۳۸۲،۹۹۳،۹۰۰ | ۶،۹۰۰،۰۰۰ | ۳۴۳،۷۳۰،۰۰۰ | ۴۹،۲۹۶،۵۲۵،۹۰۵ | ۲۷۱،۱۵۴،۰۰۰ |
| سپتمبر | ۷،۰۴۵،۲۸۷،۲۰۱ | ۵،۴۰۴،۷۹۳،۹۰۰ | ۶،۹۰۰،۰۰۰ | ۳۵۲،۰۸۰،۰۰۰ | ۴۹،۴۳۳،۲۲۵،۹۰۵ | ۲۷۱،۱۵۴،۰۰۰ |
| اکتوبر | ۷،۱۰۴،۵۳۷،۷۰۱ | ۵،۴۱۹،۰۴۳،۹۰۰ | ۶،۹۰۰،۰۰۰ | ۳۹۰،۸۸۰،۰۰۰ | ۵۱،۳۴۲،۷۸۵،۹۰۵ | ۲۷۱،۱۵۴،۰۰۰ |
| نومبر | ۷،۱۰۴،۵۳۷،۷۰۱ | ۵،۴۱۹،۰۴۳،۹۰۰ | ۶،۹۰۰،۰۰۰ | ۳۹۰،۸۸۰،۰۰۰ | ۵۱،۶۶۱،۶۲۴،۱۱۶ | ۲۷۱،۱۵۴،۰۰۰ |
| | | | | | | |
| ډیسمبر | ۷،۳۵۳،۹۷۸،۹۰۱ | ۵،۴۲۰،۶۴۳،۹۰۰ | ۶،۹۰۰،۰۰۰ | ۳۹۰،۸۸۰،۰۰۰ | ۵۲،۱۳۲،۱۱۳،۸۷۶ | ۲۷۱،۱۵۴،۰۰۰ |

## ۲. د عامه اعتبارونو د ثبت مدیریت (Public Credit Registry)

د عامه اعتبارونو د ثبت د اداري بنسټیزه موخه د معیاري اعتباري معلوماتو راټولول او مالي مؤسسو، سوداګریزو بانکونو، مخابراتي شرکتونو او اړوندو ادارو ته د مطلوبه اعتباري خدمتونو وړاندې کول دي. د اعتبارونو د ثبت سیستم د اسانتیاوو په کارولو سره، مالي مؤسسې کولای شي د پورونو د ترلاسه کولو په موخه د مشتریانو د مراجعې پر مهال د اشخاصو (مشتري) د اعتباري سوابقو په اړه معلومات ترلاسه کړي. د هېواد په بانکي سکتور کې د دې سیستم جوړول مستقیمې او غیر مستقیمې ګټې او اغیزې تر شاه لري او د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګ زمینه برابروي. دا سیستم د نړیوال بانک، نړیوالې مالي اداري (IFC) او حرکت مؤسسې په مرسته جوړ شوی دی. د دې سیستم په پلي کېدو سره بانکونه او مالي مؤسسې کولای شي هغه مشتریانو ته چې د ښه اعتبار لرونکي وي، په ډېرو اسانتیاوو سره پور اجراء کړي.

۲۰ جدول: د بانکونو، اشخاصو او شرکتونو ثبت شوي قراردادونه

| بانک | شرکتونو ته پور | انفرادي اشخاصو ته پور |
|---|---|---|
| لومړی ربعه | ۳،۴۸۸ | ۵۳،۷۶۲ |
| دویمه ربعه | ۳،۸۰۵ | ۵۴،۶۰۲ |
| دریمه ربعه | ۳،۵۸۶ | ۵۴،۰۷۵ |
| څلورمه ربعه | ۳،۷۰۷ | ۵۸،۴۹۲ |

۲۱ جدول: د پور ورکولو د کوچني مالي مؤسسو، اشخاص او شرکتونو ثبت شوي قراردونه

| د پور ورکولو کوچني مالي مؤسسې | د شرکتونو پور | د اشخاصو پور |
|---|---|---|
| لومړی ربعه | ۱۷ | ۱،۳۲۶ |
| دویمه ربعه | ۲۵ | ۱،۳۷۸ |
| درېمه ربعه | ۱۶ | ۱،۳۸۰ |
| څلورمه ربعه | ۲۴ | ۱،۳۳۷ |

- **د بانکونو او کوچنیو مالي مؤسسو د فیس او جریمو عواید:** د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د دواړو سیستمونو د عوایدو د تنظیم او راټولولو په برخه کې هم کارونه ترسره کړي دي چې جزئیات یې په لاندې جدول کې وړاندې کیږي:

۲۲ جدول: د بانکونو د فیس او جریمو عواید وړاندې کوي

| میاشت | جریمه | د اعتبارونو د ثبت فیس | د تضمیناتو د ثبت فیس |
|---|---|---|---|
| جنوري | ۳۷،۵۰۰ | ۱۷۳،۸۵۰ | ۴۹،۰۰۰ |
| فبروري | ۲۵،۰۰۰ | ۱۷۵،۱۰۰ | ۴۱،۰۰۰ |
| مارچ | ۲۵،۰۰۰ | ۲۰۸،۷۰۰ | ۴۹،۲۵۰ |
| اپریل | ۲۵،۰۰۰ | ۲۰۲،۲۵۰ | ۲۲،۲۰۰ |
| می | ۷۵،۰۰۰ | ۲۲۵،۴۰۰ | ۷۰،۱۰۰ |
| جون | ۵۰،۰۰۰ | ۱۵۸،۳۵۰ | ۳۵،۶۵۰ |
| جولای | ۰ | ۱۵۵،۴۵۰ | ۷۵،۰۵۰ |
| اګست | ۵۰،۰۰۰ | ۱۷۸،۴۵۰ | ۲۱،۰۰۰ |
| سپتمبر | ۲۵،۰۰۰ | ۱۱۶،۲۵۰ | ۳۳،۱۰۰ |
| اکتوبر | ۰ | ۱۵۹،۶۵۰ | ۴۰،۴۷۰ |
| نومبر | ۱۲،۵۰۰ | ۱۴۲،۳۲۵ | ۱۳،۹۰۰ |
| ډیسمبر | ۲۵،۰۰۰ | ۱۵۹،۲۲۵ | ۳۲،۷۰۰ |

۲۳جدول: د کوچنیو مالي مؤسسو د فیس او جریمو عواید ښکاره کوي

| د پور ورکولو کوچني مؤسسې | د اعتبارونو د ثبت فیس |
|---|---|
| جنوري | ۲۰،۰۰۰ |
| فبروري | ۲۰،۰۰۰ |
| مارچ | ۲۰،۰۰۰ |
| اپریل | ۲۰،۰۰۰ |
| می | ۲۰،۰۰۰ |
| جون | ۲۰،۰۰۰ |
| جولای | ۲۰،۰۰۰ |
| اګست | ۲۰،۰۰۰ |
| سپتمبر | ۲۰،۰۰۰ |
| اکتوبر | ۲۰،۰۰۰ |
| نومبر | ۲۰،۰۰۰ |
| ډیسمبر | ۲۰،۰۰۰ |

**د ۱۳۹۵ مالي کال (۲۰۱۶) لاسته راوړنې:**

د مخابراتو په وزارت (ANDC) کې د عامه اعتبارونو د ثبت د دویم سایټ بشپړول، د مشریانو د خدمتونو د مرکز د جوړیدو په طرحه باندې کار، د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستمونو په ازمایښتي سایټ کې د کوچنیو مالي مؤسسو د ( Micro Finance Loans) د ډېټا دننه کول، د (Exchangerzone, IIFC) مؤسسو لپاره د مقدماتي پروګرامونو د جوړولو ترڅنګ د صنعتي شرکتونو او سوداګرو ښځو لپاره د عامه پوهاوۍ د ورکشاپونو جوړول، په مرکز او د هېواد په ولایتونو کې د مالیې وزارت د معینیت او د کوچنیو مالي مؤسسو کارکوونکو لپاره د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت او د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستمونو په اړه د روزنیزو پروګرامونو جوړول او په پایله کې د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم لپاره د ډېټابیس Backup د کاري کړنلارې جوړول د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د دې آمریت مهمې لاسته راوړنې ګڼل کیږي.

# د افغان امانتونو د بیمې اداره

## د افغان امانتونو د بیمې اداره

د افغان امانتونو د بیمې اداره (Afghan Deposit Insurance Corporation) په سوداګریزو بانکونو کې د خلکو د امانتونو د خوندیتوب او ملاتړ، د بانکي سکتور د ثبات ساتلو، د مالي او اقتصادي کړکیچ د مخنیوی، د سپماوو د زیاتولو لپاره د امانت ایښودونکو د هڅولو او د هېواد په بانکي نظام باندې د خلکو د اعتماد راجلبولو په موخه د افغانستان بانک په اډانه کې پرانیستل شوې ده. له همدې امله هغه اداره چې د یو بانک د دیوالي کېدو پرمهال، د خلکو د امانتونو د بیا ورکړې په پروسه کې د هېواد په کچه بنسټیزه ونډه او مهم رول لوبوي او د اړوندو ادارو په همکارۍ د خلکو امانتونه په ټاکلي وخت او شرایطو سره ورکوي، د افغان امانتونو د بیمې اداره ده.

د افغانستان بانک په جوړښت کې د دې ادارې جوړېدل د پورته موخو د عملي کولو لپاره، ځانګړی ارزښت لري چې بې له شکه د هېواد په بانکي نظام باندې د خلکو د اعتماد او اعتبار کچه زیاتوي او په سوداګریزو بانکونو کې د امانتونو د خوندیتوب په برخه کې د امانت ایښودونکو د ډاډ لامل کېږي.

### د افغان امانتونو د بیمې د ادارې غړي سوداګریز بانکونه

تېر کال ته ورته، د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې هم د هېواد ۱۴ سوداګریزو بانکونو د افغان امانتونو د بیمې ادارې غړیتوب درلودلی چې له دې بانکونو څخه هر یو د بانکي کړنو او د خدمتونو د وړاندې کولو سربېره، له خپلو پیسو څخه یو اندازه پیسې هر کال په ربعواره توګه دې ادارې ته حق البیمې (Premium) ورکوي چې د دې بانکونو لړلیک په (۲۴) جدول کې وړاندې کیږي:

| شمېره | د بانک نوم |
|---|---|
| ۱ | عزیزي بانک |
| ۲ | آرین بانک |
| ۳ | د افغانستان نړیوال بانک |
| ۴ | فرسټ مایکرو فایننس بانک |
| ۵ | نشنل بانک آف پاکستان |
| ۶ | الفلاح بانک لمیتید |
| ۷ | حبیب بانک لمیتید |
| ۸ | افغان یونایتید بانک |
| ۹ | افغان ملي بانک |
| ۱۰ | پښتني بانک |
| ۱۱ | د افغانستان سوداګریز بانک |
| ۱۲ | میوند بانک |
| ۱۳ | غضنفر بانک |
| ۱۴ | باختر بانک |

### د افغان امانتونو د بیمې ادارې پولي سرچینې

د افغان امانتونو د بیمې د ادارې پانګه ایزه او عایداتي سرچینې څلور مرجعې (د افغانستان بانک او د مالیې وزارت څخه ترلاسه شوې لومړنۍ او دوراني پانګه، له سوداګریزو بانکونو څخه ترلاسه شوی حق العضویت، له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمې (Premium) راټولول او د دې ادارې د پیسو د پانګونې پروسه او له دې پانګې ترلاسه شوی عاید) جوړوي. د افغانستان بانک او له مالیې وزارت څخه د دې ادارې لومړنۍ او دوراني پانګه چې د سوداګریزو بانکونو حق العضویت هم رانغاړي، د لومړي ځل لپاره راټوله شوې چې پاتې د پیسو سرچینې هر کال په ربعواره توګه له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمې د راټولولو پروسه او په نورمال ډول د دې ادارې د پیسو د پانګونې پروسه جوړوي چې (۲۵) جدول کې وړاندې کیږي:

| | د افغان امانتونو د بیمې د ادارې د پیسو سرچینې |
|---|---|
| ۱ | لومړنۍ او دوراني پانګه |
| ۲ | یو ځل له سوداګریزو بانکونو څخه حق العضویت |
| ۳ | په کال کې څلور ځله له سوداګریزو بانکونو څخه حق البیمه (Premium) |
| ۴ | د دې ادارې د پیسو پانګونه |

**له غړو بانکونو څخه د حق البیمې د وضع کولو طریقه**

د افغان امانتونو د بیمې اداره د دې ادارې له ټولو غړو بانکونو څخه کلنی حق البیمه په ربعواره توګه د ټاکلي فورمول له مخې وضع کوي. د یادونې وړ ده چې اوس مهال ټول سوداګریز بانکونه د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت لخوا څارل او څېړل شوي چې دا بانکونه د خپلو کړنو د کچې له مخې په بیلابیلو کټګوریو (CAMEL Rating) ډله بندي شوي دي چې د همدې ډله بندۍ پر بنسټ، د افغان امانتونو د بیمې اداره د کال د څلورو ربعو په اوږدو کې خپله حق البیمه د دې بانکونو له حسابونو څخه وضع کوي.

له غړو بانکونو څخه د حق البیمې د راټولولو پروسه اوس مهال په پنځو کټګوریو کې له ټاکلو سلنو سره د حق البیمې د ټاکلي فورمول پر بنسټ د بانکونو له حساب څخه د افغانستان بانک سره د دې ادارې حساب ته وضع کیږي.

۲۶ جدول: په ۱۳۹۴ مالي کالي کې له غړو بانکونو څخه د حق البیمې د راټولولو لړۍ ښکاره کوي.

| د بانکونو ډله بندي (CAMEL Rating) | د حق البیمې د وضع کولو سلنه |
|---|---|
| ۱ | ۰.۱۳٪ |
| ۲ | ۰.۱۵٪ |
| ۳ | ۰.۱۸٪ |
| ۴ | ۰.۲۳٪ |
| ۵ | ۰.۲۵٪ |

د افغان امانتونو د بیمې ادارې د بانکونو ترمنځ د رقابتي انګیزو د رامنځ ته کولو او د خطرونو د راکمولو په موخه، د حق البیمې د وضع کولو د طریقې بدلون د افغانستان بانک عامل پلاوي ته وړاندې کړی چې د افغانستان بانک د عامل پلاوي د ۱۲۲ ګڼې تصویب له مخې منظور شوی. له غړو بانکونو څخه د حق البیمې وضع کول د همدې تصویب پر بنسټ اعتبار لري او د ۲۰۱۶ زیږدیز کال د مارچ له میاشتې څخه چې ۱۳۹۵ مالي کال سره سمون خوري، ترسره کیږي.

۲۷ جدول: د غړو بانکونو له حسابونو څخه د سلنې پر بنسټ د حق البیمې وضع کول ښکاره کوي.

| د بانکونو ډله بندي (CAMEL Rating) | د حق البیمې د وضع کولو سلنه |
|---|---|
| ۱ | ۰.۱۰٪ |
| ۲ | ۰.۱۵٪ |
| ۳ | ۰.۲۰٪ |
| ۴ | ۰.۳۰٪ |
| ۵ | ۰.۳۵٪ |


څرنګه چې په پورته جدول کې لیدل کیږي؛ هغه بانکونه چې د خطر د کچې سلنه یې کمه وي، د افغان امانتونو د بیمې ادارې (ADIC) ته لږه سلنه حق البیمه ورکوي، خو هغه بانکونه چې د خطر د کچې سلنه یې ډېره وي؛ دې ادارې ته باید ډېره سلنه حق البیمه ورکړي. همدا ډول د یادونې وړ ده چې لږه سلنه (۰.۱۰ ٪) او زیاته سلنه (۰.۳۵ ٪) جوړوي.

**د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د راټولې شوې حق البیمې کچه**


د افغان امانتونو د بیمې ادارې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې (۴۳۴،۷۰۳،۵۱۳) څلور سوه څلور دېرش میلیونه او اوه سوه درې زره او پنځه سوه دیارلس افغانۍ د سوداګریزو بانکونو له حساب

شخه د حق البيمې له درکه خپل حساب ته راټولې کړې دي. د لا وضاحت لپاره د (۲۸) جدول او (۲۶) ګراف ته مراجعه وکړئ.

| د ۱۳۹۵ مالي کال په ترڅ کې د غړو بانکونو له حسابونو څخه ټولیزه وضع شوې حق البیمه | | |
| --- | --- | --- |
| د کال ربعې | په افغانی مبلغ | کال |
| څلورمه ربعه | ۱۰۳،۰۹۱،۵۷۰ | د ۲۰۱۶ جنوري، فبروري او مارچ |
| لومړی ربعه | ۱۰۵،۸۴۸،۲۲۰ | د ۲۰۱۶ اپریل، می او جون |
| دویمه ربعه | ۱۱۰،۱۶۱،۸۱۶ | د ۲۰۱۶ جولای، اګست او سپټمبر |
| دریمه ربعه | ۱۱۵،۶۰۱،۹۰۷ | د ۲۰۱۶ اکتوبر، نومبر او ډیسمبر |
| ټولیز | **۴۳۴،۷۰۳،۵۱۳** | |




راټوله شوې حق البیمه د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې (۳۴۱،۹۲۶،۸۰۲) افغانۍ او په ۱۳۹۵ مالي کال کې (۴۳۴،۷۰۳،۵۱۳) افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې شاوخوا ۹۲،۷۷۶،۷۱۱ افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. د لا وضاحت لپاره (۲۷) ګراف ته مراجعه وکړئ.




- **د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د پانګه اچونې د برخې عواید او د فعالیت کچه**

د افغان امانتونو د بیمې اداري په ۱۳۹۵ مالي کال کې د افغانستان بانك د بیه لرونکو پاڼو په څو لیلامونو کې په انلاین ډول ګډون کړی دی چې له هغه ډلې په ۵ لیلامونو کې منل شوی او په ۷ نورو لیلامونو کې رد شوی دی. د ګټونکو مزایدو له ډلې څخه یې درې مزایدې د ۱۸۲ ورځو لپاره په پانګه اچول شوې او پاتې دوه مزایدې یې د ۳۶۴ ورځو لپاره په بېلابېلو نرخو سره په پانګه اچول شوې دي.

د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې په بیه لرونکو پاڼو کې د دې اداري د پیسو د پانګونې لـه لارې تـرلاسه شوې ګټه شـاوخـوا (۱۸۳،۵۸۹،۷۳۲) افغانۍ ته رسیږي. په همدې ترتیب د دې اداري ۳،۲۹۳،۲۵۱،۰۰۰ افغانۍ د افغانستان بانک د بیه لرونـکـونـو پـاڼـو لیلام (بیډینګ) ته اینښودل شوې دی چې پـه ټـولـیـزه تـوګـه ۱،۵۴۵،۷۵۶،۸۹۶ افغانۍ په لیلام کې مـنـل شـوې دي چې دا پانګونې ۵۸،۰۲۶،۸۸۷ افغانۍ ګټه رانغاړي.

د یادونې وړ ده چې د افغان امانتونو د بیمې اداري د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې له یو سوداګریز بـانـك سره د ثـانـوي بـازار (Secondary Market) د ګډون له لارې په بیه لرونکو پـاڼـو کې د پانګونې یو معامله هم ترسره کړې ده.

# د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز

## د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز (د مالي استخباراتو اداره) د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې د مبارزې د قانون او د نړیوال پېژندل شوي معیارونو په ځانګړې توګه د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د اړوندو کړنو پر وړاندې د مبارزې لپاره د هېواد د بانکي او مالي سیستم د ناسمې کارونې د مخنیوی په موخه د مالي اقداماتو د نړیوالې ډلې د وړاندیزونو پر بنسټ په ۲۰۰۶ کال کې د افغانستان بانک په اډانه کې تاسیس شو.

د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوی د قانون پر بنسټ، د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز په خپلو کړنو، دندو او فعالیتونو کې خپلواکه دی او د مشکوکو معاملو د راپورونو د ترلاسه کولو، شننې، څېړنې او خپرونې په پریکړو کې د بشپړ خپلواکي او د قانون له حکمونو سره سم د پیسو د وینځلو، اصلي جرمونو او د ترویریزم د تمویل د اړونده نورو معلوماتو مسؤولیت په غاړه لري. د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د مالي چارو د څارونکو، د قانون پلي کوونکو ادارو او د لویې څارنوالۍ سره یو ځای د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د کړنو د پېژندلو او مبارزې په موخه د یوه مناسبه چاپېریال د رامنځ ته کولو او ساتلو لپاره هلې ځلې کوي.

**د راپور ورکوونکو ادارو د لویو نغدي معاملو راپور:**

د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې د مبارزې قانون د ۱۷ مادې پر بنسټ، راپور ورکوونکې مراجعې اړ دي چې د هغو نغدي معاملو په اړه چې ارزښت یې د اړوندې مقررې له درج شوي حد څخه لوړ وي، د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز ته له وړاندې ویل شوې بڼې او مودې سره سم راپور ورکړي.

د پیسو د وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل په وړاندې د مبارزې د قانون او د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل په وړاندې د مسوولیتونو او مخنیوی کوونکو اقداماتو له مقررې سره سم، بانکي مؤسسې اړې دي څو د هغو معاملو په اړه چې ارزښت یې له (۱،۰۰۰،۰۰۰) افغانۍ څخه زیات یا معادل یې په نورو اسعارو وي، د راتلونکي میاشتې تر پنځمې کاري ورځې پورې د مالي استخباراتو ادارې ته راپور ورکړي. همدا ډول هغه معاملې چې په دوه پر له پسې ورځو کې یې ټولیزه ارزښت (۱،۰۰۰،۰۰۰) افغانۍ یا له دې زیاتې شي، باید د مالي استخباراتو ادارې ته یې راپور ولیږل شي.


۲۹ جدول: د لویو نغدي معاملو راپورونه چې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د بانکي مؤسسو لخوا وړاندې شوي دي، ښکاره کوي.

| میاشت | جنوري | فبروري | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | اګست | سپټمبر | اکتوبر | نومبر | ډیسمبر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د راپورونو شمېر | ۱۲۶،۳۴۴ | ۱۱۷،۲۸۸ | ۱۲۵،۰۹۰ | ۱۲۰،۹۸۸ | ۱۴۱،۰۱۴ | ۱۰۵،۹۵۰ | ۹۱،۷۱۶ | ۱۱۵،۰۹۴ | ۸۷،۹۱۷ | ۱۱۶،۴۷۹ | ۱۲۵،۴۱۶ | ۱۰۰،۶۲۳ |
| ټولیزه | | ۱،۳۷۳،۹۱۹ | | | | | | | | | | |

**د الکترونیکي پیسو د ادارو د لویو نغدي معاملو راپور**

د الکترونیکي پیسو د ادارو له مقررې سره سم هر هغه کورنی یا بهرنی لیږدونه چې ارزښت یې ۱۰،۰۰۰ افغانۍ یا له دې زیات وي، باید راپور یې د بلې میاشتې تر پنځمې کاري ورځې پورې د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز ته وړاندې شي. د دې ترڅنګ هغه معاملې چې په دوو پر له پسې ورځو کې یې ټولیزه ارزښت ۱۰،۰۰۰ افغانۍ یا له دې زیات شي، راپور یې باید د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز ته واستول شي.

۲۸ ګراف: د هغه لویو نغدي معاملې راپور چې د ۱۳۹۵ کال په اوږدو کې د الکترونیکي پیسو د ادارو لخوا وړاندې شوي دي، ښکاره کوي





**د پولي خدمتونو (حوالې) وړاندې کوونکي**

د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو په سکتور کې د پیسو وینځل او د ترهګرۍ تمویل د افغانستان د مالي استخباراتو د ادارې لپاره یو عمده اندېښنه ګڼل کیږي، له همدې امله یادې ادارې په دې برخه کې د خطرونو د کمولو لپاره د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې لاندې اقدامات ترسره کړي دي:

- په ټول هېواد کې د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د ۸۰ جوازونو فسخ کول؛
- په ټولیزه توګه د ۳.۲ میلیونه افغانۍ د نغدي جریمو وضع کول؛
- د پولي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د انفرادي حسابونو د کارونې منع کول؛
- د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو په سکتور کې د مخنیوی کوونکي څېړنو پیلول؛
- د ۵۵ خبرداریو صادرول؛
- د قانون پلې کوونکو ادارو ته د مخنیوی وړ قضیو خپرول؛
- د مالي استخباراتو د ادارې په ویب پاڼه کې د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د فسخ شویو جوازونو د لست خپرول؛
- د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو ۶۰ سلنه راپور ورکونې الکترونیکي کول؛
- د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې مبارزه کې د قوانینو د رعایتولو د رژیم د ښه والي په موخه د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو په مقرره کې د نویو تعدیلاتو طرحه کول؛
- د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د بندیزونو د لستونو د تطبیقولو په موخه د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د ټولنې ګډون؛
- د افغانستان بانک د نمایندګیو له لارې په ټولو ولایتونو کې د راپور ورکولو د نوي میکانیزم د آسانتیاوو رامنځ ته کول؛
- د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې له لوی آمریت سره یوځای د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او صرافانو د ساحې دننه لیدنو د لړۍ پیلول؛ او
- د دوامداره روزنیزو پروګرامونو وړاندې کول.

۲۹ ګراف: د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو لخوا د لویو نغدي معاملو د راپورونو د شمېر میاشتنی تفکیک ښکاره کوي





**د پیسو، اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو د لېږدونو کنټرول او راپور ورکونه**

په ۲۰۱۵ کال کې د اسعارو کنټرول یوازې د حامد کرزي او د بلخ په نړیوال هوایي ډګرونو کې ترسره کېده. د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د تخنیکي مرستو او د ګمرکونو د ریاست کارکوونکو، د ملي امنیت د لوی ریاست کارکوونکو، د اولیف ګروپ او سرحدي پولیسو ته د روزنیزو پروګرامونو په وړاندې کولو سره د حامد کرزي، کندهار او هرات په نړیوالو هوایي ډګرونو کې هم د اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو کنټرول پیل شو.

د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې د اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو کنټرول د افغانستان په ټولو نړیوالو هوایي ډګرونو کې پیل شو. د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز ته د ګمرکونو د ریاست لخوا د یو شمېر اظهار لیکونو (بیانیو) راپور ورکړل شوی دی.

(۳۰) جدول او (۳۰) ګراف هغه ښکاره کوي.

| شمېر | میاشت | د فورمو شمېر | ارقام په امریکایي ډالرو |
|---|---|---|---|
| ۱ | جنوري | ۳۷۵ | ۷،۱۸۲،۷۳۴.۰۰ |
| ۲ | فبروري | ۴۷۸ | ۶،۱۵۰،۵۰۱.۰۰ |
| ۳ | مارچ | ۲۷۴ | ۵،۷۸۰،۶۴۱.۰۰ |
| ۴ | اپریل | ۲۷۲ | ۶،۴۸۹،۱۴۱.۰۰ |
| ۵ | می | ۵۰۹ | ۷،۴۰۳،۴۵۳.۰۰ |
| ۶ | جون | ۲۲۵ | ۳،۴۴۸،۰۰۶.۰۰ |
| ۷ | جولای | ۳۰۷ | ۴،۹۸۴،۳۶۵.۰۰ |
| ۸ | اګست | ۳۵۶ | ۵،۱۳۴،۲۶۸.۰۰ |
| ۹ | سپټمبر | ۳۰۸ | ۳،۱۳۸،۲۰۹.۵۳ |
| ۱۰ | اکتوبر | ۳۲۹ | ۵،۸۸۲،۹۸۹.۲۸ |
| ۱۱ | نومبر | ۴۳۶ | ۷،۴۹۷،۷۲۳.۵۸ |
| ۱۲ | ډیسمبر | ۶۶۱ | ۱۱،۴۷۲،۸۳۴.۰۰ |
| **ټولیزه** | | **۴،۵۳۰** | **۷۴،۵۶۴،۸۶۵.۳۹** |
| **ډېر تر ډېره** | | **۵۰۹** | **۷،۴۰۳،۴۵۳.۰۰** |
| **لږ تر لږه** | | **۲۲۵** | **۳،۱۳۸،۲۰۹.۵۳** |
| **میاشتنی اوسط** | | **۴۵۳** | **۷،۴۵۶،۴۸۶.۵۴** |





**د غوښتنې پر بنسټ خپرونې**


د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې د مبارزې د قانون له ۲۸ مادې سره سم، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د حقیقي او حقوقي اشخاصو په هکله د لویې څارنوالۍ، د قانون د پلې کوونکو ادارو او د نورو دولتي ادارو غوښتنلیکونو ته ځواب ورکړی دی.

(۳۱) جدول او (۳۱) او (۳۲) ګرافونه د لویې څارنوالۍ، د عوایدو د ریاست، د کورنیو چارو د وزارت او د داسې نورو

قانون پلي کوونکو ادارو د داخلي غوښتنلیکونو شمېر ښکاره کوي.

| شمېر | اداره | ټولیزه غوښتنلیکونه |
|---|---|---|
| ۱ | د لویې څارنوالۍ اداره | ۱۰ |
| ۲ | اداري فساد سره د مبارزې عالي اداره | ۱۰ |
| ۳ | د کورنیو چارو وزارت | ۴۹ |
| ۴ | د عوایدو ریاست | ۱۳ |
| ۵ | د ملي امنیت لوی ریاست | ۵۶ |
| ۶ | نورې ادارې | ۷ |
| **ټولیزه ترلاسه شوې غوښتنې** | | **۱۴۵** |
| **ټولیزه ځواب شوې غوښتنې** | | **۱۳۸** |




**په اتومات ډول خپرونې**

د شکمنو معاملو شننه:

د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې د مبارزې قانون د ۲۵ مادې پر بنسټ، د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د شکمنو معاملو د راپورونو او د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل اړوندو معلوماتو د ترلاسه کولو، شننې او څېړنې او د قانون د حکمونو سره سم د یادو راپورونو د څېړنیزو پایلو د خپرولو یوازینۍ مسووله اداره ده.


د څېړنې مدیریت چې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د مرکز له مهمو شعبو څخه ګڼل کیږي د قانون له پلي کوونکو ادارو، لویې څارنوالۍ او داسې نورو ادارو سره د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل او د داسې نورو جرمونو پر وړاندې د اغېزناکې مبارزې په موخه د ملي همکارۍ رامنځ ته کولو او پراخولو ته ژمن دی. د ۲۰۱۶ کال په اګست میاشت کې تصویب شوې عملیاتي معیاري کړنلاره چې غوره څېړنیزې طریقې شرحه کوي چې د ۲۰۱۶ کال په وروستي ربعه کې خپاره شوې څېړنیز راپورونه له ښه کیفیت څخه برخمن ؤ او همدا ډول د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د قضیو د څېړلو په موخه یې د قانون د پلي کوونکو ادارو لپاره لا زیاتې اسانتیاوې برابرې کړې دي.

لویې څارنوالۍ او نورو قانون پلي کوونکو ادارو ته خپرې شوې قضیې

۳۲ جدول: لويي څارنوالۍ او عدلي او قضايي ادارو ته سپارل شوې قضيه

| شمېر | د قضيې ډول | د خطر شاخص | د شکمنو معاملو د راپورونو شمېر | اداره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | استراتيژيک(Strategic) | غير قانوني الکترونيکي ليږدونې | ۱۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۲ | استراتيژيک(Strategic) | غير قانوني الکترونيکي ليږدونې | ۱۵ | د ملي امنيت لوی رياست |
| ۳ | انفعالی(Reactive) | غير قانوني الکترونيکي ليږدونې | ۴ | د ملي امنيت لوی رياست |
| ۴ | انفعالی(Reactive) | د ترهګرۍ تمويل | ۱ | د ملي امنيت لوی رياست |
| ۵ | انفعالی(Reactive) | د ترهګرۍ تمويل | ۱ | د ملي امنيت لوی رياست |
| ۶ | انفعالی(Reactive) | درغلي | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۷ | انفعالی(Reactive) | درغلي | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۸ | انفعالی(Reactive) | د پيسو جعل | ۱ | د ملي امنيت لوی رياست |
| ۹ | انفعالی(Reactive) | جعل | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۱۰ | انفعالی(Reactive) | جعل | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۱۱ | انفعالی(Reactive) | جعل | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۱۲ | انفعالی(Reactive) | جعل | ۱ | د ملي امنيت لوی رياست |
| ۱۳ | انفعالی(Reactive) | جعل | ۱ | د ملي امنيت لوی رياست |
| ۱۴ | انفعالی(Reactive) | تښتونې او برمته کول | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۱۵ | انفعالی(Reactive) | جعل | ۱ | د ملي امنيت لوی رياست |
| ۱۶ | انفعالی(Reactive) | فساد او بډې | ۱ | د جمهوري رياست دفتر |
| ۱۷ | انفعالی(Reactive) | د ترهګرۍ تمويل | ۲ | د ملي امنيت لوی رياست |
| ۱۸ | انفعالی(Reactive) | د ترهګرۍ تمويل | ۲ | د لويي څارنوالۍ اداره |
| ۱۹ | انفعالی(Reactive) | جعل | ۱ | د ملي امنيت لوی رياست |
| ۲۰ | انفعالی(Reactive) | د انسان قاچاق | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۲۱ | انفعالی(Reactive) | فساد او بډې | ۱ | د ملي امنيت لوی رياست |
| ۲۲ | انفعالی(Reactive) | جعل | ۱ | د کورنيو چارو وزارت |
| ۲۳ | انفعالی(Reactive) | د وسلو غير قانوني واردول | ۱ | د ملي امنيت لوی رياست |
| ۲۴ | انفعالی(Reactive) | غير قانوني الکترونيکي ليږدونې | ۱۵ | د لويي څارنوالۍ اداره |
| ۲۵ | مخنيوی کوونکی (Pro-active) | د خدمتونو د وړاندې کوونکو په جواز کې جعل | – | د افغانستان بانک |
| ۲۶ | مخنيوی کوونکی (Pro-active) | د پيسو قاچاق | – | د لويي څارنوالۍ اداره |

۳۳ ګراف: په اتومات ډول د شکمنو معاملو د راپور خپرول




## نړيواله همکاري

د پيسو د وينځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شويو عوايدو پر وړاندې د مبارزې قانون د ۳۱ مادې پر بنسټ، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څيړنې مرکز په ټوليزه توګه د ۳۳ څېړنيزو راپورونو له ډلې ۲۶ راپورونه چې ۱۹۶ حکمي او حقيقي اشخاص رانغاړي، د نورو هېوادونو د مالي استخباراتو له ادارو سره شريک کړي دي.

لاندنی جدول د يو شمېر بهرنيو هېوادونو د مالي استخباراتو له ادارو سره لاسليک شوي هوکړه ليکونه ښکاره کوي

۳۳ جدول: د مالي استخباراتو د ادارې نوم

| شمېر | د مالي استخباراتو د ادارې نوم |
|---|---|
| ۱ | د مالي جرمونو پر وړاندې اجرائيوي شبکه (د متحدو ايالتونو د مالي استخباراتو اداره) |
| ۲ | د انګلستان د مالي استخباراتو اداره |
| ۳ | د سعودي عربستان د مالي استخباراتو اداره |
| ۴ | د فدرالي روسيې د مالي څارنې خدمتونه (د مالي استخباراتو اداره) |
| ۵ | د مالي جرمونو د څيړنې کميټه (د ترکيې د مالي استخباراتو اداره) |
| ۶ | د بنګله ديش د مالي استخباراتو اداره |
| ۷ | د قرغزستان د مالي استخباراتو اداره |
| ۸ | د ترکمنستان د مالي استخباراتو اداره |
| ۹ | د مالي څارنې اداره (د تاجکستان د مالي استخباراتو اداره) |
| ۱۰ | د مالي څارنې اداره (د بلاروس د مالي استخباراتو اداره) |
| ۱۱ | د منګوليا د مالي استخباراتو اداره |
| ۱۲ | د پيسو د وينځلو پر وړاندې د مبارزې اداره (د تايوان د مالي استخباراتو اداره) |

## د تايوان د مالي استخباراتو له ادارې سره د همکارۍ هوکړه ليک لاسليک کول

د مالي اقداماتو د نړيوالې ډلې د عمومي غونډې پرمهال (د ۲۰۱۶ کال اکتوبر، د فرانسې په پاريس ښار کې)، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څيړنې مرکز د تايوان د پيسو د وينځلو پر وړاندې د مبارزې له ادارې (د مالي استخباراتو ادارې) سره د پيسو د وينځلو، د پلان شوي جرمونو او د ترهګرۍ د تمويل په تړاو د مالي استخباراتو د تبادلې او همکارۍ په موخه هوکړه ليک لاسليک کړ.

- د چين د مالي استخباراتو له ادارې سره د همکارۍ هوکړه ليک نهايي شوی او په نږدې راتلونکې کې به لاسليک شي.
- د هند، قطر او د عربي متحده اماراتو د مالي استخباراتو له ادارو سره د هوکړه ليک د لاسليک کولو په موخه هڅې او خبرې اترې روانې دي.
- د متقابله همکاريو سربېره، د افغانستان د مالي استخباراتو اداره د نړۍ د مالي استخباراتو د ادارو د ټولنې (Egmont Group) غړې دی او مالي استخباراتو په اتومات ډول يا د غوښتنليک پر بنسټ له نورو استخباراتي ادارو سره شريکوي.

### د قوانينو د رعايتولو او پيروۍ په موخه تنفيذي اقدامات

د پيسو د وينځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شويو عوايدو پر وړاندې د مبارزې د قانون د ۲۴ مادې پر بنسټ، د مالي معاملو او راپورونو د څيړنې مرکز (د مالي استخباراتو اداره) د راپور ورکوونکو ادارو په اړه د دې قانون، مقررو، کړنلارو، متحدالمالونو، لارښودونو او پاليسيو د حکمونو د تطبيق په موخه له شرايطو سره سم لاندې تدابيرونه او بنديزونه پلي کوي:

۱. د جواز د ځنډولو، فسخ کولو او يا اجازه ليک لپاره د ليکلې

خبرداری صادرول؛

۲. د هرې سرغړونې لپاره له ۵۰،۰۰۰ افغانۍ څخه تر ۵۰۰،۰۰۰ افغانۍ پورې د نغدي جريمې وضع کول؛

۳. د راپور ورکوونکي اداري د مدير يا کارکوونکي ګوښه کول؛ او

۴. د ستونزو او خلاوو د لرې کولو يا د هغو کړنو د سمولو په موخه چې د دې قانون او اړوندو کړنلارو له حکمونو سره په ټکر کې وي، د اصلاحي تدبيرونو تر لاس لاندې نيول او تطبيقول او د ځانګړو اقداماتو يا فعاليتونو درول؛

د قوانينو د لا ښه تطبيق او رعايتولو په موخه د افغانستان د معاملو او مالي راپورونو د څيړنې مرکز د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې لاندې ګامونه پورته کړي دي.

۱. راپور ورکوونکي اداري ته د خبرداری صادرول:

۳۴ جدول: د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو او بانکي مؤسسو ته د خبرداری صادرول ښکاره کوي

| | |
|---|---|
| د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي | ۵۵ |
| بانکي مؤسسې | ۵ |
| **ټوليزه** | **۶۰** |

**۲. د فعاليت د جواز فسخ کول:**

د پيسو د وينځلو او د ترهګرۍ د تمويل پر وړاندې د مبارزې د قانون او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او صرافي په سکتور کې د خطرونو په پام کې نيولو سره، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څيړنې مرکز په ۲۰۱۶ کال کې د فعاليت لاندني جوازونه فسخ کړي دي چې په (۳۵) جدول کې وړاندې کيږی

| | |
|---|---|
| په مرکز زون کې فسخ شوي جوازونه | ۱۴ |
| په شمال زون کې فسخ شوي جوازونه | ۱۰ |
| په لويديځ زون کې فسخ شوي جوازونه | ۱۴ |
| په ختيځ زون کې فسخ شوي جوازونه | ۳ |
| په شمال ختيځ زون کې فسخ شوي جوازونه | ۴ |
| په سويل ختيځ زون کې فسخ شوي جوازونه | ۱ |
| په سويل لويديځ زون کې فسخ شوي جوازونه | ۳۴ |
| **ټوليزه** | **۸۰** |


**۳. د نغدي جريمو وضع کول:**

د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څيړنې مرکز لاندې نغدي جريمې وضع کړې دي چې په (۳۶) جدول کې ښودل شوي دي


| | |
|---|---|
| د پولي خدمتونو پر وړاندې کوونکو وضع شوي جريمې | ۳،۲۳۳،۳۰۰ |
| پر بانکي مؤسسو وضع شوي جريمې | ۱۰۵،۰۰۰ |
| **ټوليزه** | **۴،۲۸۳،۳۰۰** |

د يادولو وړ ده چې پر راپور ورکوونکو مؤسسو باندې دا ډول تنفيذي اقدامات د لومړي ځل لپاره د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څيړنې د مرکز لخوا وضع شوي دي.


۳۴ ګراف: د افغانستان پر بانکي مؤسسو وضع شوي جريمې



۳۵ ګراف: په افغانۍ ټولیزه وضع شوې جریمې




۳۶ ګراف: د پولي خدمتونو پر وړاندې کوونکو باندې په افغانۍ




د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د بندیزونو تطبیقول

**د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۲۶۷ او ۱۹۸۸ بندیزونو لستونه**

د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې قانون د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د ۱۲۶۷ او ۱۹۸۸ بندیزونو په لست کې د شاملو اشخاصو د شتمنیو او ملکیتونو د تشخیص، تعقیب او کنګلولو په موخه یوه قانوني اډانه ده.

په ۲۰۱۵ کال کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو شورا، د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د ۱۲۶۷ او ۱۹۸۸ بندیزونو په لستونو کې د شاملو اشخاصو د شتمنیو د کنګلولو په موخه د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې مقرره تصویب کړه، خو د یادې مقررې پر بنسټ د دې لستونو نوي کولو ته هر څل اړتیا وه څو لوېې څارنوالۍ د انفرادي کنګل لپاره امر صادر کړي.

د ۲۰۱۶ کال د جون میاشت کې د ارام اقیانوس د سازمان په غونډه کې تر بحث وروسته افغانستان یو لیک ترلاسه کړ چې په کې د هغه واحد د دایمي فرمان د صادرولو سپارښتنه درج شوې وه چې وکولای شي په اوسني او راتلونکي لستونو باندې د پلي کیدو وړ وي څو د انفرادي حکم له صادرولو څخه مخنیوی وشي.

د افغانستان واک لرونکي اداري (د ملي امنیت د شورا دفتر، لوېې څارنوالي، د افغانستان بانک او د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څیړنې مرکز) په جدي توګه پر موضوع باندې کار کړی او د پام وړ لاسته راوړنې یې درلودلې دي.

د ۱۲۶۷ بندیزونو لست د ۲۰۱۶ کال د جولای د میاشتې په ۱۵ نېټه نوی شوی او د جولای په ۲۰ نېټه باندې د افغانستان د اسلامي جمهوریت لوېې څارنوالۍ له استثناء پرته د هر تجدید لپاره د جلا جلا فرمانونو د صادرولو د مخنیوي په موخه، د کنګلولو دایمي فرمان چې دواړه ۱۲۶۷ او ۱۹۸۸ لستونه رانغاړي، صادر کړ.

د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا په ۱۲۶۷ او ۱۹۸۸ لستونو کې د شاملو اشخاصو د شتمنیو د کنګلولو په اړه دایمي حکم ټولو اړوندو ادارو لکه: ټولو بانکونو، د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او صرافانو ټولنو، د الکترونیکي پیسو مؤسسو، د کوچنیو پورونو مؤسسو، د کورنیو چارو وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، د کابل ښاروالۍ، د افغانستان د ځمکنیو چارو اداري، د څارنې عالي اداري، د مالي معاملو او راپورونو د څیړنې د مرکز سیمه ییزه دفترونو، د ملي امنیت لوی ریاست، د مالیې وزارت او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې اداري ته استول شوی څو له دې لارې یې والیانو ته واستوي. همدا ډول یاد دایمي حکم د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څیړنې د مرکز په ویب پاڼه کې خپور شوی دی.

بانکي مؤسسو د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د بندیزونو د لستونو د ترلاسه کولو او تکثیرولو په موخه یو الکترونیکي سیستم جوړ کړی چې په هېواد کې د ۱۵ فعالو سوداګریزو

بانکونو له ډلې څخه ۱۲ بانکونه په اتوماتیک ډول لستونه ترلاسه کوي او خپلو نمایندګیو ته یې تکثیروي، پوازې ۳ بانکونه په عادي ډول د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا له ویب پاڼې څخه لستونه اخلي او خپلو نمایندګیو ته یې استوي.

د مالي معاملو او راپورونو د څیړنې مرکز د اسانه او چټکې لاسرسي په موخه خپله ویب پاڼه د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا له ۱۲۶۷ او ۱۹۸۸ ویب پاڼو سره نښلولې ده.

دې مرکز د اړوندو ادارو د اسانتیا لپاره ۱۲۶۷ او ۱۹۸۸ لستونه په ملي ژبو ژباړلي دي چې د یادو لستونو د نوي کېدو او تعدیلیدو پر بنسټ د هغه ژباړه اړوند ادارو ته لیږدول کیږي.

همدا ډول د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د ۱۲۶۷ او ۱۹۸۸ بندیزونو لستونه د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې له لوی آمریت سره شریک شوي، څو د مالي مؤسسو د ساحې دننه ارزونې یا د فعالیت جواز د وړاندې کولو په پرمهال د هغه له تطبیق څخه څارنه وکړي.

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څیړنې مرکزد یو نوي نوښت ترڅنګ د بریښنالیک له لارې د خبرتیاوو د استولو زمینه هم برابره کړې، د ملګرو ملتونو د لست د نوي کېدو سره سم، خبرتیا د بریښنالیک له لارې د اړوندو ادارو ۹۲ استازو ته چې ۴۱ ادارې رانغاړي، لیږدول کیږي. دا خبرتیا په انګلیسي او ملي ژبو چمتو شوې او د نوي شوي لست د تطبیق د مسایلو په اړه توضیحات وړاندې کوي چې دا نوښت د اړوندو ادارو لخوا ښه وستایل شو او نوي شوي لست ته یې له ځنډه پرته اسانتیاوې برابرې کړي دي.

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څیړنې مرکز د عامه او خصوصي مؤسسو د خبرولو په موخه عامه خبرتیاوې خپرې کړي چې له قانون سره سم د کنګلولو د دایمي حکم او د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د بندیزونو د لستونو د نه تطبیقولو عواقب رانغاړي.

د ۱۲۶۷ او ۱۹۸۸ لستونو د نوي کولو پر مهال په ولایتونو کې د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او د فعالو صرافانو د اسانتیا لپاره په اړوندو زونونو کې د دې مرکز سیمه ییزو دفترونو د یادو لستونو کاپي ګانې د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او صرافانو ټولنو ته وېشلي دي او د هغه له تطبیق څخه وخت په وخت ډاډ ترلاسه کوي.

په بانکي سکتور کې د بندیزونو د لستونو د دوامداره تطبیق په موخه د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څیړنې په مرکز کې د قوانینو د رعایتولو د همغږۍ کمیټه جوړیږي.

**د لویې څارنوالۍ د کنګلولو له دایمي حکم څخه عامه خلک خبر دي:**

د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د قانون د (۲ او ۱۱) مادو، د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د مقررې (۶ او ۷ ) مادو او د ۲۰۱۶ کال د جولای د ۲۰ نیټې د ۲۷۹۳ ګڼې د کنګلولو د دایمي حکم پر بنسټ، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د لویې څارنوالۍ دفتر ټولو اشخاصو، سازمانونو او دولتي او نا دولتي اشخاصو ته لاندې خبرتیا صادر کړې ده؛

- د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او صرافانو په ګډون ټولې مالي مؤسسې، دولتي او نادولتي ادارې اړې دي چې د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د بندیزونو لستونه (۱۲۶۷ او ۱۹۸۸) په دوامداره توګه رعایت کړي او د بندیزونو په لستونو کې درج شویو اشخاصو ته د هر ډول مستقیمې او غیر مستقیمې معاملې له ترسره کولو څخه ډډه وکړي او د نغدي پیسو او هر ډول شتمنیو او معاملو د تثبیتولو په صورت کې پرته له ځنډه هغه کنګل کړي او د افغانستان د ملي امنیت د شورا دفتر او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د لویې څارنوالۍ ادارې

ته د تنظیموونکو ادارو له لارې خبر ورکړي.

- د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د قانون او مقررې سره سم، هغه شخص چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د بندیزونو په لستونو کې له شاملو اشخاصو سره اړیکه ولري او یا اړوندو اشخاصو ته په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه هر ډول خدمتونه وړاندې کړي، په جرم مرتکب کېږي او د قانون د پلي کوونکو ادارو لخوا تر قانوني څار لاندې نیول کېږي.

**د قوانینو د رعایتولو د همغږۍ کمیټه**

د افغانستان په بانکي سکتور کې د قوانینو او مقررو د تطبیق د رژیم د ښه والي په موخه، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د ۲۰۱۶ کال په سپتمبر میاشت کې د قوانینو د رعایتولو د همغږۍ کمیټه جوړه کړه.

د دې کمیټې د جوړېدو عمده موخې په لاندې ډول دي:

- د همکارۍ د کچې ښه والی؛
- د قوانینو د رعایتولو په تړاو د مهمو موضوعاتو همغږه کول؛
- د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د ۱۲۶۷ او ۱۹۸۸ بندیزونو د لستونو تعقیبول او تطبیقول؛
- د نیمګړتیاوو په اړه بحث او د معلوماتو شریکول؛
- د ارام اقیانوس د ټولنې او د مالي اقداماتو د نړیوالې ډلې د موضوعاتو په اړه د بانکي سکتور پوهاوی.

د قوانینو د رعایتولو د همغږۍ د کمیټې غړي: د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز، د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان د بانکونو ټولنه او د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د مرکز د سوداګریزو بانکونو د قوانینو د رعایتولو د شعبو آمرینو د قوانینو د رعایتولو د همغږۍ د کمیټې لومړنۍ میاشتنۍ غونډه د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر میاشتې په ۲۴ نېټه جوړه کړه.

د کمیټې د جوړولو موخې د پیسو د وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې په برخو کې همکاري او همغږي، د معلوماتو تبادله کول، د تخنیکي نیمګړتیاوو په اړه خبرې او د هېواد په بانکي سکتور کې د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د بندیزونو چټکه تطبیق رانغاړي.


# بودجه او مالي صورت حساب

د مالي او محاسبې لوی آمریت د افغانستان بانک د بودجې او د عوایدو د شقوقو او لګښتونو د ترتیبولو مسئول دی. دا آمریت په ټولیزه توګه د افغانستان بانک ټولې مالي چارې پرغاړه لري او د بیلانس شیټ، د عوایدو او لګښتونو د صورت حساب او د نغدي جریان د صورت حساب له لارې کره مالي او شفاف عملیاتي معلومات وړاندې کوي. د افغانستان بانک عادي او پراختیایي بودجه لکه د نورو دولتي ادارو په څیر بیلابیل طی مراحل لري او په وروستي پړاو کې د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا چې د دې بانک د تصمیم نیولو تر ټولو لوړه مرجع ده، تصویب کیږي.

د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې عایداتي شقوق (د کمیشنونو عواید، د ټکټانې عواید، نور عواید، د کابل بانک د پور د ټکټانې عواید، د اسعارو د پلور عواید او د مرستو عواید)، د لګښتونو شقوق (عملیاتي شقوق، د کارکوونکو د معاش امتیازونو شقوق، استهلاک او زړیدل)، د اثاثیې او تجهیزاتو او د ودانیزې پراختیا شقوق (مامورینو ته د پور شقوق، پراختیایي احتیاطي شقوق، پراختیایي او ودانیز شقوق او د اثاثیې او تجهیزاتو شقوق) د افغانستان بانک د بودجې جوړښت رانغاړي.

۳۷ ګراف: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د تصویب شوي او حقیقي بودجې سلنه ښکاره کوي.

د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو د افغانستان بانک بودجه




**عایداتي شقوق:**

**د کمیشنونو عواید:** د عوایدو دا برخه د مالي کنټرول کمیشنونه، د جاري حساب پرانیستل، چک بوک، سویفټ، د پانګې لیږد، د ډالرو او نورو اسعارو د پلور په وړاندې جریمه، د ډالرو د مبادلې په وړاندې جریمه، متفرقه کمیشنونه او داسې نور رانغاړي. د دې برخې د ۱۳۹۵ مالي کال حقیقي شمېره د پلان شوي بودجې د وړاند وینې له مخې د کمیشنونو په عوایدو کې ۱۱۴ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي چې دا زیاتوالی د ۱۳۹۱ – ۱۳۹۵ کلونو د کمیشنونو له دوران څخه ترلاسه شوی دی.

**د ټکټانې عواید:** دا برخه د رمپ (RAMP) د پروژې تحقق موندونکي ډالري عواید، په بهرنیو او معامله لرونکو بانکونو کې د امانتونو د ټکټانې عواید او د بیه لرونکو پاڼو په پېرلو کې تخفیف رانغاړي. د دې برخه د ۱۳۹۵ مالي کال حقیقي شمېره د اسعارو د پانګه اچونې په شقوقو کې ۱ سلنه کموالی ښکاره کوي چې د پلان شوي بودجې په پرتله د پام وړ بدلون نه ښکاره کوي.

**نور عواید:** د نورو عوایدو برخه د نوي اسعاري حسابونو د پرانیستلو فیس، په موافقت لیکونو کې د ځنډ له امله جریمه، د مرستو له لارې عواید، د مالي ادارو په وړاندې جریمه، د کرایې عواید، د بانکونو د څارنې فیس، د بانکونو د مالي وضعیت کنټرول، د جایدادونو عواید، د فزیکي پیسو د لېږد فیس، د الکترونیکي پیسو د خدمتونو د ادارې کلنی عواید او نور عواید رانغاړي. د دې برخې د ۱۳۹۵ مالي کال حقیقي شمېره ۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د پلان شوي بودجې په پرتله د پام وړ بدلونونه نه ښکاره کوي.


**د کابل بانک د پور د ټکټاني عواید:** د دې برخې د ۱۳۹۵ مالي کال حقیقي شمېره د پلان شوي بودجې په پرتله ۴۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی د مالیې وزارت لخوا د کابل بانک د پور د قسطونو د ټکټاني ورکړې له امله رامنځ ته شوي دي.

**د اسعارو د پلور عواید:** په دې برخه کې د ۱۳۹۵ مالي کال حقیقي شمېره د پلان شوي بودجې په پرتله ۷۶ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي چې دا زیاتوالی د اسعارو د پلور له کبله ترلاسه شوی دی. د یادولو وړ ده چې دا اسعار په تېرو کلونو کې په ټیټ نرخ پېرل شوي او په ۱۳۹۵ مالي کال کې په لوړ نرخ پلورل شوي چې له امله یې زیاته ګټه کړې ده.

**د مرستو عواید:** دا برخه څرنګه چې له نوم څخه یې ښکاري د بسپنه ورکوونکو هېوادونو مالي مرستې رانغاړي. د وړاندې شویو شمېرو په پام کې نیولو سره، دې برخې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۷۰ سلنه کموالی درلودلی چې اصلي لامل یې د بسپنه ورکوونکو هېوادونو لخوا د ژمنو نه پرځای کېدل په ګوته شوي دي.

۳۸ ګراف: د عوایدو شقوق ښکاره کوي

د عوایدو شقوق




**لګښتي شقوق:**


**عملیاتي شقوق:** په دې برخه کې عملیاتي لګښتونه شامل دي. د ۱۳۹۵ مالي کال حقیقي شمېرې په ځینو برخو کې زیاتوالی او په ځینو برخو کې کموالی ښکاره کوي او دا برخه د پلان شوي بودجې په پرتله په ټولیزه توګه ۳۳ سلنه کموالی په ګوته کوي چې د دې کموالي اصلي لاملونه د وړاندې وینې له مخې د بیه لرونکو پاڼو په لګښتونو کې کموالی، د پلانونو نه تطبیق او د عمده پروژو د ځینو لګښتونو نه عملي کېدل په ګوته شوي دي.

**د کارکوونکو د معاش او امتیازونو شقوق:** دا برخه د لګښتي شقوقو یوه بله برخه ده چې معاش، اضافه کاري، هڅوونکي امتیازات، مالي مرستې او د مامورینو تقاعد رانغاړي. د دې برخې د ۱۳۹۵ مالي کال حقیقي شمېرې د پرسونل په شقوقو کې ۶ سلنه کموالی ښکاره کوي چې د پلان شوي بودجې په پرتله د پام وړ بدلون نه ښکاره کوي.

**استهلاک/زړیدل:** د افغانستان بانک د بودجې له لګښتي شقوقو څخه یو هم د توکو استهلاک او زړیدل دي. په دې برخه کې د ۱۳۹۵ مالي کال حقیقي شمېرې د پلان شوي بودجې په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د دې زیاتوالي اصلي لامل په ۱۳۹۵ مالي کال کې د تېرو کلونو د توکو د استهلاک او زړېدو له امله لګښتونه ګڼل کیږي.

۳۹ ګراف: په ۱۳۹۵ مالي کال کې د بودجې لګښتي شقوق ښکاره کوي.

د لګښتونو شقوق



**د اثاثيې، تجهيزاتو او تعميراتي پراختيايي لګښتونو شقوق:**

**مامورينو ته د پور شقوق:** دا برخه د افغانستان بانک کارکوونکو ته د تعميراتي، کور پېرنې، متفرقه او د واده د پورونو ورکړې رانغاړي. د دې برخې د ۱۳۹۵ مالي کال حقيقي شمېرې د تصويب شوي بودجې په پرتله ۸۰ سلنه کموالی ښکاره کوي چې دا کموالی د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د پور ورکړې په کړنلارې کې د بدلونونو له امله رامنځ ته شوی دی.

**پراختيايي احتياطي شقوق:** دا برخه د اثاثيې، تجهيزاتو او تعميراتي پراختيايي لګښتونو نور شقوق رانغاړي.


**پراختيايي او تعميراتي شقوق:** دا برخه د افغانستان بانک د نمايندګيو د جوړولو او احاطې شقوق رانغاړي. په ۱۳۹۵ مالي کال کې د افغانستان بانک د آقينې نمايندګۍ د نوي ودانۍ جوړول، د سمنګان د نمايندګۍ د ساتونکو د کوټې جوړول، د کندهار په عينو مينه کې د بانک د ځمکې د احاطې د ديوال جوړول او د افغانستان بانک د نورو زونونو او نمايندګيو ډيزاين او جوړول په دې برخه کې شامل دي.

د ۱۳۹۵ مالي کال حقيقي شمېرې د پلان شوي بودجې په پرتله په ياد شقوق کې ۶۵ سلنه زياتوالی ښکاره کوي او دا زياتوالی په خو پرله پسې کلونو کې د افغانستان بانک د اووه ګونو سيمه ييزو زونونو د طلباتو له امله چې په ټاکلي وخت ترسره شوي نه دي، رامنځ ته شوی دی.

**د اثاثيې او تجهيزاتو شقوق:** په دې برخه کې د فرنيچر او اثاثيې، بريښنايي وسايلو، موټرو، کمپيوټرونو او پرنټرونو، د تکنالوژيکي وسايلو د تجهيزات، د متفرقه برخو د تجهيزاتو او پوستکالو (سافټ ويرونو) شقوق شامل دي. د دې برخې د ۱۳۹۵ مالي کال حقيقي شمېره د پلان شوي بودجې په پرتله ۵۰ سلنه کموالی په ګوته کوي چې د دې کموالي عمده لامل د پلانونو او پروژو نه عملي کېدل په ګوته شوی دی.

د لازياتو معلوماتو لپاره (۴۰) ګراف ته مراجعه وکړئ

د اثاثيې، تجهيزاتو او تعميراتي پراختيايي لګښتونه



## د افغانستان بانک

## د نورو عوایدو صورت حساب

**د کال پای، ۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۳۰ نېټه ( د ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر ۲۰)**

| | 1395 (2016) | 1394 (2015) |
|---|---|---|
| | ----------- (په ۰۰۰ افغانۍ) ----------- | |
| **د کال ګټه** | **(16،030،168)** | 46,280,845 |
| **نور عواید** | | |
| **د تیرو کلونو د حسابونو د ډله بندۍ له درکه ګټه** | | |
| د ټاکل شوي پلان له درکه ګټه | **-** | 13,853 |
| | **-** | 13,853 |
| د وروستیو حسابونو د ډله بندۍ له درکه ګټه/ زیان | | |
| د سرو زرو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه ګټه/ زیان | **2,246,146** | (4,766,143) |
| پلور ته چمتو شتمنیو له درکه خالصه ګټه/ زیان | **(201,838)** | 184,863 |
| | **2,044,308** | (4,581,280) |
| د کال په اوږدو کې نور هر اړخیزه عواید/ زیان | **2,044,308** | (4,567,427) |
| **د کال نور هر اړخیزه عواید/ زیان** | **(13،985،860)** | 41,713,418 |

سید یونس سادات
د مالي او حسابي چارو لوی آمر

خلیل صدیق
د افغانستان بانک لوی رئیس

واحد الله نوشیر
د افغانستان بانک لومړی مرستیال

**د افغانستان بانک**

**د ګټې او زیان صورت حساب**

**د کال پای، ۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۳۰ نېټه ( د ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر ۲۰)**

| | 1395 (2016) | 1394 (2015) |
|---|---|---|
| | ---------- (په ۰۰۰ افغانۍ) ---------- | |
| د ټکټانې عواید | **2,737,276** | 2,038,722 |
| د ټکټانې لګښت | **(2,811,654)** | (2,393,289) |
| **د ټکټانې خالصه عواید/ لګښت** | **(74,378)** | (354,567) |
| د فیس او کمېشن عواید | **580,588** | 345,636 |
| د فیس او کمېشن لګښت | **(248,608)** | (135,712) |
| **د فیس او کمېشن خالصه عواید/ لګښت** | **331,980** | 209,924 |
| د اسعاري معاملو خالصه ګټه | **17,693,285** | 12,967,013 |
| "پلور ته چمتو مالي شتمنیو" د پلور خالصه ګټه/ زیان | **(112,776)** | 21,050 |
| نور عواید | **189,439** | 158,251 |
| | **17,769,948** | 13,146,314 |
| **عملیاتي عواید** | **18,027,550** | 13,001,671 |
| د کارکوونکو لګښتونه | **(1,260,925)** | (1,358,333) |
| نور لګښتونه | **(285,401)** | (268,541) |
| دارزښت کموالی او استهلاک | **(97,370)** | (75,923) |
| **خالصه عملیاتي عواید** | **16,383,584** | 11,298,874 |
| د اسعارو د مبادلې غیر حقیقي خالصه ګټه/ زیان | **(32,414,022)** | 34,981,971 |
| **د روان کال ګټه/ زیان** | **(16,030,168)** | 46,280,845 |

سید یونس سادات
د مالي او حسابي چارو لوی آمر

خلیل صدیق
د افغانستان بانک لوی رئیس

واحد الله نوشیر
د افغانستان بانک لومړی مرستیال

**د افغانستان بانک**

**د پانګې د بدلون صورت حساب**

**د کال پای، ۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۳۰ نېټه ( د ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر ۲۰)**

| | | د پانګې نوري برخې | | | | بیا ارزښت موندونکې زېرمې (نوټ ۲۶.۲) | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | پانګه | پلور ته چمتو د مالي شتمنیو د پلور له درکه خالصه ګټه/ زیان | ځمکه | سره زر | د زېرمې ټولیزه ارزښت ټاکنې | د اسعارو د مبادلې له درکه زېرمې | د تقاعد تعریف شوی سیستم | د بیا ارزښت ټاکنې له درکه غیر حقیقي خالصه ګټه | ټولیزه نوري هر اړخیزه پانګې | عمومي زېرمې | راټول شوي ګټه | ټولیزه |
| | ---------- (په ۰۰۰ افغانۍ) ---------- | | | | | | | | | | | |
| د ۱۳۹۳ د مرغومي د لومړي نېټې بیلانس ( ۲۰۱۴ د ډیسمبر ۲۲) | 19,237,435 | (176,532) | 947,292 | 36,245,934 | 37,016,694 | 137 | (24,721) | - | (24,584) | 18,257,467 | - | 74,487,012 |
| د کال ټولیزه عواید | | | | | | | | | | | | |
| خالصه ګټه | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | 46,280,845 | 46,280,845 |
| نور هر اړخیزه عواید | | | | | | | | | | | | |
| پلور ته چمتو د مالي شتمنیو له درکه غیر حقیقي ګټه | - | 184,863 | - | - | 184,863 | - | - | - | - | - | - | 184,863 |
| د سرو زرو د زېرمو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه زیان | - | - | - | (4,766,143) | (4,766,143) | - | - | - | - | - | - | (4,766,143) |
| د ( تقاعد د تعریف شوي سیستم) د بیا سنجش له درکه ګټه | - | - | - | - | - | - | 13,853 | - | 13,853 | - | - | 13,853 |
| ټولیزه نور هر اړخیزه زیانونه | - | 184,863 | - | (4,766,143) | (4,581,280) | - | 13,853 | - | 13,853 | - | - | (4,567,427) |
| د کال ټولیزه عواید | - | 184,863 | - | (4,766,143) | (4,581,280) | - | 13,853 | - | 13,853 | - | 46,280,845 | 41,713,418 |
| **په پانګه کې په مستقیمه توګه ثبت شوي عواید** | | | | | | | | | | | | |
| پانګې ته لیږدونه | 30,065 | - | - | - | - | - | - | - | - | - | (30,065) | - |
| عمومي زېرمو ته لیږدونه | - | - | - | - | - | - | - | - | - | 1,010,033 | (1,010,033) | - |
| د مالیې وزارت ته لیږدونه | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | (10,258,776) | (10,258,776) |
| د بیا ارزښت موندنې له درکه د غیر حقیقي خالصې ګټې لیږدونه | - | - | - | - | - | - | - | 34,981,971 | 34,981,971 | - | (34,981,971) | - |
| د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ د ۳۰ نېټې د پای بیلانس ( ۲۰۱۵ د ډیسمبر۲۱) | 19,267,500 | 8,331 | 947,292 | 31,479,791 | 32,435,414 | 137 | (10,868) | 34,981,971 | 34,971,240 | 19,267,500 | - | 105,941,654 |
| د ۱۳۹۴ کال د مرغومي د لومړۍ نېټې بیلانس ( ۲۰۱۵ د ډیسمبر ۲۲) | 19,267,500 | 8,331 | 947,292 | 31,479,791 | 32,435,414 | 137 | (10,868) | 34,981,971 | 34,971,240 | 19,267,500 | - | 105,941,654 |
| د کال ټولیزه عواید | | | | | | | | | | | | |
| خالصه زیان | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | (16,030,168) | (16,030,168) |
| د کال ټولیزه هر اړخیزه عواید | | | | | | | | | | | | |
| پلور ته چمتو د مالي شتمنیو له درکه غیر حقیقي خالصه ګټه | - | (201,838) | - | - | (201,838) | - | - | - | - | - | - | (201,838) |
| د سرو زرو د زېرمو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه ګټه | - | - | - | 2,246,146 | 2,246,146 | - | - | - | - | - | - | 2,246,146 |
| ټولیزه نور هر اړخیزه عواید | - | (201,838) | - | 2,246,146 | 2,044,308 | - | - | - | - | - | - | 2,044,308 |
| د کال ټولیزه هر اړخیزه زیان | - | (201,838) | - | 2,246,146 | 2,044,308 | - | - | - | - | - | (16,030,168) | (13,985,860) |
| د تقاعد د سیستم د بدلون له درکه د ټاکل شوي زیان اصلاح | - | - | - | - | - | - | 10,868 | - | 10,868 | - | - | 10,868 |
| **په شتمنیو کې په مستقیمه توګه ثبت شوي معاملې** | | | | | | | | | | | | |
| د بیا ارزښت ټاکنې له درکه د غیر حقیقي خالصې ګټې لیږدونه | - | - | - | - | - | - | - | (16,030,168) | (16,030,168) | - | 16,030,168 | - |
| د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ د ۳۰ نېټې بیلانس ( ۲۰۱۶ د ډیسمبر ۲۰) | 19,267,500 | (193,507) | 947,292 | 33,725,937 | 34,479,722 | 137 | - | 18,951,803 | 18,951,940 | 19,267,500 | - | 91,966,662 |

سید یونس سادات
د مالي او حسابي چارو لوی آمر

خلیل صدیق
د افغانستان بانک لوی رئیس

واحد الله نوشیر
د افغانستان بانک لومړی مرستیال

## د افغانستان بانک

## د نقدي جریانونو صورت حساب

د کال پای، ۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۳۰ نېټه ( د ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر ۲۰)

| | 1395 (2016) | 1394 (2015) |
|---|---|---|
| | ----------- (ارقام په افغانۍ) | ----------- |
| **د عملیاتي کړنو نغدي جریانونه** | | |
| د کال ګټه/ تاوان | **(16,030,168)** | 46,280,845 |
| تعدیلات: | | |
| د ارزښت کمیدنه او استهلاک | **97,370** | 75,923 |
| د ټکټاپني عواید | **(2,737,276)** | (2,038,722) |
| د ټکټاپني لګښت | **2,811,654** | 2,393,289 |
| د مرستو عواید | **(32,544)** | (1,207) |
| د کارکوونکو د تقاعد د پیاوړتیا لپاره مرسته او همغږي | **69,424** | 158,341 |
| د اصلاح شوي پلان له درکه ګټه/ زیان | **10,868** | - |
| د سرو زرو د بدلون له درکه غیر حقیقي خالصه ګټه/ زیان | **958,309** | (7,556,357) |
| | **(14,852,363)** | 39,312,112 |
| **د کاري پانګې تعدیلات** | | |
| د بانکونو او مالي مؤسسو د حصولونو کموالی/ زیاتوالی | **(81,028,156)** | 115,325,312 |
| د پور ورکونې د وروستی مرجع په توګه د مرستې زیاتوالی/ کموالی | **6,338,947** | (709,232) |
| د طلباتو او نورو حصولونو کموالی/ زیاتوالی | **829,951** | (416,899) |
| د نورو شتمنیو کموالی/ زیاتوالی | **(532,407)** | 79,189 |
| په ګردښت کې د پیسو کموالی | **21,442,147** | 5,189,057 |
| پر بانکونو او مالي مؤسسو باندې په طلباتو کې کموالی/ زیاتوالی | **19,516,146** | (3,485,428) |
| د مشتریانو په طلباتو کې کموالی/ زیاتوالی | **(3,733,135)** | 2,171,125 |
| د پیسو د نړیوال صندوق په اړونده پوراینو کې کموالی/ زیاتوالی | **403,167** | (16,974) |
| په نورو پرویژنونو او پوراینو کې کموالی | **(10,844,308)** | (6,266) |
| | **(47,607,648)** | 118,129,884 |
| | **(62,460,011)** | 157,441,996 |
| ترلاسه شوې ټکټانه | **2,438,052** | 2,099,546 |
| ورکړل شوې ټکټانه | **(2,811,654)** | (2,393,289) |
| ترلاسه شوې مرستې | **164,886** | 745 |
| د متقاعدینو ونډه او حقوق او کارکوونکو ته د هغه ورکړه | **(78,690)** | (33,450) |
| **په عملیاتي کړنو کې (کارول شوي) خالصه نغدي جریانونه** | **(62,747,417)** | 157,115,548 |
| د پانګونې د کړنو له درکه نغدي جریانونه | | |
| د کال په اوږدو کې پانګونې | **(4,874,784)** | (20,294,898) |
| د ثابتو شتمنیو پیریدل | **(273,783)** | (379,199) |

| | | |
|---|---|---|
| د نه لیردیدونکو شتمنیو پیریدل | **(126,397)** | (1,639) |
| د ثابتو (مشهودو) شمتنیو د پلور له درکه عواید | **27,636** | 16,399 |
| د پانګونې په کړنو کې خالصه نغدي جریانونه | **(5,247,328)** | (20,659,337) |
| **د مالي کړنو نغدي جریانونه** | | |
| د پانګه ایزو پاڼو د بیا ورکړې له درکه عواید | **10,838,596** | (5,118,710) |
| د مالي کړنو له درکه خالصه نغدي جریانونه | **10,838,596** | (5,118,710) |
| د نغدو پیسو او د هغه د معادل کموالی/ زیاتوالی | **(57,156,149)** | 131,337,501 |
| **د کال په پیل کې نغدې پیسې یا د هغه معادل** | **256,740,749** | 125,403,248 |
| **د کال په پای کې نغدې پیسې یا د هغه معادل** | **199,584,600** | 256,740,749 |

سید یونس سادات
د مالي او حسابي چارو لوی آمر

خلیل صدیق
د افغانستان بانک لوی رئیس

واحد الله نوشیر
د افغانستان بانک لومړی مرستیال

# د افغانستان بانک

## د مالي وضعيت صورت حساب

د کال پای، ۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۳۰ نېټه ( د ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر ۲۰)

| | 1395 (2016) | 1394 (2015) |
|---|---|---|
| | -----------(په 000 افغانی)----------- | |
| **شتمنۍ** | | |
| د سرو زرو زېرمې | **52,800,896** | 51,513,059 |
| د اسعارو نغدي زېرمې | **100,349,304** | 110,947,031 |
| د بانکونو او مالی مؤسسو ذمت | **186,046,259** | 151,576,525 |
| پانګونې | **149,532,131** | 144,859,185 |
| د پور ورکونې د وروستۍ مرجع په توګه طلبات | **22,097,788** | 28,426,596 |
| طلبات او نور د حصول وړ شتمنۍ | **1,399,139** | 2,229,090 |
| په ملکیتونو کې پانګه اچونه | **9,000** | 9,000 |
| ملکیتونه او اثاثیې | **5,279,023** | 5,103,605 |
| نه لیږدیدونکي شتمنۍ( بانکي پوستکالي) | **105,600** | 5,844 |
| نورې شتمنۍ | **13,550,437** | 12,728,945 |
| **ټولیزه شتمنۍ** | **531,169,577** | 507,398,880 |
| **پورواینو او پانګې ( اکویټي)** | | |
| **پوراینې(بدهي)** | | |
| په ګردښت کې پیسې | **223,611,449** | 202,169,302 |
| د پور سندونه | **42,585,881** | 31,747,285 |
| بانکونو او نورو مالي مؤسسو ته پوراینې | **80,955,780** | 61,439,634 |
| مشتریانو ته پوراینې | **89,243,178** | 92,976,313 |
| د پیسو نړیوال صندوق ته پوراینې | **423,215** | 20,048 |
| د تقاعد زېرمې | **1,755,064** | 1,764,330 |
| بې بدیله مرستې | **137,699** | 5,357 |
| زېرمې او نورې پوارینې | **490,649** | 11,334,957 |
| **ټولیزه پوراینې** | **439,202,915** | 401,457,226 |
| **پانګې (اکویټي)** | | |
| پانګې | **19,267,500** | 19,267,500 |
| بیا ارزښت موندونکې زېرمې | **34,479,722** | 32,435,414 |
| د پانګې نورې برخې | **18,951,940** | 34,971,240 |
| عمومي زېرمې | **19,267,500** | 19,267,500 |
| **ټولیزه پانګې** | **91,966,662** | 105,941,654 |
| **ټولیزه پوراینې او پانګې** | **531,169,577** | 507,398,880 |

سید یونس سادات
د مالي او حسابي چارو لوی آمر

خلیل صدیق
د افغانستان بانک لوی رئیس

واحد الله نوشیر
د افغانستان بانک لومړی مرستیال

# د بانکي عملیاتو لوی آمریت

## د بانکي عملیاتو لوی آمریت

د بانکي عملیاتو آمریت د ورسپارل شویو دندو په پام کې نیولو او د خپل کاري پلان سره سم د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ډېرې لاسته راوړنې درلودلي دي چې کولای شو د افغانستان بانک د عملیاتي کړنلارې، د چکبکونو د وېش کړنلارې، له حسابونو څخه د پیسو د برداشت د معاملو کړنلارې، د نمایندګیو ترمنځ د انتقالي معاملو د ترسره کولو کړنلارې، د نړیوالو معاملو کړنلارې، د افغانستان بانک د نمایندګیو د مشتریانو د حسابونو په وجه کې د نغدي تحویلیو کړنلارې له ترتیبولو څخه یادونه وکړو. د زړو بانکنوټونو د راټولولو او د له منځه وړلو د کړنلارې بیا کتل او نوي کول، د افغانستان بانک د چکونو د معیاري کولو د پروسې تعقیبول او عملي کول، د معاملو د ترسره کولو د کاري بهیر اصلاح کول، د ملي پیوستون له پروګرام سره د بانکي خدمتونو د وړاندې کولو د هوکړه لیک بیا کتل او نوي کول، د دولت د وارداتو حساب ته د هرې ورځې په پای کې د ادارو او وزارتونو د فرعي حسابونو (Sub Account) د شتمنیو د اتوماتیک لیږد تنظیمول، له اړوندو سیستمونو سره د I Forex سیستم د نښلولو همغږي او عملي کول او د یاد سیستم د آویزونو د چاپ طریقه او د CBS سیستم له لارې د معاملو د کنټرول د برخې جوړول چې مبلغ یې له سلو زرو زیات وي، هم د دې برخې کړنې رانغاړي.

دې آمریت له اداری چارو او د پورته یادو شویو کړنو سر بېره، په عملیاتي او د خزانداری په برخه کې هم ځینې کړنې ترسره کړې دي چې لاندې په لنډه توګه ترې یادونه کوو:

**عملیاتي او خزانداري**

**الف: عملیاتي برخه**

دې برخې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ۱۹۶،۳۴۸ افغانی او اسعاری معاملې ترسره کړې دي چې له هغه ډلې شاوخوا ۱۱۴،۶۱۲ انتقالي معاملې او ۸۱،۷۳۰ معاملې په نغد ډول طی مراحل او ترسره شوي دي.

۳۷ جدول: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې انتقالي معاملې

| شمېر | | د انتقالي معاملو نوعیت | د فرمایشونو شمېر | ټولیزه انتقالي مبلغونه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د اسعارو انتقالي معاملې | ډالر(USD) | ۴۶۴۲۷ | ۷،۶۵۳،۵۶۶،۸۴۶.۸۰ |
| ۲ | | پونډ(GBP) | | ۷۳۰،۷۲۱.۷۰ |
| ۳ | | د اماراتو درهم(AED) | | ۱۳۵،۰۰۰.۰۰ |
| ۴ | | پاکستانی کلدارې(PRS) | | ۲۴،۶۹۸،۰۴۵.۰۰ |
| ۵ | | د استرالیا ډالر(AUD) | | ۴۵،۰۰۰.۰۰ |
| ۶ | | یورو | | ۱،۳۳۲،۸۸۵،۵۱۷.۹۹ |
| ۷ | | د معاملو په برخه کې انتقالي معاملې (افغانی) | | ۲۹۴،۴۳۴،۶۳۵،۷۹۰.۹ |
| ۸ | د افغانی انتقالي معاملې | د افغانی انتقالي معاملې (مرکز) | ۳۶۳۸۳ | ۵۸،۰۹۱،۹۳۸،۴۸۲.۷۵ |
| ۹ | | د افغانی انتقالي معاملې (ولایتونه) | ۱۵۳۵۶ | ۱۲۸،۳۰۸،۸۳۲،۸۲۴.۰۰ |
| ۱۰ | معاملې CLEARING house | ډالر | ۲۰۲۹ | ۱۰،۳۴۵،۷۱۶.۸۲ |
| ۱۱ | | افغانی | ۳۸۲۳ | ۴۸۴،۵۲۳،۹۹۶.۸ |
| ۱۲ | اسیکوډا | د مرکز او ولایتونو انتقالي معاملې | ۴۷۰ | * |
| ۱۳ | معاملې ACSS | ډالر | ۱۰۸۳ | ۵۱۸،۰۹۶،۷۳۳.۹۵ |
| ۱۴ | | یورو | ۵۱ | ۱۱،۴۷۸،۶۰۴.۴۱ |
| ۱۵ | | افغانی | ۱۰۱۴۳ | ۴۷،۹۱۰،۹۲۰،۸۷۸.۹۶ |
| ټولیزه انتقالي معاملې | | | ۱۱۴۶۱۲ | |

۳۸ جدول: د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې نغدي معاملې

| شمېر | | د انتقالي معاملو نوعيت | د نغدي معاملو شمېر | ټولیزه وارده مبلغونه | ټولیزه صادره مبلغونه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نغدي وارده او صارده معاملې | ډالر | ۸۱،۷۳۶ | ۱،۴۰۱،۱۱۰،۳۰۲.۱۷ | ۱،۴۹۳،۶۲۱،۳۸۴.۸۹ |
| ۲ | | یورو | | ۶۷،۶۵۶،۳۸۹.۰۰ | ۱۸،۲۴۷،۷۳۸.۰۰ |
| ۳ | | پونډ(GBP) | | ۶۰،۲۷۱.۰۰ | ۰.۰۰ |
| ۴ | | افغانۍ | | ۱۱۰،۹۲۶،۴۴۲،۶۷۲.۰۰ | ۱۰۲،۶۴۴،۷۳۷،۲۸۶.۰۰ |
| ۵ | | پاکستانی کلدارې | | ۳،۲۶۹،۲۰۰.۰۰ | ۳،۶۷۸،۰۹۹.۰۰ |

همدا ډول د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې دولتي ادارو، د ملي پيوستون پروګرام او د افغانستان بانک کارکوونکو ته د بانکي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه ۱،۱۰۸ بانکي حسابونه پرانيستل شوي او ماليې وزارت ته ۵،۷۱۷ جلده متفرقه چکبکونه او ۳۰۰،۰۰۰ قطعې کمپيوټري چکونه جوړ شوي او د هغوی په واک کې ورکړل شوي دي.

**ب: د خزانداری او د فزيکي پيسو د مديريت برخه**

د بانکي عملياتو لوی آمريت د سياليت د تأمينولو، دولت او نورو مشتريانو ته په خپل وخت د ورکړې په موخه ۷۲۴،۲۶۶،۲۵۰- اوه سوه څلورويشت ميليونه او دوه سوه شپږ شپېته زره او دوه سوه پنځوس امريکايي ډالره، /۳۰،۶۴۵،۲۷۰- دېرش ميليونه او شپږ سوه پنځه څلويښت زره او دوه سوه اويا يورو او ۴۷،۸۶۸،۴۷۹،۹۸۱- اووه څلويښت ميلیارده او اته سوه اته شپېته ميليونه او څلور سوه نهه اويا زره او نهه سوه يو اتيا افغانۍ له مرکز څخه ولايتونو او د هغه برعکس له سختو شرايطو سره سره ترسره شوي دي.

د مرکز او ولايتونو د پولي اړتياوو په پام کې نيولو سره د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ۲۱،۴۸۷،۹۸۰،۰۰۰- يو ويشت ميلیارده او څلور سوه اوه اتيا ميليونه او نهه سوه اتيا زره افغانۍ نوې پيسې په بېلابېلو انواعيو په پولي دوران کې شاملې شوي دي.

د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د زړو بانکنوټونو او جعلي پيسو د له منځه وړلو او سوځولو پروسه په لاره اچول شوې او د دې کال په اوږدو کې ۷۳۲،۰۵۰.۰۰۰- اووه سوه دوه دېرش ميليونه او پنځوس زره افغانۍ زاړه بانکنوټونه په بېلابېلو انواعيو سره، ۷۵۷،۸۰۰ – اووه سوه اوه پنځوس زره او اته سوه افغانۍ جعلي نوټونه، ۲۵،۱۵۰- پنځويشت زره او يو سلو پنځوس ډالره جعلي نوټونه او ۴۶،۰۰۰ شپږ څلويښت زره ساماني جعلي نوټونه سوځول شوي دي.

د اټکل شوي پلان سره سم، له هېواده بهر د سل ميلیارده افغانۍ په ارزښت له بېلابېلو انواعيو سره د افغانۍ د نوي بانکنوټونو د چاپولو قرار داد شوی دی چې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د لس ميلیارده افغانۍ په ارزښت (د ۱۰ افغانۍ، ۲۰ افغانۍ، ۵۰ افغانۍ او ۱۰۰ افغانۍ) بانکنوټونه له بهر څخه هېواد ته رالېږل شوي دي.

# اداره او پراختیا

# اداره او پراختیا

**د ټولو ناظر اداره**

د افغانستان بانک د قانون د یو ویشتمې مادې سره سم، د ټولو ناظر اداره د افغانستان بانک د احتمالي خطرونو د مخنیوی په موخه د کنټرولرو د وضع کولو او خوندیتوب ترڅنګ د مناسبو سندونو د ساتلو او د هغه پر تطبیق باندې د څارنې مسؤولیت په غاړه لري. په همدې ترتیب د افغانستان بانک د ادارې او کړنو دوامداره څېړنه، د افغانستان بانک د نافذه قوانینو او مقرراتو د رعایتولو څارنه، د څېړنو ترسره کول او د افغانستان بانک عالي شورا ته د هغه د راپور ورکول، د مالي صورت حسابونو او نورو اړوندو سندونو څېړنه او رسیدګي او د افغانستان بانک له قانون سره سم د سموالي (صحت) په صورت کې د تصدیق پاڼې صادرول، د افغانستان بانک د عالي شورا او عامل پلاوي د تصمیمونو له رغنده اجراء او سالم تطبیق څخه څارنه او د عالي شورا او لوی رئیس لخوا د نورو ورسپارل شویو دندو ترسره کول د ټولو ناظر د ادارې دندې ګڼل کیږي.

د ټولو ناظر ادارې د ۱۳۹۵ مالي کال له پلان سره سم د ریاست دفتر، لومړی معاونیت، دویم معاونیت، ښاري څانګې او د ولایتونو د نمایندګیو په شمول د افغانستان بانک ټولې شعبې د خطر پر بنسټ په دریو کټګوریو (لوړ، منځنی او ټیټ) ویشلي او د څېړنې اوو ټیمونو ته یې دندې سپارلي، څو د شعبو ټول اجراات وڅېړي او د کیفیت د تضمین سکشن د څېړنې د ټیمونو لخوا وړاندې شوې سپارښتنې له ټاکلې مودې وروسته تعقیبوي او د هغه د تطبیق او نه تطبیق له څرانګوالي څخه بیرته د داخلي څېړنې کمیټې ته راپور ورکوي. همدا ډول هغه څانګړې موضوعګانې چې د څېړنې پر مهال د ریاست د عالي مقام لخوا ورته ورکول شوي، د دې ادارې د پلټنې د ټیم لخوا تر څېړنې لاندې نیول شوي او د افغانستان بانک د اډیټ کمېټې او عامل پلاوي ته یې راپور ورکړل شوی دی.

د ټولو ناظر ادارې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ( د مرکزي شعبو، د ولایتونو د نمایندګیو او ښاري څانګو) د څېړنو لاندې د ۶۹ شعبو له ډلې څخه توانیدلې ۴۳ ساحې وڅېړي، ۸ ساحې تر څېړنې لاندې ونیسي او ۱۰ نورې شعبې د څېړنې په پلان کې راولي. د یادونې وړ ده، له دې ډلې ۵ ناامنه ساحې چې د څېړنې د پلاوي سفر هغه ولایتونو ته ستونزمن دی، له څېړنې پاتې دي.

د افغانستان بانک په بېلابېلو شعبو کې د افغانستان بانک د عالي شورا او عامل پلاوي د تصویبونو د تطبیق له څرنګوالي څخه چې ۳ دفترونه د ریاست عالي مقام، لومړی معاونیت او دویم معاونیت رانغاړي، څېړنه په دوامداره توګه جریان لري. په همدې ترتیب د ټولو ناظر د ادارې د پلټنې ټیم د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ۲۰ ځانګړې قضیې، د ریاست د عالی مقام او د عامل پلاوي لارښوونې تر څېړنې لاندې نیولې دي.

**د اسنادو او اړیکو آمریت**

د اسنادو او اړیکو آمریت د یوې ستراتیژیکې برخې په توګه د افغانستان بانک د نورو مهمو شعبو تر څنګ د دې بانک کړنې او لاسته راوړنې په بیلا بیلو برخو لکه؛ پولي سیاست، مالي نظام، د ادراینو سیستم او نورو ادارې- عملیاتي برخو کې منعکسوي.

د اسنادو او اړیکو آمریت د اداري دندو د پر مخ بیولو او د سندونو د طی مراحلو تر څنګ، د افغانستان بانک د اړیکو یوازینی مرجع هم ده چې خپلې کړنې د خپرونو او اړیکو د مدیریتونو په اډانه کې تنظیم او ترسره کوی. د لا وضاحت لپاره لاندې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د خپرونو او اړیکو د برخو تر سره شوې کړنې په لنډه توګه وړاندې کوو:

**خپرونې**

د اسنادو او اړیکو د آمریت د خپرونو مدیریت چې د چاپي خپرونو له لارې د افغانستان بانک کړنې منعکسوي، ټول هڅه کړې ده څو د روڼتیا د اصل په پام کې نیولو سره د بانک ټولې کړنې او لاسته راوړنې په بشپړه بې پلوۍ او شفافه توګه خپرې کړي. دې مدیریت د مجلې، انځوریزو رسالو او جزوو له لارې د افغانۍ د دودیدو او د بانکنوټونو د ساتلو په برخه کې د تبلیغاتو په خپرولو سره عامه ذهنونو هم روښانه کړي دي.

د ۱۳۹۵ مالی کال په ترڅ کې د آسنادو او اړیکو آمریت ترسره شوې کړنې په لاندې ډول په لنډه توګه ترتیب شوې دي دا مدیریت د ۱۳۹۵مالي کال په اوږدو کې توانیدلی دی چې د هېواد په دوو رسمي پښتو او دري ژبو د بانک د میاشتنۍ مجلې دولس ګڼې (چې داخلي او د نړۍ اقتصادي مقالې او د افغانستان بانک د رسمي غونډو راپورونه رانغاړي)، په دریو (پښتو، دري او انګلیسي) ژبو د ۱۳۹۴ کلنی راپور چې د پولي سیاست، بازار عملیات، ادایۍ سیستم، د افغانستان د بانکي نظام، د افغان امانتونو د بیمې، د افغانستان د معاملو او مالي راپورونو د څېړنې د مرکز، د عامه اعتبارونو د ثبت، د نړۍ د اقتصاد او ادارې او پراختیا کړنې رانغاړي، د هېواد په رسمي پښتو او دري ژبو د ۱۳۹۵ کال د لومړۍ او دویمې ربعې احصائیوي او اقتصادي بولټن چې د هېواد پولي او مالي مسائل او همدا ډول د نړۍ اقتصادي موضوعات رانغاړي، چاپ او ووېشي. دې مدیریت د پورته مواردو د چاپ او خپرولو ترڅنګ، په دیوالي او سرمیزي توګه د ۱۳۹۶ کال کلیزه، د افغانۍ د دودیدو په اړه جزوه او د بانکنوټونو د ترویج او سم ساتلو او مراقبت په برخه کې د افغانستان بانک د تبلیغاتي ابزارونو په توګه اعلانونه هم جوړ او خپاره کړي دي. د افغانستان بانک د شاوخوا ۲۰ رسمي غونډو (کنفرانسونو، د زړو پیسو د سوځولو د پروسو او له رسنیو سره د عامل پلاوي د مرکو) فلمبرداري او عکاسي، د خپرونو د مدیریت په نشراتي آرشیف کې د افغانستان بانک د ۱۳۹۵ کال په اوږدو کې د رسمي غونډو د ویډیوګانو آرشیفول، د ویډیویي کلیپونو او د افغانۍ د دودولو او ساتلو په اړه د خلکو د مرکو چمتو کول او همدا ډول په ارزونې لاندې کال کې فیس بوک، ټویټر او داسې نورو ټولنیزو شبکو لپاره د انځورونو برابرول د دې مدیریت کړنې ګڼل کیږي.

**اړیکې**

دې مدیریت د ۱۳۹۵ کال په اوږدو کې هڅه کړې، څو د چټکو او دقیقو اړیکو له لارې د افغانستان بانک عمومي موخې، دندې، سیاستونه او کړنې د افغانستان بانک د (داخلي او بهرني) ویب پاڼې، ټولنیزو شبکو لکه؛ فیسبوک، ټویټر، ګوګل پلس او یوټیوب او همدا ډول د کنفرانسونو، سیمینارونو او ورکشاپونو د جوړیدو له لارې عامه ذهنونو ته ورسوي. د دې ترڅنګ دې مدیریت د اړیکو د مدیریت د لینک د برخې له لارې د هېوادوالو ستونزو او شکایتونو حل ته رسیدګې کړې ده.

دې مدیریت د ۱۳۹۵ کال په اوږدو کې د ۵۰ غونډو له ډلې څخه په بېلابېلو مالي او بانکي برخو کې ۱۲ مطبوعاتي کنفرانسونه جوړ کړي او د بانکونو له رئیسانو او مالي ادارو سره ۱۵ د رهبري پلاوي غونډې، ۲۰ ورکشاپونه او سمینارونه او ۳ د عالي شورا غونډې تر خبري پوښښ لاندې نیولې دي، په ورته وخت کې په ځینو غونډو کې یې شاوخوا ۶۰ داخلي او بهرنۍ رسنۍ هم رابللي دي. دې مدیریت په دري، پښتو او انګلیسي ژبو شاوخوا ۱۰۰ خبرپاڼې چمتو او د ویب پاڼې او ټولنیزو شبکو لکه؛ فیسبوک، ګوګل پلس او ټویټر له لارې خپرې کړې دي.

دې برخې، د ۱۳۹۵ کال په اوږدو کې د افغانۍ د دودیدو او تبلیغاتو د طرحې په اړوانه کې په لګښتي او غیر لګښتي برخو کې یو لړ کارونه ترسره کړي او د هغه په پام کې نیولو سره یې د افغانۍ د دودیدو په برخه کې عامه ذهنونو روښانه کړي دي چې

تنویري پروګرامونه یې شاوخوا د ۲۰۰ پیغامونو جوړول او د ټولنیزو شبکو له لارې د هغه خپرول، د څلور انځوریزو او غږیزو اعلانونو او شاوخوا د ۱۰ مورده اعلانونو جوړول او په مرکز او ولایتونو کې د چاپي او انځوریزو رسنیو له لارې د هغه خپرول، رانغاړي.

دې مدیریت، هره ورځ د افغانستان بانک د info په آدرس شاوخوا څلور مواصلاتي ایمیلونه په بېلا بېلو برخو کې څېړلي او د مسئولینو له لارښوونې وروسته یې ځواب کړي دي. سربېره پر دې دې مدیریت هر ورځ په لسګونو خبري سایټونه، اقتصادي وبلاګونه او چاپي ورځپاڼې مانیټور کړي او خبرونه یې د داخلي سایت له لارې د اقتصادي مسائلو د پوهاوي په موخه د همکارانو په واک کې ورکړي. په ورته وخت کې دې برخې د ۱۳۹۵ کال په اوږدو کې د ټولنیزو شبکو او د افغانستان بانک د سایټ له لارې د اسعارو نرخ هره ورځ او د اسعارو د لیلام خبر په متواتره توګه خپور کړی او په متواتره توګه هره ورځ یې د اسعارو نرخ شاوخوا ۶۰ چاپي، انځوریزو او غږیزو رسنیو ته استولي دي. همدا ډول دې مدیریت په یاد کال کې د داخلي او بهرني سایټونو د منځپانګې په بډاینې هم کار کړی دی.

د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د اړیکو مدیریت په دري، پښتو او انګلیسي ژبو د بانکدارۍ یو شمېر مقررې، د بانک ۱۲ ګڼې مجلې، د پولي سیاست احصائیوي او اقتصادي بولټنونه، د ۱۳۹۴ کلنی راپور او داسې نور موارد د افغانستان بانک د کړنو او لاسته راوړنو په اړه د عامه پوهاوي په موخه په سایټ کې زیات کړي دي.

دا مدیریت د پورته کارونو سربېره، رسنیو ته د ایمیل له لارې د افغانستان بانک د لاسته راوړنو په اړه د معلوماتو د لېږدولو، د افغانستان بانک د داخلي او بهرني ویب پاڼو د مطالبو او منځپانګې د څارنې او په ټاکلي وخت کې د بانک د داخلي او بهرني ویب پاڼو د منځپانګې د اپډیټولو چارې پر مخ وړي. همدا ډول دا برخه د افغانستان بانک د نورو برخو په همکارۍ د ویب پاڼو د بډاینې ترڅنګ د عامل پلاوي غړو، آمریتونو او زونونو ته د اقتصادي مسائلو، سوداګرۍ او د پولي او مالي سیاستونو په اړه د خلکو د نظرونو د رسولو مسؤولیت پر غاړه لري. د دې ترڅنګ د افغانستان بانک د کارکوونکو د ظرفیت د ودې په موخه د بانک د داخلي ویب پاڼې له لارې د اقتصادي او مالي نویو او ښوونیزو معلوماتو د خپرولو، د بانکي نظام د خدمتونو په وړاندې کولو کې د خلکو ستونزو ته د لاسرسي، هېوادوالو په ځانګړې توګه هغه زده کړیالانو ته چې د اړیکو او یا د افغانستان بانک د رسمي ایمیل له لارې د همکارۍ او معلوماتو د ترلاسه کولو غوښتنه کوي، د افغانستان بانک په اړه د معلوماتو د وړاندې کولو په برخو کې هم کړنې ترسره کړي دي.

**د ژباړې بورډ**

د اسنادو او اړیکو آمریت دې لپاره چې د افغانستان بانک موخې، سیاستونه، دندې او لاسته راوړنې یې عامه خلکو او د افغانستان بانک شریکانو ته په ښه توګه رسولي وي، هڅه کړې ده، څو نشراتي او ارتباطي چارې په ملي ژبو (دري او پښتو) او انګلیسي ژبه وژباړي او د عامه ذهنونو د روښانه کولو لپاره یې خپرې کړي. د دې آمریت د ژباړې بورډ سربېره پر دې چې د نشراتي او ارتباطي موادو ( مجلې، کلنی راپور، اقتصادي او احصائیوي بولټنونو، ټولنیزې شبکې او داخلي او بهرني ویب پاڼو) له لارې د افغانستان بانک د اطلاعاتو او معلوماتو د خپرولو په برخه کې ښه همکار دی، د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې یې یو شمېر مقررې، پالیسۍ، قوانین، کړنلارې، تړون لیکونه او داسې نور اسناد هم ژباړلي دي.

**د حقوقي مشاوریت دفتر**

د حقوقي مشاوریت دفتر چې د افغانستان بانک د داخلي تقنیني سندونو، مقررو، پالیسیو او کړنلارو د طرحه کولو، تسوید،

تعدیل او طی مراحلو مسوولیت پرغاړه لري، د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د قوانینو او مقررو، پالیسیو او کړنلارو (د افغانستان بانک د کارکوونکو د حقونو مقرره، د الکترونیکي پیسو د لېږد مقرره، د ورکړې د خدمتونو د مجریانو مقرره، د افغانستان بانک د کارکوونکو د سفر د لګښت او شخصي مصارفو نوې مقررې، د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو د تنظیم په مقرره کې راوړل شوي تعدیلات، د مخنیوی کوونکو اقداماتو په مقرره کې وړاندیز شوي تعدیلات، د الکترونیکي پیسو د ادارې مقررې، د ښې ادارې مقرره او د پور ورکړې په مقرره کې د افغانستان بانک د عالي شورا له سپارښتنو وروسته) د طرحې او تعدیل په برخو کې بیلابیل فعالیتونه ترسره کړي دي.

**د بشري منابع لوی آمریت**

ګمارنې، د کارکوونکو د سوانحو ترتیب او تنظیم، تشکیلاتي جوړښت، د کارکوونکو د کاري ظرفیت د لوړولو په موخه د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول، د کړنو ارزونه، بدلونونه، تبدیلی، مکافات او مجازات او د کارکوونکو اړوند نور اداري مسایل د بشري منابع د لوی آمریت له دندو څخه ګڼل کیږي.

د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د تشکیلاتي جوړښت اصلاح او بیا کتنه، د بشري منابع د پروسې بریښنایي کول، د کارکوونکو د ځای ناستی د پلان جوړول، د روزنیزو پروګرامونو پیاوړتیا او پراختیا، له نورو بانکونو او روزنیزو مرکزونو سره د اړیکو ټینګول، د کارکوونکو د روغتیایي بیمې د میکانیزم طرح او جوړول، د ورزشي زمینو برابرول او د هڅوونکو پروګرامونو په لاره اچول د دې آمریت کړنې ګڼل کیږي چې لاندې په لنډه توګه ترې یادونه کوو.

۱- د تشکیلاتي جوړښت، معاشونو او د کارکوونکو د ظرفیت اصلاح او بیا کتنه: د تشکیلاتي جوړښت د کارکوونکو د ظرفیت د اصلاح او بیا کتنې پروګرام په ۱۳۹۵ مالي کال کې پیل او تر ۱۳۹۹ مالي کاله پورې به بشپړ شي. دا برخه د تشکیلاتي جوړښت ریفورم، د ظرفیت او کار اهل کار ته د سپارلو له مخې د آمریتونو ریفورم، د معاشونو ریفورم او د کاري پروسې ریفورم رانغاړي.

۲- د بشري منابع د کاري پروسې برېښنایي کول او په مرکز کې د برېښنایي حاضرۍ لګول: د بشري منابع برېښنایي کول په ۱۳۹۵ مالي کال کې پیل او د ۱۳۹۶ مالي کال تر پایه پورې به دوام ومومي چې د بشري‌منابعو د کاري بهیر ( ګمارنې، تقاعد، سوانحو، حاضرۍ، امتیازونو، روزنو او د اجرااتو د ارزونې) د برېښنایي کولو پرله پسې تطبیق او همدا ډول د برېښنایي حاضرۍ د سیستم لګول او فعالول رانغاړي.

۳- د کارکوونکو د ځای ناستی د پلان جوړول: دا فعالیت په ۱۳۹۵ مالي کال کې پیل شوی او پای یې ۱۳۹۶ مالي کال ټاکل شوې ده، خو د داخلي ستونزو له امله په دې برخه کې تر اوسه پورې کوم پرمختګ لیدل شوی نه دی.

۴- د روزنیزو پروګرامونو پیاوړتیا او پراختیا: د روزنیزو پروګرامونو پراختیا په ۱۳۹۵ مالي کال کې پیل او تر ۱۳۹۹ مالي کال پورې به بشپړ شي. د ویب پر بنسټ د روزنیزو پروګرامونو "هر چیرته چې یې وو‌ایه" پروګرام چمتو کول، د هېواد دننه له پوهنتونونو او انستیټیوټونو سره د اړیکو ټینګول او له هېواده بهر د لوړو زده کړو له ترلاسه کوونکو کارکوونکي سره همکاري او د حرفه یي رهبریت د پروګرامونو پرمختګ او پراختیا په دې پروګرام کې شامل دي.

۵- د لازمه روزنیزو اسانتیاوو د برابرولو په موخه له نورو مرکزي بانکونو سره د اړیکو ټینګول: دا پروګرام چې د روزنیزو فرصتونو د برابرولو په موخه په پام کې نیول شوی دی، د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې یې یوازې د افغانستان له بانکوالۍ او مالي انستیټیوټ سره هوکړه لیک لاسلیک کړی دی. ۱۴۴۵ تنه

ګڼون کوونکو له داخلي روزنيزو پروګرامونو او۹۰۶ تنه ګډون کوونکو له بهرنيو پروګرامونو څخه ګټه پورته کړې ده.

۶- د روغتيايي بيمې د ميکانيزم طرح او جوړول: د دې طرحې تطبيق په ۱۳۹۵ مالي کال کې پيل شوی دی. د روغتيايي بيمې د طرحې د پوهاوي په موخه د ورکشاپونو جوړول، د سروې په لاره اچول او همدا ډول د تدارکاتو له قانون سره سم د کارکوونکو د روغتيايي بيمې د تطبيق لپاره د تدارکاتي پروسې اجراء کول، د دې برخې له کړنو څخه ګڼل کيږي.

۷- د دې په پام کې نيولو سره چې د کارکوونکو روغتيا او سلامتيا د کار په ښه والي کې مهم رول لري، د بشري منابع آمريت دا کار له پام غورځولی نه دی او په دې برخه کې يې ګټور اقدامات ترسره کړي دي چې د اندام د ښکلا د کلپ، د فوټبال او کريکټ د ټيمونو جوړول او پراختيا رانغاړي.

۸- د هڅوونکو پروګرامونو په لاره اچول: له دې پروګرام سره سم، د کلنی ارزونې له مخې تر ټولو ښه کارکوونکي پيژندل شوي او د تقدير ليک، ستاينليک، منليک، بخششي معاشونو او داسې نورو په ورکولو سره ستايل شوي دي، د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د ښځينه کارکوونکو د هڅونې په موخه د ښځو د پيوستون له نړيوالې ورځې پرته بل پروګرام عملي شوی نه دی.

**د مالي نظام د ټينګښت پروژې**

اوس مهال په نړۍ کې د هر هېواد اقتصادي څرخ او وده د بانکونو لخوا په خوځښت راځي او بانکونه د هېوادونو په اقتصادي پرمختيا کې مهم رول لوبوي. په افغانستان کې يو شمېر سوداګريز بانکونه د افغانستان بانک تر څارنې لاندې د امانتونو د راټولولو، د هېواد دننه او بهر د پيسو د ليږدولو، متشبثينو ته د پورونو د اجراء کولو، ورکړو او نورو اسانتياوو په برخو کې د عصري سيستمونو په درلودلو سره فعاليت کوي چې د هېواد د اقتصاد په وده کې مهم رول لري.

د هېواد په مالي او بانکي نظام کې د پورته کړنو پلي کول له الکترونيکي او عصري سيستمونو پرته په معياري توګه شونې نه ده. په همدې بنسټ د ماليې وزارت، نړيوال بانک او د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د کاري ظرفيت د لوړولو، د ادارينزو سيستمونو او مالي بېخبنسټونو د تأسيسولو په موخه په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۱ کال کې درې اړخيزه هوکړه ليکونه لاسليک کړي دي، څو په بانکي نظام کې د بانکونو څېړنه، د ادارينو سيستمونو او مالي جوړښتونو جوړول او نصبول تطبيق شي.

له ۲۰۰۹ کال څخه د ۲۰۱۶کال تر پايه پورې په پورته برخو کې د پام وړ پرمختګونه راغلي دي چې په پايله کې يې د منقولو اموالو د ثبت سيستم، د عامه اعتبارونو د ثبت سيستم، د افغانستان بانک د بشري منابع آمريت د ميکانيزه کولو سيستم، د افغانستان د بانکدارۍ او مالي انسټيټيوټ تأسيسول او ملاتړ، د معلوماتي تکنالوژۍ د سيستمونو څېړنې لپاره د سلاکارانو ګمارل او د افغانستان بانک د بېلابېلو آمريتونو د کاري ظرفيت د لوړولو او د هېواد د ۱۰ سوداګريزو بانکونو د څېړنې لاسته راوړنې د اړوندو ادارو په واک کې ورکړل شوي دي. د مالي نظام د ټينګښت پروژې، د مالي سکتور د عاجل ځواب تر پروژې لاندې له کارت او موبايل سره د ورکړې سيستم جوړ او د افغانستان د ورکړې د سيستم ( AFGHANISTAN PAYMENT SYSTEM) په اداره کې يې نصب کړ چې د ۲۰۱۶ کال په لومړيو کې ګټې اخيستنې ته سپارل شوی دی. همدا ډول د افغانستان بانک د ادارينو د سيستمونو ( RTGS, CSD, ACH AND RELATED LINKAGES TO DAB )

د جوړيدو، نصب او پلي کولو لپاره تدارکاتي پروسه بشپړه او د ۲۰۱۶کال په اپريل مياشت کې يې له CMA SMALL SYSTEM رکت سره تړون لاسليک شوی دی چې د دې تړون ۴۰ سلنه کار پلي شوی او پاتې نور کار به يې د ۲۰۱۸کال تر جون مياشت پورې بشپړ شي.

د يادونې وړ ده چې پورته سيستمونه د لومړي ځل لپاره د هېواد په مالي او بانکي سکتور کې فعال شوي او ځينې يې د فعاليدو په حال کې دي. دې اداري د افغانستان بانک له قوانينو او مقررو سره سم پورته سيستمونه اړوندو آمريتونو ته سپارلي دي چې د دوي د تخنيکي او حقوقي برخو لخوا تطبيق او ساتل کيږي. همدا ډول د ۱۳۹۵مالي کال په اوږدو کې د حقوقي او تخنيکي نړيواله سلاکارانو لخوا د افغانستان بانک د ادابنيزو سيستمونو، د بازار عمليات او د مالي چارو د څارنې لپاره ځينې حقوقي او تخنيکي مقررې او کړنلارې جوړې او د اړوندو آمريتونو په همکارۍ نهايي شوي دي.

په ۱۳۹۵مالي کال کې دا اداره د مالي سکتور د عاجل ځواب تر پروژې لاندې د افغانستان بانک د آمريتونو په همکارۍ او همغږۍ وتوانيده څو د CBS د نوي سيستم د جوړيدو او نصب، د مهمو آمريتونو ميکانيزه کولو او د افغانستان بانک د آمريتونو د ظرفيت لوړولو لپاره له نړيوال بانک څخه د دويم ځل اضافي پيسې (۲۰ميليونه ډالره) تر لاسه کړي چې مالي او حقوقي هوکړه ليکونه يې د ماليې وزارت، نړيوال بانک او د افغانستان بانک ترمنځ لاسليک شوي دي.

**د راپور جزئيات:**

**په د افغانستان بانک کې د نړيواله حقوقي او تدارکاتي سلاکارانو ګمارل:** د ۱۳۹۵مالي کال په اوږدو کې د مالي نظام د ټينګښت د پروژو ادارې د مالي سکتور د عاجل ځواب تر پروژې لاندې د افغانستان بانک د ادابنو د سيستم او د مالي چارو د څارنې آمريت لپاره د حقوقي او مقرراتي اډانې د جوړيدو او تعديليدو په موخه حقوقي نړيوال سلاکار وګماره چې دې ادارې د دې پروژې په پلي کولو سره يو شمېر لاسته راوړنې درلودلې دي چې د اوسنيو مقررو د حقوقي اډانې څېړل او تعديلول، د REGULATION PAYMENT SYSTEM OPERATORS، PAYMENT SYSTEMS PROVIDERS REGULATIONاو RETAILS INSTRUMENTS REGULATIONحقوقي مقررو جوړول او ترتيبول يې ښې بېلګې دي.

همدا ډول د ۲۰۱۶کال په نومبر مياشت کې د مالي سکتور د عاجل ځواب تر پروژې لاندې د تدارکاتي چارو د پرمخ بيولو په موخه د تدارکاتو نړيوال سلاکار وګمارل شو.

**د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې آمريت د کاري ظرفيت لوړول:** دا چې د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د آمريت د کاري ظرفيت لوړول، د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژې د موخو يوه برخه ده، له همدې امله د افغانستان بانک د مالي نظام د ټينګښت د پروژو ادارې د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژې د لومړي ځل اضافي پيسو (فنډ) لاندې د دې آمريت د کاري ظرفيت د لوړولو لپاره د يو مشورتي شرکت د ګمارنې پروسه ترتيب او د ۲۰۱۴کال په پای کې ملي او نړيواله پرانيستې داوطلبۍ لپاره اعلان ته ورکړله چې په پايله کې ۳ مشورتي شرکتونه له ارزونې وروسته ډله بندي شول. اوس مهال د تړون د خبرو پروسه له UNICON LTD مشورتي شرکت سره بشپړه شوې او د تړون طرحه د تدارکاتو د ملي ادراې له لارې د نړيوال بانک د منظورۍ د ترلاسه کولو په موخه استول

شوې چې تمه کیږي د ۲۰۱۷کال په سپټمبر میاشت کې د نړیوال بانک لخوا منظور شي.

**د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستم جوړول او نصبول( Public Credit Registry):** څرنګه چې سوداګریز بانکونه او مالي مؤسسې د هېواد د اقتصاد ځانګړې برخه جوړوي، په همدې بنسټ د هېواد په اقتصاد کې مالي پیسو ته د دوی لاسرسي د معتبره اعتباري معلوماتو ته اړتیا ده. د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم له لارې اعتباري راپورونه مالي مؤسسو لپاره کره او چټک معلومات برابروي، څو بانکونه او مالي مؤسسې په کمه موده کې له پور ورکولو مخکې ښه او بد مشتریان تفکیک او معقوله پریکړه وکړي.

د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د کریډټ انفو شرکت لخوا په ۱۳۹۳کال کې جوړ او په د افغانستان بانک کې نصب شو چې اوس مهال دې اداري د هغه سیستم د ساتلو او مراقبت په موخه له پورته یاد شوي شرکت سره خدماتي هوکړه تمدید کړې ده. اوس مهال د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم په هېواد کې مالي پیسو ته د لاسرسی اسانتیاوې زیاتې کړي او هغه مشتریان چې د مالي پیسو غوښتنې لري د دې سیستم له خدمتونو څخه ګټه پورته کولای شي. د دې ترڅنګ دا سیستم له بانکونه او مالي مؤسسو سره د پور ورکولو په کره پریکړه کې مرسته کوي او ورته په کره او چټکه توګه اعتباري معلومات برابروي. همدا ډول مخکې د مالي ټینګښت د پروژو اداري د عامه اعتبارونو د ثبت د آمریت په همغږۍ او د IFC ادارې په تخنیکي همکارۍ سره حقوقي اړانه او د اړتیا وړ مقررات ترتیب، تعدیل او نهایي کړي ؤ.

**د منقولو اموالو د ثبت د سیستم جوړول او نصبول( COLLATERAL REGISTRY):** د هېواد د اقتصاد وده په کوچنیو او منځنیو پانګونو ( SMALL AND MEDIUM ENTERPRISES) او پورونو پورې تړاو لري او د قوانینو او د منقولو اموالو د ثبت د سیستم اغیزناکه کارونه هم لازمه ګڼل کیږي. اوس مهال خوندي معاملو لپاره د قوانینو او منقولو اموالو د ثبت د سیستم پلي کول د هېواد په اقتصادي وده باندې د پام وړ اغیزې لري.

د هېواد د اوسني اقتصاد د اړتیاوو په پام کې نیولو سره، په ۲۰۱۱زیږدیز کال کې د افغانستان بانک د مالي سکتور د ټینګښت تر پروژې لاندې د منقولو اموالو د ثبت د سیستم جوړېدو او نصبولو په موخه له PARADIGM APPLICATION LLC شرکت سره تړون لاسلیک او تطبیق کړ چې اوس مهال دې اداري د هغه سیستم د ساتلو او مراقبت لپاره له پورته یاد شوي شرکت سره د خدمتونو د هوکړې د تمدید پروسه تر وروستي پړاوه رسولې ده.

**د افغانستان بانک د بشري منابع د آمریت میکانیزه کول:** دې اداري د ۱۳۹۵مالي کال په اوږدو کې د حاضرۍ د سیستم تدارکاتي پروسه بشپړه او د افغانستان بانک د بشري منابع د میکانیزه کولو( AUTOMATION OF HR DEPARTMENT) په موخه یې د اړتیا وړ سختکالي (هارډویر) د جوړېدو او نصبولو لپاره له SKILL TREE GROUP شرکت سره تړون لاسلیک کړ چې یاد سختکالی (هارډویر) نصب شو. د یادونې وړ ده چې د بشري منابع آمریت لپاره یې د HRMS پوستکالی هم د مالي نظام د ټینګښت تر پروژې لاندې دVIRMATIشرکت لخوا جوړ کړی ؤ.

**د افغانستان د بانکدارۍ او مالي انستیتیوټ ( AFGHANISTAN INSTITUTE OF BANKING AND FINANCE):** د افغانستان د بانکدارۍ

او مالي انسټيټيوټ د افغانستان بانک لخوا د مسفاء اداري او د افغانستان د بانکونو د ټولنې( AFGHANISTAN BANKING ASSOCIATION) په همکارۍ د افغانستان د مالي او بانکي سکتور لپاره د تعليمي خدمتونو، روزنيزو او څېړنيزو پروګرامونو د وړاندې کولو په موخه تأسيس شوی دی. د پورته ياد شوي انسټيټيوټ ملاتړ د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژې يوه برخه ده. د درې مياشتنيو راپورونو له مخې، دې انسټيټيوټ له تأسيسيدو څخه د ۲۰۱۷کال تر دويمې ربعې پورې په ټوليزه توګه د سوداګريزو بانکونو او کوچنيو مالي مؤسسو ۵۹۲۶ تنه کارکونکي او داسې نور کار زده کوونکي چې ۱۲۸۶تنه يې ښځينه کارکونکي رانغاړي، په بېلابېلو عملي پروګرامونو کې روزلي دي.

**له کارت او مبايل سره د ورکړې د سيستم جوړول او نصبول ( NATIONAL CARD AND MOBILE PAYMENT SWITCH)**: د ورکړې د ملي سيستمونو جوړول او عصري کول د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژو دويمه او مهمه برخه ګڼل کيږي، ځو د هغه په پلي کيدو سره په ملي او نړيواله ورکړو کې بشپړه چټکتيا او روڼتيا رامنځ ته شي او اوسنۍ ستونزې چې د پيسو د فزيکي جريان له امله پيدا شوي، راکمې کړي. د ۲۰۱۳کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د دې اداري تر پروژې لاندې او د تدارکاتي پروسې له بشپړيدو وروسته د افغانستان د ورکړې د سيستم اداري( AFGHANISTAN PAYMENTS SYSTEM, APS) لپاره له کارت او مبايل سره د ورکړې د سيستم د جوړولو، نصبولو او پلي کولو په موخه له BANKINGPRODUCTION CENTER, BPC شرکت سره تړون لاسليک کړ. دا سيستم د ياد شرکت لخوا جوړ، نصب او د يو رسمي غونډې په اوږدو کې افتتاح او ګټې اخيستنې ته وړاندې شو. اوس مهال دې اداري د ياد سيستم د ساتلو او مراقبت د خدمتونو د هوکړې د نهايي کولو پروسه له قراردادي شرکت سره پيل کړې ده. دې اداري د ۲۰۱۳کال په اوږدو کې د تدارکاتو او د سيستمونو د تطبيق په پروسه کې د تخنيکي همکارۍ د برابرولو په موخه نړيوال تخنيکي سلاکار ګمارلی ؤ چې تړون يې د ۲۰۱۶کال د ډيسمبر په ۳۱نېټه بشپړ شو.

**د افغانستان بانک د ادارنو د سيستمونو**( RTGS, CSD, ACH AND DAB RELATED LINKAGES) **جوړول او نصبول:** د افغانستان د ورکړو د ملي سيستمونو د عصري کيدو په لړ کې د افغانستان بانک د ادارنو د سيستمونو ( RTGS, CSD, ACH AND DAB RELATED LINKAGES) جوړول او نصبول هم د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژې مهمه برخه ده چې د هېواد په مالي او بانکي سيستم کې حياتي او مهمه برخه ګڼل کيږي.

هغه تدارکاتي پروسه چې په همدې موخه د دې اداري لخوا په ۲۰۱۲کال کې پيل شوې وه، د ګمارل شوې کمېټې لخوا د دوو پړاوونو ( تخنيکي ارزونې او مالي ارزونې ) په پايله کې د CMA SMALL SYSTEMS شرکت د تړون ګټونکی اعلان شو او د ۲۰۱۶کال په اپريل مياشت کې د افغانستان بانک د مالي سکتور د عاجل ځواب تر پروژې لاندې يې د افغانستان بانک د ادارنو د سيستمونو (RRGS, CSD, ACH) د جوړيدو، نصب او تطبيق په موخه له CMA SMALL SYSTEMSشرکت سره تړون لاسليک کړ چې تر اوسه پورې يې ۴۰سلنه کار پلي شوی او تمه کيږي چې پاتې کار به يې د ۲۰۱۸کال د جون تر مياشتې پورې بشپړ شي.

باید وویل شي چې د پورته پروسې ځانګړې موخه د ورکړې د سالم، خوندي ملي سیستم جوړول او نصبول، له احتمالي خطرونو څخه مخنیوی او کنټرول او دولت، مالي سکتور او له دې لارې خلکو لپاره په خپل وخت د اغیزناکه، اعتماد وړ او له نړیواله معیارونو سره برابر د کورنیو او بهرنیو ادainیزو خدمتونو وړاندې کول او همدا ډول د تکنالوژیکي بدلونونو او عامه ګټو په پام کې نیولو سره د ورکړې د کورني سیستمونو پراختیا ګڼل کیږي. دا سیستم د ملي اداینو او د هغه د تصفیې په برخو کې فعاله او حیاتي ونډه لري چې د افغانستان د اقتصاد په وده او د مالي او بانکي نظام په پیاوړتیا کې به مهم رول ولوبوي.

**د افغانستان بانک مرکزي بانکي سیستم ( CORE BANKING SYSTEM):** په دې وروستیو کې د افغانستان بانک ګمارل شوې تخنیکي کمېټې، د اوسني CBS سیستم څېړنه او ارزونه بشپړه کړې چې د هغه پر بنسټ او د افغانستان بانک د مالي او بانکي نظام د اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو په پام کې نیولو سره له نړیوالو معیارونو سره برابر د نوي مرکزي بانکي سیستم د جوړولو او نصبولو وړاندیز کړی او د افغانستان بانک لپاره د نوي مرکزي سیستم د ارزونې سندونه یې جوړ او د منظورۍ په موخه یې نړیوال بانک ته استولي دي. څکه چې د مالي سکتور د عاجل ځواب پروژې د CBSد نوي سیستم د جوړیدو او نصبولو لپاره کافي بودجه نه درلوده، چې دا موضوع په عمومي توګه د اضافي پیسو د ترلاسه کولو په موخه له نړیوال بانک سره شریکه او منظور شوې ده. د پرله پسې غونډو په پایله کې نړیوال بانک پریکړه وکړه څو د CBS نوي سیستم او داسې نورو د اړتیا وړ سیستمونو د تمویل په موخه ۲۰میلیونه ډالره اضافي پیسې منظور کړي. د FSRRP پروژې ته د دویم ځل اضافي پیسو (۲۰میلیونه ډالرو) لپاره مالي او حقوقي هوکړې د مالیې وزارت، نړیوال بانک او د افغانستان بانک ترمنځ لاسلیک شوې او تمه کیږي چې د دې سیستم د تدارک پروسه په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې پیل شي.

**د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت**

د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت د افغانستان بانک له مهمو آمریتونو څخه ګڼل کیږي چې په بریښنایي ډول د تکنالوژیکي اسانتیاوو د برابرولو او د بانکي سیستمونو لکه؛ Core Banking Solutions، SWIFT، ACSS, AFTS, Auction د عصري کولو په برخه کې مهم رول لوبوي. دا آمریت په عصري تکنالوژۍ سمبال دی او د خپلو ابزارونو له لارې له نړیواله پرمختګونو سره سم د افغانستان بانک د سیستمونو د اتوماتولو په برخه کې ډېرې اسانتیاوې برابروي.

د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت بېلابېلې برخې لري چې هر برخه یې د ځانګړې دندو لرونکې ده. دلته د هرې برخې د ۱۳۹۵ کال کړنې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

**د شبکې مدیریت:**

د شبکې مدیریت د دې آمریت له مهمو برخو څخه ګڼل کیږي چې د شبکې او انټرنټ مدیریت په غاړه لري. د ۱۳۹۵ مالي په اوږدو کې په معیاري توګه د نوي ډیټاسنټر جوړول، د مرکزي بریښنا او د یخوونکي سیستم جوړول او د جلال آباد، کندهار او نورستان په نمایندګیو او نوي تأسیس شویو ښاري ځانګو کې د شبکې او انټرنټ فعالول، د دې مدیریت لاسته راوړنې ګڼل کیږي.

**د معلوماتو د ساتنې مدیریت:**

د معلوماتي تکنالوژۍ د آمریت یو بله برخه د معلوماتو د ساتنې مدیریت دی چې په مرکز او د ولایتونو په نمایندګیو کې د افغانستان بانک د شبکې، سرورونو، ویب پاڼو او داسې نورو

سیستمونو د امنیت مسؤولیت په غاړه لري. د شبکې د لا ښه امنیت په موخه د کاري پالیسیو او کرنلارو ترتیبول او د ټولو بانکي سیستمونو او شبکې مانیټورینګ د دې مدیریت دندې ګڼل کیږي. دې مدیریت د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي: د معلوماتي تکنالوژۍ د عمومي پالیسۍ نوي کول، د Change Management د پالیسۍ ترتیبول، د(BCP) Business Continuity Plan پالیسۍ ترتیبول، د Equipment Disposal Policy پالیسۍ ترتیبول، د مانیټورنیګ د یو منظم سیستم نصبول، له نوي وایروسونو لکه: Ransomwar,Phishing, warm malware etc... څخه د افغانستان بانک د سیستمونو د فایلونو د ساتلو په موخه د انټي وایروس د پالیسیو نوي کول او د ISO ۲۷۰۰ په معیار سره د معلوماتي تکنالوژۍ د آمریت د بیلابېلو برخو تفتیش (Audit) کول.

**د اپلیکشنونو مدیریت:**

دا مدیریت د افغانستان بانک د اړتیا وړ سیستونو لکه: Auction, ACSS, DAB Website او داسې نورو سیستمونو د ترتیبولو مسؤولیت په غاړه لري. د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د دې مدیریت لاسته راوړنې له افتونو څخه د خوندیتوب په مرکز کې د افغانستان بانک د سیستمونو ازمایښت، د Auction او Exchange rate د سیستمونو پراختیا او د PAT2 سیستم نصبول او فعالول ګڼل کیږي.

**د ډیټابیس برخه:**

دې برخې د افغانستان بانک ټول ډیټابیسونه مدیریت کړي او ډیټابیسونه د افغانستان بانک له اړتیاوو سره سم ترتیبوي. دې برخې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې لاندې دندې ترسره کړي دي:

- په نوي موډل باندې د CBS د ډیټابیسونو د سرور بدلون چې د لوړ کاري ظرفیت لکه؛ RAM, Processor او Hard Disk Drive (HDD) لرونکی دی.
- له افتونو څخه د شته سیستم د مخنیوۍ لپاره په مرکز کې د CBS د ډیټابیسونو د Physical Clustering سرور نصبول او فعالول.
- د سیستم له منابعو لکه؛ RAM، Processor، Hard Disk Drive (HDD) څخه د ګټې اخیستنې په موخه د ۲۰۱۲ سرور د Hyper-V وینډوز د ځانګړنې په کارونې سره د بانکي اپلیکیشنونو او ډیټابیسونو د ډېرو سیستمونو مجازي کول.
- د CBS سرورونو لپاره له افتونو څخه د خوندیتوب په دوو ویب پاڼو کې دAdditional Domain Controller جوړول او د بک آپ DC لپاره د هغه یو ځای کیدل.
- د ۲۰۰۸ سرور له وینډوز څخه ۲۰۱۲ سرور وینډوز ته د Domain Controller لوړول.
- د سرورونو د مهمو او امنیتي اپډیټونو (Update) د اداري او تنظیمولو لپاره په مرکز کې د Replica له یو سرور سره د WSUS او له افتونو څخه د خوندیتوب په دوو ویب پاڼو کېDownstream WSUS نصبول او فعالول.

**د سویفټ برخه:**

دا برخه د نړیواله ادواینو د سیستم (سویفټ) له برخې سره چې په د افغانستان بانک کې مهمه برخه ګڼل کیږي، همکاري کوي. د سویفت سیستم د بهرنیو معاملو، د دولتي ادارو، نړیواله مالي مؤسسو وارده او صادره معاملو او لیږدونو لپاره کارول کیږي چې د ټولو تخنیکي مواردو ساتنه یې اړینه ده. دې برخې د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې لاندې کړنې ترسره کړي دي:

- د سویفت په سرورونو کې د Deploying) Alliance Web platform) نصبول او تنظیم چې یوزرونه کولای

شي د Browser له لارې یاد سیستم وکاروي. همدا ډول په (Web Platform) سیستم بانډې د (Workstation) پخواني سیستم بدلول.

- د سویفټ سیستم د لا ساتنې لپاره د Alliance Security نصبول
- د Web Platform او AFT لپاره د سویفټ د ازمایښتي سرور فعالول چې له دې لارې کولای شو د سویفټ ټول تخنیکي او عملیاتي کارونو په ازمایښتي توګه ترسره کړو.
- د Juniper VPN Box او SSL-VPN Connectivity سیستمونو بیا فعالول

باید یادونه وشي چې د معلوماتي تکنالوژۍ آمریت د مرستې د میز، سخت کالي او ایمیلونو برخې تخنیکي دي چې د مرکز او د افغانستان بانک د زونونو کارکوونکو ته یې په تکنالوژیکي برخو کې اسانتیاوې برابرې کړي دي.

**د مالي خطرونو د ادارې لوی آمریت**

که څه هم مرکزي بانکونه په ټولیزه توګه د مالي او عملیاتي خطرونه په له منځه وړلو توانیدلي نه دي، خو د اوسنۍ نړۍ د پیچلو او بې ساري خطرونو د کچې د کموالي په برخه کې د واک لرونکې وروستۍ مرجعې په توګه کولای شي اغیزناکه اقدامات او موثرې تګلارې تر لاس لاندې ونیسي او د خطرونو د ادارې لپاره یوه پراخه اډانه چمتو کړي.

د افغانستان بانک په هېواد کې د مالي سیستم د پیاوړتیا او ټینګښت په موخه او د پیسو د نړیوال صندوق د وړاندیز له مخې د ۲۰۰۸ کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه د افغانستان بانک په تشکیلاتي اډانه کې د مالي خطرونو د ادارې آمریت تأسیس کړ.

د مالي خطرونو ادارې په لومړي قدم کې د خطرونو هغه ډولونه چې بانکونه د پولي سیاستونو د طرحې، تطبیق او اجراء، د اسعاري زېرمو د کنټرول او ادارې، د بانکنوټونو د خپرولو او چاپ، د هېواد د مالي نظام د څارنې، د دولتي مؤسسو، بانکونو او نورو جواز لرونکو مالي مؤسسو او یا هم د نورو بنسټیزو کړنو د پرمخ بیولو په برخه کې ګواښې؛ پېژني او بیا یې ارزوي او وروسته د یادو خطرونو د کمولو او مخنیوي لپاره کاري پلان ترتیبوي.

**د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې د مالي خطرونو د ادارې کاري اجراات**

د مالي خطرونو اداره چې د افغانستان بانک د خطرونو د ډولونو د پیژندلو، ارزولو، کنټرولولو، کمولو او مخنیوي مسؤلیت په غاړه لري، د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې په خپل کلني پلان کې د اصلي موخو ( د مالي سکتور د پرمختیا او پراختیا، د معلوماتي سیستم د ښه والي او پراختیا او د ظرفیت د لوړولو ) د تحقق لپاره ۸ موخې ټاکلي دي او د هغه د ترلاسه کولو لپاره یې بېلا بېلې کړنې طرحه کړې دي. د یادو موخو ډېری برخې عملي شوي دي، خو د ځینو موخو برخې د ننګونو او ستونزو له امله بشپړې شوي نه دي چې هغه د راتلونکي کال په پلان کې شاملې شوي دي.

د بانک د سیاستونو په اړه د ذینفع شریکانو د لا معلومات لپاره یادې موخې هر یو په جلا جلا ډول لاندې وړاندې کیږي.

۱. د اوږد مهاله ستراتیژیک پلان طرح او جوړول چې په راتلونکو دریو کلونو کې د دې ادارې ستراتیژیک پروګرامونه رانغاړي: له هغه ځایه چې د مالي خطرونو اداره د هېواد په بانکي نظام او د افغانستان بانک کې یوه نوې برخه ګڼل کیږي، اړتیا لیدل کیږي چې د دې ادارې د کړنو لر لوری او د لارې نقشه د اوږد مهاله موخو تر عملي کیدو پورې په یو سند کې چمتو شي. په همدې بنسټ د خطرونو د ادارې نوي ټیم دا موضوع په خپل کاري لومړیتوب کې ونیوله او د دې ادارې د ستراتیژیک پلان

سند يې جوړ کړ.

۲. د خطرونو په اداره کې د يو تن سلا کار د ګمارنې د پروسې بشپړول: له هغه ځايه چې د مالي او غير مالي خطرونو د ادارې بحث په افغانستان کې يوه نوې پديده ده او په دې برخه کې متخصصين او کار پوهان شتون نه لري، نو په هېواد کې د خطرونو د ادارې د سيستم د بېخبنسټونو د جوړولو او رغولو په موخه د يو تن بهرني سلاکار ګمارنه مهمه اړتيا وه. له نيکه مرغه د تير کال په اوږدو کې درې ځله د دې پروسې له عملي کولو وروسته چې سلا کار لپاره د TORجوړول او نهايي کول، د ياد بست اعلانول، د CV يانو راټولول، فلټرنګ، د مرکو په لاره اچول رانغاړي؛ د FSRRP په همکارۍ او نړيوال بانک په مالي ملاتړ سره دا کار عملي شو او يو تن سلاکار دې ادارې ته وګمارل شو چې د ۱۳۹۶ کال له پيل څخه به دې ادارې سره همکاري کوي.

۳. له نړيوال منل شويو معيارونو او اصولو سره سم د دې ادارې د کړنو او اجرااتو په موخه د خطرونو د ادارې د کاري تګلارې ترتيبول او جوړول، څو د هغه په رڼا کې له يوې خوا د دې ادارې ستراتيژيکې موخې پلي شي او له بلې خوا له نورو شعبو په ځانګړې توګه د ټولو ناظر ادارې سره دنده ايزې مداخلې را منځته نه شي.

۴. د مالي او غير مالي بېلابېلو خطرونو په برخو کې د پاليسيو طرحه او جوړول، د هغوي د نيمګړتياوو او ستونزو د پېژندلو په موخه د افغانستان بانک د ادارو د پاليسيو، کړنلارو او مقررو څېړنه او مطالعه او د وړانديزونو او اړونده حل لارو وړاندې کول او د هغه له تطبيق څخه د ډاډ تر لاسه کول چې دې موخو تر يوه بريده پرمختګ کړی، خو بشپړې شوې نه دي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د کړنو په برخه کې درج شوي، څو يې کار د مالي کال په لومړی نيمايي کې بشپړ شي.

۵. د داخلي او بهرني روزنيزو پروګرامونو له لارې د کارکوونکو د تخصصي او مسلکي ظرفيتونو لوړول چې له دې ډلې کولای شو د خطرونو د ادارې ټولو کارکوونکو لپاره په مرکزي بانکونو کې د امريکا د متحده ايالاتو د همکاريو د ادارې /USAID FAIDAپه مرسته د ۵ اونيزه پروګرام په لاره اچول، په امريکا کې د دې ادارې دوه تنه کارکوونکو لپاره د اسعاري زېرمو د خطرونو د مديريت په اړه اونيزه پروګرام، د چين هېواد په يو مياشتني روزنيز پروګرام کې د دې ادارې د دوه تنو کارکوونکو ګډون او په نورو داخلي او بهرنيو روزنيزو پروګرامونو کې له ګډون څخه يادونه وکړو.

۶. د خطرونو د ادارې د کارکوونکو د دندو د لايحو بيا کتل او ترتيبول

۷. د بشري منابع د لوی آمريت په مشوره د دې ادارې د جوړښتي چارټ بيا کتل او ترتيبول او په هغه کې د اړينو اصلاحاتو راوستل

۸. د افغانستان بانک په کچه د خطرونو د ادارې د کميټې ( Risk Management Committee) د جوړيدو لپاره د لاربښوونې چمتو کول چې د مسلکي سلاکار د نظر له اخيستلو وروسته چې تمه کيږي په راتلونکې کې به خپل کار پيل کړي، د افغانستان بانک عالي شورا ته د تصويب په موخه وړانديز شي. د دې کميټې جوړول به مرسته وکړي، څو د خطرونو د ادارې د راپور ورکونې سيستم له نړيوال منل شويو معيارونو سره سم تنظيم شي او له امله به يې د افغانستان بانک په کچه د خطرونو د ادارې يو ځواکمن سيستم رامنځته شي.

د خطرونو د ادارې د کاري ماهيت په پام کې نيولو سره د بنسټيزو کړنو ترسره کول د افغانستان بانک په کچه د خطرونو د ادارې د يو پياوړي سيستم د جوړيدو لامل کيدای شي، دې ادارې د افغانستان بانک په کچه په يو لړ کاري کړنو او پروسو

کې هم فعالیت کړی دی چې عمده بېلګې یې په لاندې ډول دي:

۱- د اسعارو د لیلام په پروسه کې فعاله او دوامداره ونډه درلودل

۲- د افغانستان بانک د اسعاري زېرمو د اغیزناکه او منظمه مدیریت په موخه د پانګه اچونې د کمیټې په غونډو کې فعاله او دوامداره ګډون

۳- د هېواد د جواز لرونکو بانکونو د مهم کارکوونکو د مرکو په کمېټه کې دوامداره او فعاله ونډه درلودل

۴- د افغانستان بانک د کارکوونکو د اجرااتو د ارزونې په کمیټه کې غړیتوب چې په کې د کارکوونکو کلنۍ کړنې تر ارزونې لاندې نیول کیږي.

۵- د افغانستان بانک کارکوونکو ته د پور ورکونې په کمېټه کې غړیتوب او په هغه کې فعاله ونډه درلودل

۶- د هر اړخیزې څېړنې په ترتیبولو او جوړولو کې د فعاله رول درلودل او د سوداګرۍ او بانکي خدمتونو تمویل ته پراخه لاسرسي

۷- د بشري منابع په کمېټه کې غړیتوب او په هغو غونډو او مرکو کې چې د افغانستان بانک په تشو بستونو کې د وړ اشخاصو د ټاکنې په موخه په لاره اچول کیږي، دوامداره ګډون

۸- د زړو پیسو د سوځیدو او د نامناسبو پیسو د بدلیدو د کړنلارو په جوړیدو کې ونډه اخیستل

۹- د یو شمېر موضوعاتو او سیستمونو په اړه د عمل د ځانګړو څیړنو په لاره اچول چې مهمه اړتیا لیدل کیږي، څو په د افغانستان بانک کې د تطبیق لاندې ونیول شي چې له دې ډلې کولای شو په بیړنیو (اضطراري) حالاتو کې د فعالیت د دوام پلان، د خسارې د جبران پلان، د نقدینه ګۍ احتیاطي پلان، په نورو هېوادونو په ځانګړې توګه مرکزي بانکونو کې د خطرونو د اداري موډلونه، د مالي او غیر مالي خطرونو د مدیریت د موضوعاتو په اړه د بېلابېلو څېړنو په لاره اچولو څخه یادونه وکړو.

۱۰- د افغانستان بانک د مشر تابه پلاوي په لارښوونه د بانک د مهمو او ستراتیژیکو پریکړو په اړه د مشورو او رایو ورکولو په موخه د افغانستان بانک په بېلابېلو غونډو، کمیټو او نورو کاري پروسو کې ګډون کول.

د خطرونو د اداري کاري ټیم ژمن دی، څو د دې اداري تګلاره، لوری او راتلونکی په روښانه توګه ترسیم کړي، څو له اړوندو نورو شعبو سره د کاري لاسوهنو مخه ونیول شي، د هغه په رڼا کې د دې اداري پلانونه او پروګرامونه عملي، د خطرونو اداره په یوې معیاري شعبې بدله او د هغه ځای او رول په د افغانستان بانک او د هېواد په مالي نظام کې تثبیت کړي چې په دې برخه کې بې له شکه د افغانستان بانک د مشر تابه پلاوي ملاتړ او لارښوونه په راتلونکي کې د دې ټیم د بریالیتوبونو ضمانت کوي.